

# پیوستون، پیاوړتیا او زړورتیا:

## په افغانستان کې د ښځو سیاسی ګډون

انا لارسن، نواه کوبورن

تله ۱۳۹۹

UN WOMEN

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

څېړنپاڼه

# پیوستون، پیاوړتیا او زړورتیا:
# په افغانستان کې د ښځو سیاسي ګډون

انا لارسن
نواه کوبورن

تله ۱۳۹۹

ژباړه: سید رحمان

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۴۹-۵

د خپرونې کوډ ۲۰۰۴ پ

د پوښ انځور: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

©۱۳۹۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او د ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ

دغه خپرونه کیدای شي یواځې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. په دې څېړنه کې بیان شوي نظرونه د لیکوالانو دي او د AREU، ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ (UN Women)، د ملګرو ملتونو سازمان یا هغې پورې د اړوندو ادارو نظر نه څرګندوي.

که چیری دغه خپرونه بیا چاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې اداری جایزه ګټونکی شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویډن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The French Medical Institute for mother and children (FMIC), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), and UN Women.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لري:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

Prospect Think Tank Awards
WINNER
International - Social

UN Women د ملګرو ملتونو سازمان د ښځو د جنډر د مساوات او ځواک جوړولو لپاره ځانګړې شوی اداره ده. UN Women په نړیواله سطحه د ښځو لپاره د یو اتل په صفت رامنځته شوې تر څو په نړیواله سطحه د دوی اړتیاوو په اړه ناستې ګړندي شي

# د لیکوالان په اړه

**انا لارسن**

ډاکټره انا لارسن یوه خپلواکه څېړونکې ده، او له ۲۰۰۵ زېږدیز کال راهیسې په افغانستان کې د سیاست؛ ډیموکراتیک جوړونې او صلح په برخه کې لیکنې کوې. آغلې له نواه کوبورن سره په افغانستان کې «د ډیموکراسۍ په پرېښودو کې: ټاکنې په یوه بې ثباته منظر کې» (کلمبیا. ۲۰۱۴)، همکاره لیکواله پاتې شوې ده. او د جګړې وروسته رغونه کې د یارک له پوهنتون څخه د PhD درلودونکې ده.

**نواه کوبورن**

نواح کابورن په Bennington کالج کې سیاست پیژندونکی دی چې تمرکز یې افغانستان او جنوبی آسیا ده، د تاوتریخوالي، حکومتداری او څرنګه خلک د سیاست، قدرت او کلتور تداخل په اړه خبری کوی په مطالعې باندی بوخت دی. هغه په کابل کې دامریکا د متحده ایالاتو د سولې له انسټیټوټ سره کار کړې همدارنګه د آغا خان له دفتر سره یې هم کار کړی ده. په AREU کې د څوګونو ټاکنیزو حلقو کې یې څېړنه کړې او له آنا لارسن سره «په افغانستان کې د ډیموکراسۍ په پرېښودو کې: ټاکنې په یوه بې ثباته منظر کې» (کلمبیا. ۲۰۱۴)، لیکوال پاتې شوی ده. هغه «د بازار سیاست: قدرت او کوزه ګرې په افغان مارکیټ کې» (۲۰۱۱ Stanford) لیکوال هم دی، او د هغه اوسنی لیکنه «د امریکا د نړیوال جنګ نالیدلي کارګرو» (۲۰۱۸ Stanford) په نوم دې.

## سریزه:

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) لپاره د خوښې ځای دی چې خپلو درنو مخاطبينو ته د (پیوستون، پیاوړتیا او زړورتیا: په افغانستان کې د ښځو سیاسی ګډون) تر سرلیک لاندې داسې خورا معلوماتي څېړنه وړاندې کوي چې د ملګرو ملتونو د میرمنو بنسټ (UN Women) په مرسته چمتو شوې. دا سند مرسته کوي ترڅو په لویه کچه دا پوهاوی رامنځته کړي چې څرنګه افغان ښځې د بنسټیزو خنډونو په شتون کې ستراتیژي غوره کوي او همدا راز څنګه هغه اغیزناکې وسیلې په ګوته کوي چې په ځانګړې توګه، په دولتي سکټور کې د پالیسۍ جوړونې او خدماتو د وړاندې کولو په ډګر کې د ښځو سیاسی ګډون او اساسي نفوذ پراخوي. دا څېړنه د افغانستان په څلورو ولایتونو کې د ۸۰ مرکو او فوکس ګروپونو پر بنسټ تر سره شوې ده.

نوموړی سند په عامه ډګر کې د ښځو د ګډون د پراختیا لپاره درې رسمي میکانیزمونه تحلیلوي: ټاکنې، په عامه ډګر کې مثبت اقدامات او پوهنه- چې په تیره لسیزه کې دغو برخو د دولت او نړیوالو پراخ پام ځانته اړولای دی.

د یاد سند موندنې ښیي چې د غیررسمي ستراتیژۍ ګانو لکه د مسلکي اړیکو او باور شبکو د رامنځته کولو، ځان لپاره په کور دننه او کار ځای کې ښځینه او نارینه ملاتړ راغونډولو او داسې مذاکره کولو په ګډون چې د نارینه او ښځینه وو تر منځ اړیکې پیاوړې کړي؛ له ملاتړ پرته، رسمي میکانیزمونه د یوې وسیلې په توګه د ښځو نفوذ د پراختیا په برخه کې نسبتاً محدود رول لوبوي. یاد څېړنیز سند دا څرګندوي چې دغه ټولې وسیلې به د ټاکنیزو ادارو د بدلون وړ واک، د دولتي مثبتو اقداماتو او د پوهنې د پراختیا په برخه کې مرسته وکړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) د نوموړي څېړنیز سند د لا بډاینې لپاره له ناڅرګندو همکارو کتونکو نه د دوی د پام وړ ونډې، او د سند له لیکوالانو او څېړونکو څخه د دوی د زیات زیار او هڅو له امله مننه کوي.



ډاکټره اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه ..... أ
د لیکوال په اړه ..... ب
سریزه: ..... ج
۱. پیژندنه ..... ه
۲. شالید ..... ۱
۳. د څېړنې طرحه ..... ۷
۴. موندنې (پایلې) ..... ۹
۱.۴ د کور او کار ځای په تصمیم نیونه کې د ښځو ګډون پر وړاندې مهم خنډونه ..... ۹
۲.۴ د میرمنو په تصمیم نیونې باندې د رسمي میکانیزمونو اغیز ..... ۱۷
۳.۴ د ښځو پر تصمیم نیونې باندې د غیري رسمي میکانیزمونو اغېز ..... ۲۳
۵. پایله او سپارښتنې: د لویې کچې اغېز لپاره د رسمي او غیری رسمي میکانیزمونه یو ځای کول ..... ۲۸
۶. منابع ..... ۳۱

# ۱. پیژندنه

د ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ (UN Women) لخوا د تمویل شوې څېړنې پر اساس، دا سند هڅه کوي ترڅو په لویه کچه دا پوهاوی رامنځته کړي چې افغان ښځې څرنګه د بنسټیزو خنډونو په موجودیت کې ستراتیژۍ غوره کوي او همداراز هڅه کوي په ځانګړې ډول هغه وسیلې وپیژني کومې چې په خاصه توګه په دولتي سکتور کې د پالیسۍ جوړنې او خدماتو د وړاندې کولو په ډګر کې د ښځو ګډون او اساسي نفوذ پر پراختیا تر ټولو زیات اغیز لرلای شي. د څېړنې موندنې (پایلې) په څلورو ولایتونو کې د ښځو او نارینه وو پر لیدلورو باندې ولاړې دي چې څه د پاسه د اتیاوو مرکو او فوکس ګروپونو د خبرو اترو له لارې ترلاسه شوي دي.

په افغانستان کې، نارینه پریکړې کوي حال دا چې ښځې د تصمیم نیونې په بهیرونو کې ونډه نلري. دغه په دولتي ډګر کې هغه ډېر اوریدل شوی او محسوس روایت دی چې په هغو کیسو کې انعکاس موموي چې افغان ښځې یې د پالیسي اړوند غونډو کې د محرومیت، ارتقا نه ورکولو، په کارځای کې ځورونې، د رایو سپارښتنې او یا هم په کور دننه د کورنیو مهمو مسایلو د اړوند بحثونو له ناستو څخه د محرومیت په هکله بیانوي. خو بیا هم دغه روایت د ښځو د ستونزو وضعیت د انځور یوه برخه ده. افغان ښځې په کور دننه او په کارځای کې هر ورځ له نوموړو ستونزو سره لاس او ګریوان دي، په داسې حال کې دوی یو شمېر پیچلې ستراتیژۍ ګانې او وسیلې رامنځته کوي او ورباندې تکیه لري ترڅو په مرسته یې د خپل نفوذ او اغیز لپاره زمینه برابره کړي.

یاد سند هڅه کوي په دې هم لا پوه شي چې افغان ښځې دا چاره څه ډول ترسره کوي او بله دا چې کومې وسیلې په خاصه توګه د پالیسۍ جوړونې او خدماتو برابرولو په برخه کې د دوی د ګډون او اساسي نفوذ پر پراختیا باندې تر ټولو زیات اغیز لرلای شي.

نوموړی سند په دولتي ډګر کې د ښځو د ګډون د پراختیا لپاره درې رسمي میکانیزمونه تحلیلوي: ټاکنې، په عامه ډګر کې مثبت اقدامات او پوهنه- په تیره لسیزه کې دغو برخو د دولت او نړیوالو پراخ پام ځانته اړولای وو. همداراز یاد سند دا مومي چې دغه پورتنې درې برخې کولای شي په غیرمترقبه ډول د ښځو نفوذ پراخ کړي.

همدارنګه، د مسلکي اړیکو او باور شبکو د رامنځته کولو په شمول، ځان لپاره په کور دننه او کار ځای کې ښځینه او نارینه ملاتړي راغونډول او داسې مذاکره کول چې د نارینه او ښځینه وو تر منځ اړیکې پیاوړې کړي. له دغو غیر رسمي ستراتیژۍ ګانو پرته، رسمي میکانیزمونه د یوې وسیلې په توګه د ښځو د نفوذ د پراختیا په برخه کې محدود رول لوبوي. دغه ټولې وسیلې د دې زمینه برابروي ترڅو د ټاکنو د ادارو د بدلون وړ واک، د دولتي مثبتو اقداماتو او پوهنې پراختیا په برخه کې مرسته وکړي.

یاد سند د څېړنې په متن کې د "رسمي" او "غیر رسمي" اصطلاحات کاروي او دا دوه اصطلاحات د تحلیلي وضاحت په موخه جلا کوي، د "رسمي" اصطلاح د لیکل شوې دولتي ستراتیژۍ یا هم د دولت د پالیسۍ پر یوې برخې باندې دلالت کوي حال دا چې "غیر رسمي" اصطلاح په شبکو، اړیکو او ټولنیزو نورمونو پورې اړه لري. که څه هم، د پورتنیو اصطلاحاتو دوه ګوني ویش تر ډېره ناسم دی: په حقیقت کې، د یاد سند اصلي پام د "رسمي" او "غیر رسمي" اصطلاحاتو په ترکیب کې نغښتی دی. په نوموړې څېړنې کې راټول شوي شواهد دا څرګندوي چې په افغانستان کې د ښځو د پریکړو او تصمیم نیونې د واک پیاوړتیا د رسمي ادارو پراخول او د دوی پر ملاتړ باندې تکیه کول او په عین حال کې د اعتماد وړ مسلکي اړیکې رامنځته کول، د کورنۍ ملاتړ ترلاسه کول او له پلارواکي نظام سره مذاکره کول هغه اقدامات دي چې د ټولنې پر پیاوړتیا ټینګار کوي. دغه مسئله په ځانګړې ډول د افغانستان په شرایطو کې اهمیت لري، چیرې چې میرمنې په ساختاري ډول له رسمي سیاسي ډګر څخه تر هغه بریده محرومه شوي دي چې دا اړینه بلل کیږي ترڅو غیرمعمولې لارې چارې په پام کې ونیول شي ترڅو په مرسته یې، میرمنې وکولای شي پر تصمیم نیونه باندې اغیز او نفوذ ولري.

دلایل (توجیه) او موخې

د افغانستان په سیاست او د تصمیم نیونې نورو ادارو کې د ښځو د ګډون د څرنګوالي د لا ښه پوهیدو په موخه، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) او د ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ (UN Women) په ګډه یو لړ څېړنیزې پروژې ترسره کړې دي. په ۲۰۱۸ میلادي کال کې، د افغانستان له پارلماني ټاکنو وروسته، یادو ادارو یوه څېړنیزه پروژه رامنځته کړه چې په ټاکنو کې د ښځو پر وړاندې پر تاوتریخوالي، د هغې پر اغیز او پر هغو لارو چارو باندې تمرکز درلود په کوم کې چې تاوتریخوالی د یو بحث وړ موضوع په توګه پیژندل کیده.

په دغه څېړنه کې ۲۸ مرکې، یو لړ فوکس ګروپونو بحثونه او یوه کمیټي سروې ترسره شوه چې په کې له کابل او ننګرهار ولایتونو څخه څه د پاسه ۵۰۰ تنو مرکه ورکوونکو ګډون درلود. له سیمه ییزې کچې نه نیولې بیا له طالبانو سره په وقفه یې مذاکراتو کې تر ګډون پورې، په سیاست کې په بېلابېلو کچو د ښځو ګډون ته په کتو سره، د یادې څېړنې پایلې د لا زیاتې څېړنې لپاره اړتیا څرګنده کړه.

د یادې اړتیا په ځواب کې، یوه دوهمه پروژه جوړه شوه ترڅو په مختلفو سطحو کې په سیاسي مسایلو هم په ټاکنو او هم په نورو سیاسي مسایلو کې د ښځو ګډون وڅېړي، ترڅو په دې هم پوه شي چې بېلابېل سیاسي شرایط څرنګه د ښځو د ګډون کچه تر اغیز لاندې راوړي او همدارنګه دا هم جوته کړي چې د ښځو استازیتوب په سیاسي ډګر کې څه ډول پراخیدلای شي. دغه څېړنیز سند همدارنګه هڅه کوي ترڅو په دولت کې د طالبانو د احتمالي نفوذ او د هغو لارو د درک ترمنځ تعادل رامنځته کړي چې نن او د تاریخ په اوږدو کې افغان ښځو د هغو پر مټ له رامنځته شویو او افراطي پلارسالار نورمونو سره مذاکره کړې او یادې ستونزې په موجودیت کې یې فعالیت ترسره کړی دی.

# ۲. شالید

**د نړۍ په کچه د ښځو ګډون**

**په تیرو دیرشو کلونو په ترڅ کې، د نړۍ په کچه، د ښځو سیاسي ګډون او تصمیم نیونه د پرمختیایي او فیمنیستي مطالعاتو په څېړنیز محور بدل شوی دی.**

**د عمل لپاره د بیجینګ ۱۹۹۵ برنامه د نړۍ د ټولو هېوادونو په پارلمانونو کې د جنډر انډول غوښتنه وکړه او په ګڼ شمېر هېوادونو کې د ښځو لپاره د ټاکنیزې سهمیې پخېر ځانګړې لنډمهالي اقدامات راوپارول.[۱] د جنډر انډول نشتون د سمون په موخه د هڅو د زیاتوالي په پایله کې، د نړۍ په کچه، په پارلمانونو کې د میرمنو شمیر په ۱۹۹۷ کې له ۱۱.۷ سلنې څخه په ۲۰۱۹ کې ۲۴.۵ سلنې ته لوړ شو.[۲] دا بدلون ،پداسې حال کې چې د احصائیې له پلوه مهم دی، خو د شمیر ارزښت په اړه پوښتنې راپورته کړې او بله دا چې آیا نورې میرمنې کولای شي چې د هغو ښځو استازیتوب وکړي چې مختلف هویتونه لري، صرف په دې خاطر چې دوی هم ښځې دي.[۳]**

**نوموړې پوښتنې د "ګډون" له څېړنې سره او دا چې ګډون په عمل او پرمختیایي مطالعاتو کې څه معنا لري، د وخت له پلوه سمون لري. د پرمختیا په لور د اشتراکي میتودونو له بهیرونو وروسته چې د ۱۹۸۰ کلونو په لومړیو کې د روبرت چمبرز او نورو لخوا رامنځته شوې وو، د ۱۹۹۰ کلونو په ورستیو کې د ګډون اصطلاح په یوه دود شوې اصطلاح بدله شوې چې کارپوهان یې د مالي سرچینو د جلبولو لپاره کاروي خو مفهوم یا نتیجه نلري.[۴] له هغې راهیسې، په څېړنیزو ادبیاتو کې په پرمختیایي او سیاسي بهیرونو کې د معناداره ګډون د معنا څرنګوالي په اړه پوښتنې (په حقیقت کې) خورا ډیرې دي خو په پرمختیایي تطبیق کې تر ډیره لږه کچه لیدل کیږي.**

**دغو پوښتنو ته ځوابونه د "بدلون لپاره د چاپیریال" اړتیا رانغاړي چې د هغې په واسطه محرومې ډلې د ګډون لپاره نوی فزیکي چاپیریال رامنځته کوي (د بیلګې په توګه ، په محلي شورا کې) او بیا وروسته له داخل څخه بدلون رامنځته کولای شي.[۵] دا چاره بیا یوازې تصمیم نیونې ته د لاسرسي په معنا نه ده، بلکې د تصمیم نیونې په ډګرونو کې د بحث او پالیسۍ پر پایلو باندې د تاثیر لرلو د وړتیا مفهوم لري یعنې د تصمیم نیونې واک درلودل.[۶]**

**په ځوابونو کې په ټولنه کې د هغه څه څخه هاخوا لیدل هم شامل دي چې معیاري شوي دي، د رسمي ګډون نړیوال تعبیرونه او د اغیزمنتوب وسیلې او چاپیریال پیژندل کوم چې په سیمه ییزو نورمونو او سیاست پورې اړه لري. د بېلګې په توګه، د بدلون لپاره د ښکاره اعتراض او کلکې غوښتنې برخلاف، ډیالوګ او جوړجاړی ، همدارنګه د ټاکنو او مقننه قوې بحثونو یا د پالیسۍ ځانګې غونډو برخلاف (یا سربیره)،[۷] دهلیزونه ، چای خونې، عمومي حمامونه ، میلمستونونه او جوماتونه په دغو کې هم شامل دي.**

---

۱ د بیجینګ برنامه (platform) هم په سیاسي بهیرونو، تصمیم نیونې او عامه چارو کې د ګډون لپاره د میرمنو د بشري حقونو په ملاتړ د نړیوال اقداماتو لپاره انګیزه رامنځته کړه، لکه د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون (ICCPR) **۲۵** ماده؛ د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) ، ۷او ۸ مادې (بیجینګ)؛ او په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو سازمان د دوامداره پرمختګ موخو **۵.۵** ګڼه موخه.

۲ د پارلمانونو ټولنه، "میرمنې په پارلمانونو کې"htm.http://archive.ipu.org/wmn-e/arc/world۰۱۰۱۹۷. (د ۲۰۲۰ کال د فبروري په ۱۸ مه ترلاسه شوی)

۳ ان فیلیپس (Anne Phillips )، د موجودیت سیاست (اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون مطبعه، **۱۹۹۵**)؛ جولي بالینګټن او ایزا کرم (Julie Ballington and Azza Karam) ، میرمنې په پارلمان کې: د شمیر هاخوا (سټاکهولم: نړیوال ایډیا ، **۲۰۰۵** کال) ؛ ډروډ ډهلروپ (Drude Dahlerup)، میرمنې ، سهمیې او سیاست (نیویارک: روټلیج ، **۲۰۰۲** کال)؛ سوسن فرانچسیټ ، مونا لینا کروک او جینیفر ایم پیسکوپو (ایډز.) (.Susan Franceschet, Mona Lena Krook and Jennifer M Piscopo (eds.) )، د جنسیتي سهمیو اغیزه (اکسفورډ او نیویارک: د آکسفورډ پوهنتون مطبعه ، **۲۰۱۲** کال).

۴ رابرټ چیمبرز (Robert Chambers) د کلیو پراختیا: وروستی، لومړی اینبودل (نیویارک؛ لانګمن ، **۱۹۸۳**)؛ انډریا کورنوال او کارن بروک (and Andrea Cornwall Karen Brock) «دود شوې اصطلاح ګانې د پرمختیایي پالیسي لپاره څه کوي؟ د «ګډون» ، «ځواکمنتیا» او «د بېوزلې راکمولو» کره کتنه ، " دریمې نړۍ درې میاشتنۍ ۲۲ ، ۷ ګڼه (**۲۰۰۵**): **۱۰۴۳-۱۰۲۰** ؛ پابلو الیجاندرو لیال (Pablo Alejandro Leal ) ، «ګډون: په نوي لیبرال عصر کې د یوې دود شوې اصطلاح تسلط ،» په عمل کې پرمختګ ۱۷ ،**۴-۵** ګڼه (۲۰۰۷): **۵۳۹-۵۴۸**؛ بل کوک او اوما کوتاری (Bill Cooke and Uma Kothari )، ګډون: نوی استبداد؟ (لندن او نیویارک: زید کتابونه ، ۲۰۰۱ کال)

**۵** آنډریا کارنوال او ویرا شټان کویلهو ، د بدلون لپاره چاپیریال؟ په نوي ډموکراتیک ډګرونو کې د اتباعو د ګډون سیاست (نیویارک: زید کتابونه ، **۲۰۰۲**)

۶ Tam O'Neill and Pilar Domingo. "Women and Power: Overcoming Barriers to Leadership and Influence". (London: Overseas Development Institute, ۲۰۱۲). p۱۴.

۷ اوبیوما نانیمکا ، "نیګو - فیمنیزم: تیوري مطرح کوونه، تمرین او د افریقا لار ښایسته کوونه ، " نښې **۲۹** ، شمیره ۲ (۲۰۰۴): **۳۵۷-۳۸۵**؛ انا لارسن ، میرمنې او ځواک: په افغانستان کې د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون(لندن: د بهرنۍ پراختیا انستیتوت ،۲۰۱۲)

په دې کې دا پوښتنه هم باید راشي چې کومه ښکارنده "ګټوره" ده او بله دا چې ګډون د چا لپاره مهم دی. دا په دې معنا ده چې (د لنډ مهال لپاره) د هغو پالیلو په اړه اصولي قضاوتونه یو خوا ته پرېښودل شي چې د میرمنو سیاسي ګډون او نفوذ لرونکې تصمیم نیونې باید رامنځته کړي: په داسې حال کې چې سیاسي چاپېریال او د تصمیم نیونې واک ښایي په عمومي توګه د ښځو د ګټو او ګټورتوب د زیاتوالي لپاره اسانتیاوې برابرې کړي، خو دا باید داسې ونه ګڼل شي چې قضیه همدا ډول ده یا دا چې ټولې نفوذ لرونکې میرمنې به د اړتیا له مخې دیته ضرورت ولري ترڅو ځانونه له لیبرال فیمنیستي اصولو سره عیار او تنظیم کړي. په اصل کې، معنا لرونکی ګډون تل د شرایطو زیږنده ده په دې معنا چې معنا لرونکی ګډون د سیمه ییز سیاسي اقتصادي چاپېریال یوه نه بېلدونکې برخه ده چې په هغه کې واقع کیږي خو باید په دوامداره توګه ورسره ځان عیار کړي.

په افغانستان کې د ښځو ګډون: په ملي او سیمه ییزه کچه د یادې ښکارندې تاریخ

لومړی جدول: په ۲۰۱۸ میلادي کال کې د سلنې له پلوه په افغانستان کې د ښځو ګډون

| | |
|---|---|
| په دولتي او نا دولتي خپلواکو ادارو کې د ښځو ګډون | ۲۱.۵ سلنه |
| ولسي جرګه | ۲۷ سلنه |
| مشرانو جرګه | ۲۵ سلنه |
| ولایتي شوراګانې | ۲۰ سلنه |

سرچینې: د احصایې او معلوماتو ملي اداره ،. www.nsia.gov.af; International IDEA, https://www.idea.int/data-tools/data/ ۳۵/۴۴/gender-quotas/country-view.

د افغانستان په سیاست او عمومي ژوند کې د میرمنو د رسمي ګډون کیسه د شلمې پیړۍ په لومړیو کې پیلیږي. په لویه کچه د انجونو تعلیم د امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹) لاسته راوړنه ګڼل کیږي او هغه مهال، ځینو میرمنو د ۱۹۵۰ او ۱۹۲۰ کلونو د ځوانانو په غورځنګونو کې سیاسي فعالیت درلود. وروسته له هغې چې په کال ۱۹۶۴ کې په ټاکنو کې ښځو ته رایې ورکړل شوې، څلور میرمنې له نارینه وو سره په آزاده سیالۍ کې د ۱۹۶۵ کال پارلمان ته بریالۍ شوې ، خو له هغو دوو میرمنو څخه چې په ۱۹۶۹ کال کې د پارلماني ټاکنو بل پړاو ته د نوماندانو په توګه ولاړې وې، یوې یې هم څوکۍ ونه ګټله.[8]

په افغانستان کې د میرمنو علني فعالیت په هکله یو ډېر روایت شوې داستان د ښځو د پر مختګ له لاسته راوړنو وروسته د محافظه کاره قشر غبرګونونه بیانوي؛ که څه هم، یاد لیدلوری په هیواد کې د بدلون سیاسي اقتصاد تر ډېره بریده ساده ګڼي.[9] خو د میرمنو پر رسمي سیاسي ګډون باندې د محمدود تمرکز په څېر، دا لیدلوری هغه اساسي نفوذ مبهموي او له پامه غورځوي چې میرمنو په غیر رسمي ډول ، د عمومي ژوند په ترڅ کې لرلی دی.

د ویجاړونکې کورنۍ جګړې سربیره، د مجاهدینو او طالبانو رژیمونه په عمومي ژوند کې د ښځو ګډون لپاره له هغې نسبي آزادۍ وروسته رامنځته شول کوم چې افغان میرمنو د ظاهر شاه ، داود خان او د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند د واکمنۍ پر مهال له ۱۹۲۰ کلونو څخه بیا تر ۱۹۸۰ کلونو پورې تجربه کړې وه. د مجاهدینو او طالبانو رژیمونه او کورنۍ جګړې دواړه د ښځو د تعلیم او ورتیاوو په وړاندې په دولتي چلند کې شاتګ ښیي. تر دې دمه، بیا هم، دوی و نه شو کولای چې د ښځو پټ غورځنګونه، د انجونو سیمه ییز پټ ښوونځي، د ښځو افراطي خپرونې او هغه نا دولتي سیمه ییزې موسسې له منځه یوسي چې په ایران او پاکستان کې د افغان کډوالو په ښغالو (کمپونو) کې د مرستو پر ویش نظارت درلود.

په حقیقت کې ، په ۲۰۰۱ میلادي کې د متحده ایالاتو مداخلې پر مهال، د هغو میرمنو شمېر لږ نه وو چې د بدلون لپاره د نړیوالو مخاطبینو په وړاندې خبرې کولو ته چمتو وې. په ښکاره ډول، که څه هم د ښځو علني ګډون د ۱۵ کالو لپاره له مینځه تللی و ، خو بیاهم میرمنې په دې وخت کې د ډېری نادودیز ځایونو کې د تصمیم نیونې بهیر ته لاسرسی او پرې یې نفوذ درلود.

۸ ویس دوپري ، "افغانستان په ډیموکراسۍ کې خپلې تجربې ته دوام ورکوي: دیارلسم پارلمان وټاکل شو ، " د امریکایي پوهنتونونو سیمه ییز کارکوونکو راپورونه ، ۱۵ ، شمیره. ۳ (۱۹۷۱): ۲؛ جیلینا بیجیلیکا او روح الله سروش ، "د ټاکنو معما (۲۰): ښځینه نوماندانې ،د تمې برخلاف، مخ په وړاندې درومي" د افغانستان تحلیلګرانو (شننکو) شبکه ، د اکتوبر ۱۹- ۲۰۱۸کال، له دې ویب پاڼه یې ترلاسه کولای شئ -https://www.afghanistan-analysts.org/afghanistan-eferences ۱۹-conundrum - لکه څنګه چې دغه لیکوالان یې بیانوي، میرمنې په ۱۹۸۰ کلونو کې میرمنې پارلمان ته د غړو په توګه د خدمت کولو لپاره غوره شوې وې، خو د شوروي رژیم پر مهال او د دې کلونو په لړ کې ټاکنې تر ډېره حده سمبولیکې وې.

۹ دنیز کندیوتي، په افغانستان کې د جنډر او بیارغونې سیاست (ژنیوا : UNRISD ، ۲۰۰۵ کال) دغه سند په http://www.unrisd.org/publications/opgp۴ ویب پاڼه کې موجود دی.

دا باید ونه ویل شي چې په سیاست کې د میرمنو رسمي ګډون مهم نه دی ، او نه دا چې رسمي ګډون د بدلون لپاره له غیر رسمي یا بیروني ځایونو څخه جلا دی. د دواړو ترمینځ اړیکې خورا مهمې دي او په دې ځیرنه کې د پوښتنو اړینې برخې جوړوي.[۱۰] په هر حال، هغه په دې معنا دی چې څرنګه چې رژیمونه بدلون مومي او د ښځو د علني ګډون په وړاندې حاکم سیاسي چلند بدلیږي (ځکه چې د ښځو علني ګډون تل سیاسي وي ، خو لږترلږه په افغانستان کې نه) ، د بدلون لپاره غیر رسمي چاپیریالونه ممکن ډیر د انعطاف وړ وي او وکولای شي چې په افغانستان کې د بنسټیز نفوذ او تصمیم نیونې ځواک لپاره ډیر معتبر شاخصونه اوسي.

د کلي په کچه او کورنیو کې، له تاریخي پلوه، میرمنو د ځایي شخړې په مدیریت، د کورنیو د اقتصاد نظارت او ساتنې ، د ماشومانو د روزنې په اړه د تصمیم نیونې، (د ناوې ګانو په توګه) د ودونو د سیاسي اقتصاد مدیریت او (د خوابنې ګانو او مشرانو خپلوانو په توګه) د یاد اقتصاد د نظارت برخو کې مهم رول لوبولی دی. نن ورځ او په تیر مهال کې، دغو خبرو اترو ډیر ځلې د ځایي سیاست ، د ځمکو مدیریت او نورو مهم مسلو باندې د پام وړ اغیزې لرلې دي.[۱۱] لکه څرنګه چې د افغانستان د یو ښارګوټي په اړه یوې وروستۍ توکمیزې سروې په ګوته کړې ده، نارینه اکثراً د میرمنو لخوا د سیاسي نفوذ نسبي نشتون په هکله پراخې ادعاوې کوي ، خو بیا وروسته په خصوصي ډول داسې کیسې کوي چې د دوی په کورنیو کې ښځې په اقتصادي تصمیم نیونې او نورو مهمو کورنیو پریکړو کې څه ډول مهم رول لوبوي.[۱۲]

د افغانستان پلارواکي جوړښتونو په اړه د عام روایتونو له امله، میرمنې هم ډیری وختونه د افغانستان په تاریخ او کلتوري روایتونو کې څرګندیږي نسبت هغه روایت ته چې ښایي یو کس ګومان یې کوي. د دې تر ټولو د پام وړ روایت ښایي د میوند ملالۍ په اړه وي، چې ویل کیږي د افغان-انګلیس دوهمې جګړې پرمهال، افغان سرتیري یې د شاتګ په وخت کې د انګریزانو پرخلاف مقاومت ته وهڅول. د ملالۍ زړورتیا د ښوونځیو درسي کتابونو او نورو ملي موادو له لارې په افغان ملتپالنه کې ځای په ځای شوې ده او هغه لارې څرګندوي چې له مخې یې له افغان میرمنو دا تمه کیږي چې ډیری وختونه د سیاسي سمبولیکو کړنو له لارې له افغاني عزت او ولس څخه پخپله دفاع وکړي. لکه څنګه چې یې ډیوډ بی اډوارډز په ګوته کوي:

> ملالۍ یوازې د فرانسې د آزادۍ سمبولې -میرمن مارین، افغاني نسخه ده. د ویاړ او شرم د پیچلتیاوو له امله چې د هغې د کړنې بنسټ بلل کیږي، د ملالۍ شخصیت یو ځانګړی سمبولیک اهمیت لري. په نیزې پورې د هغې د پوړني تړل، د خپل هیواد دفاع لپاره د ښځینه شرف او عزت په ګډون، د هرڅه قرباني کولو ته د هغې چمتووالی ښیي.[۱۳]

که څه هم ښځې په تصمیم نیونه کې تر یو حده ښکیلې دي او په کور او بهر کې پر پریکړو څه نا څه کنټرول لري، خو بیا هم دغه وضعیت له یوې کورنۍ څخه بلې کورنۍ ته په لویه کچه توپیر لري. سره له دې بیا هم اکثراً داسې ځانګړي چاپیریالونه شته چیرې چې په تصمیم نیونه کې د ښځو ښکیلتیا عامه او منل شوې ده، په ځانګړې توګه کله چې دوی زړیږي. لکه څنګه چې په ۲۰۰۷ میلادي کال کې د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې (AREU) لخوا په یوه څیړنیز خپور شوي سند کې د ښوونځي نوم لیکنې د پریکړې په هکله داسې لیکل شوي وو:

> په کورنیو کې د مفاهمې عوامل چې اکثراً په جوړښت کې پراختیا مومي او د مختلف عمر او متفاوت جنسیت لرونکي غړي لري. په ورته ډول، د دوی حالتونه او نقشونه هم خورا پیچلي دي او همداراز د کورنیو ترمینځ ډیر توپیر شتون لري. په عمومي ډول ، که څه هم د تصمیم نیونې ځواک ښایي تر ډیره حده د کورنۍ د نارینه سرپرست سره وي ، لکه څنګه چې د خلکو لخوا اکثراً انګیرل کیږي ، خو میرمنې هم د تصمیم نیونې په بهیر کې فعاله رول لري او په ځینو مواردو کې پخپله له پام وړ ځواک څخه کار اخلي .[۱۴]

لکه څنګه چې په دې څیړنیز سند کې به وښودل شي ، د کورنیو په تصمیم نیونه کې د میرمنو اهمیت ډیر ځلې د ټاکنو په څیر په رسمي سیاسي بهیرونو کې د ګډون لپاره بنسټ جوړوي.

۱۰ دا اړیکې د سمبولیک او واقعي استازیتوب تر مینځ د رابطې په توګه پیژندل کیدی شي، په سمبولیک استازیتوب سره، په ځانګړي توګه په افغانستان کې، په اساسي قانون کې میرمنو لپاره د پارلمان د ۲۸ تضمین شویو څوکیو ستر اهمیت او هغه پیغام چې دا یې په مقننه قوې کې د میرمنو د مقام په اړه مخاطبانو ته لیږي. واقعي استازیتوب دا پوښتنه مطرح کوي چې د دغو څوکیو په ترلاسه کولو سره څه کولای شي- د تصمیم نیونې ځواک چې په اړه یې په پورتنې برخه کې بحث وشو.

۱۱ نانسي ټاپر، د بدل ناوې: سیاست ، جنسیت او واده د افغانستان په یوې قبیلوي ټولنه کې (کیمبرج: د کیمبرج پوهنتون مطبعه ، ۱۹۹۱کال).

۱۲ نوح کوبرن ، د بازار سیاست: د افغانستان د بازار په ښارګوټي کې ځواک او کُلالي ( پالو الټو ، سي ای: د سټنفورډ پوهنتون مطبعه، ۲۰۰۹ کال)

۱۳ ډیویډ بي اډوارډز ، د شهیدانو کاروان: په افغانستان کې سرښندنې او ځان مرګي بمونه (اوکلینډ، سي ای : د کالیفورنیا پوهنتون مطبعه ، ۲۰۱۷ کال) ۴۰.

۱۴ پامیلا هنټ ، د ښوونځي دیوالونو هخوا کتنه: په افغانستان کې د کورنۍ تصمیم نیونه او په ښوونځیو کې نوم لیکنه (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره [AREU] ، ۲۰۰۲ کال): ۳.

لومړی چارت: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د چلند اړوند قوانین او معاهدې[۱۵]

د افغانستان دولت د ښځو پر وړاندې د چلند او د دوی د سیاسي حقونو په اړه لاندنیو قوانینو او کنوانسیونونو ته ژمن دی:

- د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون د **۹** ، ۱۰ او **۱۴** مادو پر بنسټ، د افغانستان نړیوال قانوني مکلفیتونه د قانون پر وړاندې ټولو وګړو ته د عادلانه محاکمې او یو ډول (مساویانه) چلند حق ورکوي. **۲۵** ماده، د هېواد ټولو اتباعو ته حق ورکوي چې په عامه چارو کې ګډون وکړي، خپله رایه وکاروي او ټاکنو کې ځان نوماند کړي او په عامه خدماتو کې برخه واخلي.
- افغانستان د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) غړیتوب لري. د کنوانسیون ۲ (c) ، ۳ ، (a) **۵**او **۱۵** مادې، عدالت ته د لاسرسي پورې اړه لري. **۱۵** او **۱۷** مادې د قانون په وړاندې د ښځو د مساواتو د تضمین لپاره مکلفیتونه وضع کوي او په پوهنه ، ټولنیز او اقتصادي ژوند او په کورنۍ کې د ښځو مساواتو پورې اړوند د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض مخه نیسي. سربیره پر دې ، کنوانسیون ټینګار کوي چې د ماشوم واده، په خپل ذات سره واده باطلوي. ۷ او ۸ مادې د هېواد په عامه او سیاسي ژوند کې د ښځو پر وړاندې د تبعیض له منځه وړلو ته، لاسلیک کوونکي غړي ژمن کوي.
- افغانستان، د دوامداره پرمختګ موخو (SDGs) ته ژمن دی. له دغو موخو څخه، **۵,۵** موخه یې «د سیاسي ، اقتصادي او عامه ژوند په ټولو ډګرونو کې د میرمنو بشپړ او اغیزمن ګډون او د مشرتابه لپاره د مساوي فرصتونو د برابرولو " ژمنه څرګندوي.
- د افغانستان د اساسي قانون ۲۲ ماده وایي چې د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعیض او امتیاز منع دی او د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري.
- د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا **۱۳۲۵** پریکړه: د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د ۲۰۰۰ کال د اوکتوبر په **۳۱** تیته د ښځو ، سلی او امنیت په هکله **۱۳۲۵** شمیره پریکړه تصویب کړه. دغه پریکړه دتاوتریخوالی دمخنیوی او حلولو او د جګړې نه وروسته په بیارغونه کی د ښځو پر ونډه تینګار کوی او دا منی چی د سولی او امنیت هڅی به هغه وخت تل پانی وی چی ښځی پکی مساوی ونډه ولری. **۱۳۲۵** شمیره بریکړه لیک د ټولو اړخونو نه غواړی چی د ښځو ګډون زیات کړی او د جندر موضوع د ملګرو ملتو د سازمان د سولی او امنیت په ټولو هڅو کی شامل کړی.
- په افغانستان کی د **۱۳۲۵** پریکړې د ملی عمل پروګرام: د افغانستان اسلامی جمهوریت د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا **۱۳۲۵** پریکړه لیک لپاره لومړی ملی عمل پلان د **۲۰۱۵** کال د جولای او دوهم پلان یی د **۲۰۱۹** کال د اګست په میاښت کی خپور کړ ترڅو هغو ستونځو ته چی ښځی د تاوتریخوالی او جګړې نه وروسته ورسره مخ کیږی د جندر بعد برابر کړی.
- د افغانستان د میرمنو لپاره د ۲۰۰۷-۲۰۱۷ ملي کاري پلان (NAPWA) د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه خپور شو. یاد سند د ښځو لپاره د احکامو یو هراړخیز نوملړ وړاندې کوي چې په پرنسیب کې حکومت یې تحقق ته ژمن دی. د حکومتوالۍ ، قانون حاکمیت او بشري حقونو اړوند په دوهم ستون کې د مثبت اقدام موخې ، د تاوتریخوالي او جنسي ځورونې پر وړاندې ساتنه او سیاسي ګډون(مشارکت) شامل دی. د پخواني سند په توګه دا په پراخه کچه د سیاسي فعالو میرمنو ترمنځ یو پیژندل شوی سند دی.
- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون په ۲۰۰۹ میلادي کال کې د ولسمشر د فرمان له مخې نافذ شو چې په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي ستونزو د حل لپاره یو مهم قانون دی.
- د میرمنو ځورونې پر خلاف د مبارزې قانون په ۲۰۱۲ میلادي کال کې تصویب (پاس) شو چې د یاد قانون په ۱۴ مادو کې د جنسي ځورونې عاملینو لپاره ځینې جزایي اقدامات تشریح کوي.

## د طالبانو په اړه د ځواب ورکونکو نظریات

افغان او نړیوال شنونکي (تحلیل کوونکي) اکثراً یو شان د دې احتمال په پام کې نیسي چې د افغانستان حکومت اړتیا لري ترڅو په یو ډول سره د طالبانو ایډیالوژي ته په خپل دریځ کې ځای ورکړي. دا چاره په عمومي حریم کې د ښځو لپاره یو له لویو احتمالي خنډونه څخه بلل کیږي. په بامیانو کې د مدني ټولنې یوې استازې،د ډیری مرکه شویو میرمنو اندیښنې هم په ګوته کړې:

۱۵ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د مرستې ماموریت (یوناما) ، ظلم او معافیت: د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د جنایی جرمونو منځګړیتوب (کابل: یوناما ، ۲۰۱۸): ۱۴-۱۸

زه پر طالبانو باور نشم کولای. څنګه کولی شم په دوی اعتماد وکړم؟ حال دا چې د دوی یو له اصلي مقرراتو څخه دا دی چې د میرمنو کور پرېښودو مخه ونیسي. د طالبانو له اساسي اصولو یو هم دا دی چې ښځې باید بازار ته لاړې نه شي یا هم له کوره بهر کار ونه کړي. دوی په مدني حقونو باور نلري. څنګه طالبان ځوک چې په سیاست یا ټولنه کې د ښځو د ګډون مخالفت کوي ،کولای شي له داسې حکومت سره سوله وکړي چې په کې میرمنې ګډون لري؟ فکر نه کوم چې دا امکان دې شتون ولري چې له طالبانو سره سوله وشي.[۱۶]

په کابل کې د یوې نادولتي موسسې یوه بل کارکوونکې ډېر صادقانه وویلې: "میرمنې داسې سوله غواړي چې په کې ښځو حقونو ته درناوی او ترینه ساتنه وشي. که د سولې په بدل کې په تیره یو نیمه لسیزه کې ټولې ترلاسه شوې لاسته راوړنې له لاسه ورکوو، نو بیا موږ د سولې داسې تړون نه غواړو."[۱۷] دا مرکې د ۲۰۱۹ میلادي کال په اوړي او د مني په لومړیو کې هغه مهال ترسره شوې چې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمینځ خبرې اترې روانې وې او دواړو خواوو ترمنځ د هوکړې احتمال موجود وو.

دې ته په پام سره چې د افغانستان حکومت د امریکا او طالبانو ترمنځ په خبرو اترو کې ښکېل نه و، په ځانګړې توګه، په کابل کې په دې وخت کې بحثونو د اندېښنې او کنټرول نشتون منعکس کاوه. د اوړي (دوبي) د وخت په تیرېدو سره، دا څرګنده شوه چې د تړون (معاملې) شرایط تر دې حده راکم شوي چې د اوربند یا د افغانستان له حکومت سره د سیاسي جوړجاړي په اړه خبرو اترو غوښتنه په کې نه ده مطرح شوې.[۱۸]

دا مسئله د مرکو په ترڅ کې د بحث وړ موضوع په اړه د نظر له قطبي کیدو څخه منعکس شوې: یا دا چې یوه معامله د تاوتریخوالي د درولو لپاره په هر قیمت لازمي وه ، یا د پورتنیو نظرونو په څېر، دا چې پر میز باندې موجوده معامله خورا خطرناکه وه او د افغانستان له اساسي قانون بې ساتنه او حراست نه کاوه ( دا نظر په کابل او بامیان ولایتونو کې د نادولتي مؤسسو کارکوونکو او مرکه کوونکو تر منځ ډېر عام و ).

په داسې حال کې چې پر پالیسۍ د بهرني عواملو او د طالبانو لخوا د لاسوهنې ګواښ لا ډېر ځواک، په سیاسي بهیرونو کې د میرمنو د ګډون په اړه د ځواب ورکوونکو اندېښنې متاثره کړې وې. خو که لکه څنګه چې په ۴،۱ برخه کې پرې بحث شوی، د دغو میرمنو ډېری برخه هره ورځ لا دمخه د دوی پر ولسوالیو باندې د طالبانو نفوذ پرخلاف او یا هم ظاهراً د پلارواکي نظام د نورو معمولي مظاهرو پرخلاف کوم چې په کور او کارځای کې د تصمیم نیونې په بهیر کې د دوی نفوذ په وړاندې د پام وړ خنډونه رامنځته کوي، مبارزه کوي. په حقیقت کې ، د دې خنډونو د لیرې کولو لپاره ستراتیژۍ ګانې په ښه ډول چمتو کیدای شي، خو دا ستراتیژۍ ګانې له یوې کورنۍ څخه تر بلې کورنۍ پورې توپیر لري. یادې ستراتیژۍ ګانې کولای شي د میرمنو د هغه نفوذ د پراختیا له رسمي وسیلو ملاتړ وکړي کوم چې په تیره لسیزه کې پیل شوی – یا هم هغه لاسته راوړنې چې خلک یې له طالبانو سره د معاملې په صورت کې د لاسه ورکولو په اړه خبرې کوي.

ټاکنې: چیرې چې رسمي ګډون او نفوذ له غیر رسمي ګډون او نفوذ سره پیوستون مومي

په افغانستان کې ټاکنې د ښځو او نارینه وو دواړو لپاره د رسمي او غیر رسمي ګډون او نفوذ لپاره د پیوستون په زړه پورې بهیر دی. له دیرش کلن ځنډ وروسته، ټاکنې بیا په هېواد کې په ۲۰۰۴ میلادي کال کې پیل شوې ،( له خورا ناوړه تخنیکي او سیاسي ستونزو سره سره) ، ظاهراً، ټاکنې په ټول هیواد کې د رسمي سیاسي ګډون ښکارندوی وکړه، داسې بهیر چې رایې په کې په علني ډول ثبتیږي او په منظم ډول د چاروا کو د ټاکولو په برخه کې مرسته کوي.

سربیره پر دې ، ټاکنې داسې یو چاپیریال رامنځته کړې دی چې په کې ځایي دښمنۍ او وفادارۍ تشدید او ازمایل شوې، معاملې شوې، حیثتونه له منځه تللي (د بیلګې په توګه، د عامه تبلیغاتي کمپاینې تورونو په واسطه) او همداراز له تاوتریخوالي کار اخیستل شوی.[۱۹] په یو شمیر برخو کې ټاکنې د ټولنیز بدلون زیری له ځان سره راوړي ، د دولت او اتباعو ترمنځ د یو نوي ډول اړیکې هیله یې رامنځته کړې، او په عمومي ډګر کې د ښځو حضور د منلو پر اړتیا یې ټینګار کړی، او په نورو مواردو کې د ښځو پر وړاندې په سیاست کې د جنډر تاوتریخوالی لاملونه، چې له امله یې ښځینه نوماندانې او رایې ورکونکې جنسي ځورونې سره مخ شوي دي.[۲۰]

---

۱۶ مرکه ، بامیان-۲۹۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD.

۱۷ مرکه ، کابل ، د سپتمبر ۲۴ مه، ۲۰۱۹ کال.

۱۸ توماس روتیګ او مارتین وان بیجلرټ، "د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ خبرې اترې: له سولې پرته یوه راتلونکی تړون؟"، د افغانستان شنونکو شبکه ، د اګسټ ۳۰ مه ، ۲۰۱۹ کال.

۱۹ نوح کوبرن او انا لارسن، په افغانستان کې له ډموکراسۍ انحراف: ټاکنې په بې ثباته سیاسي شرایطو کې (نیویارک: د کولمبیا پوهنتون مطبعه ، ۲۰۱۴ کال)؛ انا لارسن، "خورا مشروع ، لږ بې ثباته، لږ لیبرال؟ په افغانستان کې د ټاکنو تطبیق او سمون، " حکومتوالۍ او سیاسي جوړجاړی په بې ثباته دولتونو کې، (اډز.) جې. لاهي، کی. وان ستروکرچ ، ایچ. براستډ ، او ایچ ویبر (لندن: پالګریو مکمیلان، ۲۰۱۹ کال).

۲۰ نواه کوبورن و محمد حسن وفایی، د افغانستان په ټاکنو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ،راتلونکی).

له ۲۰۰۴ راهیسې تر دې مهاله، افغانستان د ټاکنو څلور پړاوونه تجربه کړي: په **۲۰۰۴** میلادي کال کې د ولسمشرۍ ټاکنې او په **۲۰۰۵** میلادي کال کې د پارلمان او ولایتي   شورا ګانو ټاکنې (لومړي پړاو ) ، په **۲۰۰۹** میلادي کال کې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې او په ۲۰۱۰ میلادي کال کې پارلماني ټاکنې (دوهم پړاو ) ، په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې (دریېم پړاو ) او په ۲۰۱۸ میلادي کال کې پارلماني ټاکنې او په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د ولسمشرۍ ټاکنې (څلورم پړاو ).

نوموړې ټاکنې د درغلیو ، ټاکنیز تاوتریخوالي او د لویو ستونزو او د رایې کارونکو د شمېر او د کارول شوو رایو د شمېر په تاییدولو کې د ځنډ له امله په تدریجي ډول زیانمنې شوي دي. په پایله کې په ټاکنو کې د رایې کارونکو په توګه د میرمنو د ګډون کچه معلومول، ستونزمن کار وو: په داسې حال کې چې ځینې ساحې د میرمنو رایو شمېر له پلوه حیرانونکې وې او نسبتا یو ثابت شمیر ښځې لیدل شوي چې په هر پړاو کې رایې ورکوي ، خو نورې سیمې یې خورا ډیر توپیر لري نو ځکه د خیالي رایه اچونې تورونه پرې لګول کیږي، چیرې چې د رایې اضافي کارتونه د نارینو لخوا د کورنۍ ښځینه خیالي غړو په نوم راټول شوي دي. په هغو سیمو کې چې د رایې ورکوونکو د پیژند کارت سره د عکس له نښلولو صرف نظر شوی ، هلته ښځینه رایې ورکوونکې د درغلیو اصلي اهداف دي. په ځانګړي توګه په ناامنه یا محافظه کاره سیمو کې چیرې چې نه د میرمنو د هویت تایید لپاره وړتیا شتون لري او نه هم اراده یې.[۲۱]

دوهم او دریېم جدول: د افغانستان په پارلماني او ولایتي شوراګانو ټاکنو کې د ښځینه نوماندانو شمیر (له ارزونې وروسته)

| پارلماني ټاکنې | ښځینه نوماندانې | نارینه نوماندان | ټولټال (مجموعه) | د ښځینه سلنه |
|---|---|---|---|---|
| **۲۰۰۵** | **۳۴۴** | **۲,۴۹۱** | **۲,۸۳۵** | **٪۱۲** |
| **۲۰۱۰** | **۴۰۷** | **۲,۱۵۰** | **۲,۵۵۷** | **٪۱۵** |
| **۲۰۱۸** | **۴۱۷** | **۲,۱۴۸** | **۲,۵۷۵** | **٪۱۷** |

| د ولایتي شوراګانو ټاکنې | ښځینه نوماندانې | نارینه نوماندان | ټولټال (مجموعه) | د ښځینه سلنه |
|---|---|---|---|---|
| **۲۰۰۵** | **۲۸۵** | **۲,۹۱۷** | **۳,۲۰۱** | **٪۹** |
| **۲۰۰۹** | **۳۴۲** | **۲,۹۸۲** | **۳,۳۲۴** | **٪۱۰** |
| **۲۰۱۴** | **۳۰۸** | **۲,۴۰۵** | **۲,۷۱۳** | **٪۱۱** |

سرچینه: په www.ndi.org ویب پاڼه کې د ملي دیموکراتیک انستیتوت راپورونه

په پارلماني او ولایتي شوراګانو ټاکنو کې د ښځینه نوماندانو شمیر په څلورو پړاوونو کې (په ځینو ولایتونو کې د پام وړ استثناتو سره) نسبتاً ثابت پاتې دی. دا وضعیت د هغه حد ښکارندوی دی تر کومې چې په پارلمان او ولایتي شوراګانو کې د میرمنو لپاره چاپیریال- په چټکۍ سره - په افغانستان کې د سیاسي نظام د یوې منل شوې ځانګړتیا بڼه غوره کړې ده.[۲۲]

دا باید ونه ویل شي چې میرمنې کولای شي چې د نارینه وو په څېر کمپاینونه ترسره کړي او یا په پارلمان کې د نارینه وکیلانو په شان پر تصمیم نیونه باندې مساوي نفوذ ولري، او نه هم دوی کولای شي چې د نارینه وو په څېر د یو ګوند یا نفوذ لرونکي ولینعمت (حامي) له ملاتړ څخه پرته د خپلواکو نوماندانو په توګه په ټاکنو کې ودریږي. . په حقیقت کې ، یو له هغو دلایلو څخه چې ولې په پارلمان کې د میرمنو شتون ډیر ننګول شوی نه دی هغه دا دی چې د میرمنو پارلماني حضور د ګوندونو او نفوذ لرونکو شخصیتونو لپاره لږ ګواښ بلل شوی حال دا چې د نیابتي استازو له لارې د نفوذ ترلاسه کولو لپاره یوه ګټوره وسیله ده.

سربیره پر دې ، ښځینه نوماندانې د کمپاین او دندې په ترسره کولو کې له ننګونو سره مخ دي حال دا چې نارینه نوماندان داسې کومه ستونزه نلري. د دې او نورو څیړنو لپاره له هغو میرمنو سره چې مرکې شوي د ځان لپاره د اضافي امنیت ټینګښت اړتیا په ګوته کوي او همداراز وایي چې د کمپاینې غونډو پرمهال د کورنۍ د نارینه غړو شتون ته اړتیا لري. لکه څنګه چې پر دې موضوع لاندې بحث شوی ، میرمنې خپل حیثیت باندې د جنسیتي بریدونو له امله هم زیان منونکي دي، دا بریدونه کولای شي د دوی د ګډون توان د بېلګې په توګه په عمومي غونډو کې محدود کړي.[۲۳]

---

۲۱ متیو اټکینز او اناند ګوپال ، "پوسټکارت: د افغانستان خیالي ټاکنې: د افغانستان په لیرې پرتو سیمو کې د ټاکنو ورځ ، " هارپرز ، یاد سند د ۲۰۱۴ کال د اپریل له ۷ مې راهیسې په دغه ویب پاڼه کې د لاسرسي وړ دی: the-ghost-polls-of-afghanistan/۰۴/۲۰۱۴/https://harpers.org/blog

۲۲ په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان په ولایتي شوراګانو کې د میرمنو لپاره د ځانګړې شویو څوکیو د شمیر کمولو لپاره یوه هڅه شوې وه؛ ، "په افغانستان کې له ګواښ سره مخ میرمنو حفاظت" تر سرلیک لاندې د ابوبکر صدیق او قادر حبیب لیکنه وګورئ، د اروپا آزادي راډیو ، آزادۍ راډیو ، د جون ۲۴ مه ، ۲۰۱۳ کال دا لیکنه په دې ویب پاڼه کې موجوده ده: html.۲۵۰۲۲۲۲۱/https://www.rferl.org/a/afghanistan-women-gender-legislature-quota

۲۳ نواه کوبورن و محمد حسن وفایی، "د افغانستان په ټاکنو کې د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی".

# ۳. د څېړنې طرحه

د یادې څېړنې په طرحه کې بېلابېلو عواملو تاثیر درلود. د دوه نړیوالو او پنځو افغان څېړونکو ډلې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ لومړنۍ سروې او د هغې په واسطه په ګوته شویو خلاګانو ته د ځواب ویلو لپاره یو طرحه په ګډه چمتو کړه. لومړی، د دې لپاره چې پوه شو چې څنګه په افغانستان کې بیلابیل میرمنې د ګډون لپاره محدودیتونو سره مخامخ شوي او پرې برلاسه شوي، نو دا اړینه وه چې داسې یوه ګڼ-ساحوي پروژه په پام کې ونیول شي چې وکولای شي مرکزي او ولایتي دفترونه دواړه وګوري. دوهم ، په داسې حال کې چې حکومتي دفترونه د پروژې لومړنی تمرکز و ، څېړونکو پریکړه وکړه چې د "ګډون" تعریفونه، هراړخیز وساتي ترڅو غیردولتي موسسې او د کار نور ځایونه هم په کې شامل شي، نو په دې توګه وګوري چې آیا په حکومتي دفترونو کې شته دود او چلند په نورو دفترونو کې هم ساری لري. دربیم ، څېړونکو احساس کاوه چې دا مهم وه چې په کور کې د میرمنو ګډون په اړه پوښتنې شاملې شي ترڅو دا وڅېړل شي چې آیا ځواب ویونکو د کور او کورنۍ ژوند ترمینځ تړاو رامنځته کړی.

کړندودونه (میتودونه) او وسیلې

انفرادي نیمه ساختاري مرکې د دې پروژې لپاره د معلوماتو راټولولو د لومړنۍ وسیلې په توګه وټاکل شوې، په یو ډول ، کله چې څېړونکي له ځواب ویونکو سره باوري اړیکې رامینځته کړي، بیا دوی (ځواب ویونکي) ژورو شخصي خبرو اترو ته اجازه ورکوي کومې چې په کارځای کې د جنسي ځورونې په څېر د حساسو موضوعاتو د بحث لپاره ګټورې بلل کیږي. داسې انګیرل کیده چې سروې ګانو په څېر کميتي میتودونه به ونه شي کولای چې په کافي اندازه د میرمنو د کیسو او تجربو دقیق او ظریف ټکي ثبت کړي. څېړونکو له ځواب ویونکو سره د یو لړ پرانیستو پوښتنو او څېړنو له مخې خبرې وکړې، خو موخه یې دا وه ترڅو یقیني کړي چې د امکان تر بریده د دوی ترمنځ خبرې د ځواب ویونکو په مشرۍ وي او د هغوي لومړیتوبونه منعکس کړي.

د انفرادي مرکو سربیره ، د تمرکز ګروپ بحثونه د ښځو له کوچنیو ډلو سره د ډله ییز بحث هڅولو د وسیلې په توګه ترسره شول ترڅو دا معلومه کړي چې آیا د دوی ترمنځ د بحث وړ موضوع په اړه کوم د نظر توافق یا اختلاف موجود دی. د دې میتودونو د غوراوي بل مهم دلیل د څېړونکي ټیم مهارتونه وو ، ځکه چې ټول یې د کیفیتي میتودونو په کارونه کې پراخه روزنه او تجربه درلوده.

نمونه اخیستنه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې(AREU) څېړونکو په مجموعي ډول ۷۸ نیمه ساختاري مرکې او ۸ متمرکز ګروپي بحثونه د ۲۰۱۹ میلادي کال د مئ او سپټمبر میاشتو ترمنځ په څلورو ولایتونو کې ترسره کړي دي. مرکه شوي کسان عموماً ښځینه وې چې په سیاست کې هم تر یو حده فعالې وې. په دغو مرکو کې دولتي چارواکو ، د مدني ټولنې استازو او ځایي ښځینه فعالینو برخه اخیستې وه. په داسې حال کې چې دا پروژه د "عادي" میرمنو د نظرونو د انعکاس لپاره ډیزاین شوې نه وه، خو هڅه شوې ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې مرکه کوونکي یوازې ملي شخصیتونه نه وي بلکې داسې شخصیتونه هم وي چې د ولسوالۍ او ولایت په کچه د سیاسي فعالیت استازیتوب وکړي.

د بلخ ، بامیان ، کابل او ننګرهار ولایتونه ځکه وټاکل شول چې دوی نسبتاً خوندي وو ، د څېړونکو لاسرسی لپاره په کې زمینه مساعده وه، مګر بیا هم په ځانګړې توګه د ننګرهار په قضیه کې ،امنیتي ستونزې شتون درلود. دا هغه ولایتونه ول چې څېړونکو مخکې هم په کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ لپاره څېړنې کړې وې، نوځکه د دې زمینه په کې مساعده وه چې بدلیدونکې چلندونه سره پرتله کړي. مرکه شوي کسان د کلیوالي او ښاري لیدلورو د انعکاس لپاره هم ټاکل شوي ول. همدارانز له هغو کورنیو سره هم مرکې شوې وې چې په دودیز ډول له ممتاز قشر(نخبه قشر)څخه وې او ځینې نور یې بیا له خورا محروم قشر وې. د ولسوالۍ، ښار او کلي په کچه، د څېړنې لپاره هغه ښځې په نظر کې نیول شوې وې چې د مشرتابه دندې یې ترسره کولې.

څېړنیزې مرکې لکه څنګه چې په څلورم جدول کې ښودل شوي په بېلو برخو ویشل شوي دي:

څلورم جدول: د مرکو شمېر د ولایت او ولسوالۍ په توپیر سره

| ولایت | ولسوالۍ | د مرکو شمېر |
|---|---|---|
| بامیان | د بامیان ښار، یکولنګ | ۲۰ |
| بلخ | مزار شریف ښار، بلخ او دهدادي | ۲۲ |
| کابل | | ۱۲ |
| ننګرهار | د جلال آباد ښار، بهسود | ۲۰ |

**د څېړنیزو معلوماتو تحلیل**

راټول شوي معلومات په دقیق ډول کود ګذاري شوي (coded) او د مسلو څېړنپاڼو لپاره موضوعات نیغ په نیغه د مرکو له متنونو څخه اخیستل شوي، څېړونکي ډاډ ورکوي چې د ځواب ورکونکو خپل نظرونه، لومړیتوبونه او تحلیلونه د څېړنیز سند په موندونو کې مرکزي رول لوبولی دی. په داسې حال کې چې د لومړنیو معلوماتو تحلیل د نړیوال څېړونکو لخوا په پیل کې ترسره شوی، خو بیا هم ټول ټیم د څېړنیز متن په لوستلو او د بدلونونو د وضع کولو او تیروتنو د سمون لپاره په وړاندیزونو کې ښکېل و.

**اخلاقي ملاحظات**

ډیره پاملرنه وشوه ترڅو یقیني شي چې مستعار نومونه په ټولو څېړنیز متنونو کې کارول شوي او د محرمیت اساسي اصولو ته درناوی شوی. د څېړنې موخه او د تمویل سرچینه، ټولو ځواب ویونکو ته د مرکې له پیل وړاندې تشریح شوې وو. د ځواب ویونکو او د څېړنې ډلې لپاره امنیت خورا د اندېښنې وړ و، نو ځکه د څېړنې په ترڅ کې د مرکو لارې او ځایونه هره ورځ بدل شوي او د موجوده امنیتي تازه معلوماتو پر بنسټ، د انعطاف وړ پلان په پام کې نیول شوی دی.

**محدودیتونه**

د معلوماتو راټولولو پرمهال، څېړنیز ټیم یو شمېر ننګونې تجربه کړې. په ځانګړې توګه په کابل کې، دا چاره ستونزمنه وه چې هغه لوړ پوړي ځواب ویونکي وموميْ څوک چې د ۲۰۱۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو په ډرشل کې په یادې څېړنیزې پروژه کې برخه اخیستو ته لیواله ول. نوځکه د اړتیا له مخې دغه پروژه د ۲۰۱۹ میلادي کال سپټمبر میاشت ته وغځېده. په ننګرهار او د بلخ په ځینو سیمو کې د امنیتي ستونزو له امله په ساحوي کار کې ځنډ رامنځته شو او د سروې لپاره پر ټاکل شوي ولسوالیو بې یو څه اغیز درلود.

د هرې مرکې په جریان کې د دوو څېړنکو لخوا یادداشت اخیستل شوی او وروسته بیا دغه یادداشتونه له یو بل سره پرتله شوي. په هر صورت، تل څه نا څه دا خطر شتون لري چې ځینې معلومات به په دې توګه له منځه لاړ شي. د مرکې پر مهال د هر ځواب وروسته، بیا هم له ځواب ویونکو څخه څو ځلې پوښتنه شوې ترڅو یقیني شي چې څېړنکو د دوی د خبرو په معنا باندې سم پوه شوي دي.

# ۴. موندنې (پايلې)

د دې پروژې په لړ کې مرکه شوې ځواب ويونکو په افغانستان کې په سياسي بهيرونو کې د ښځو پر ګډون خبرې کړې او د دوی پر ورتيا يې ټينګار کړی چې دوی کولای شي په سياسي بهيرونو کې برخه واخلي او نوموړي بهيرونو ته شکل ورکړي. دا خبرې اکثراً د ځواب ويونکو د مبارزو په روايتونو کې نغښتې وې ، کوم چې دوی د تعليم او ځينې سياسي موقفونو ته لاسرسي خوندي کولو لپاره ترسره کړي. په ورته وخت کې، پر دې سربيره، ځواب ويونکو په سياسي بهيرونو کې د برخه اخيستنې ډيری خنډونه واضح کړل. دا راپور لومړی د ښځو د ګډون پر وړاندې ځينې مهم خنډونه د لنډيز په بڼه ليکي چې د څېړنې په ترځ کې په ګوته شوي ول.

## ۱.۴ د کور او کار ځای په تصميم نيونه کې د ښځو ګډون پر وړاندې مهم خنډونه

لاندې اته موضوع ګانې د عمومي او / يا سياسي تصميم نيونې په ډګرونو کې د ښځو ګډون پر وړاندې عمومي خنډونه جوړوي چې د ټولو ولايتونو د ځواب ويونکو لخوا پرې بحث شوی دی: حيثيت؛ د ځواک اړيکو اړوند د بريا او ماتې ذهنيت؛ د ښځو ځان پيژندنه او/ يا د نورو ښځو پيژندنه؛ اړيکې (يا ملاتړ ډوله اړيکې)؛ د مالي خپلواکۍ نشتون؛ په کورنۍ کې د جنسيت ټولنيزه کول؛ د مرکز-محور سياست نشتوالی او بلاخره جنسيتي تاوتريخوالی.

### حيثيت

د يوې انفرادي ميرمنې او د ټولې کورنۍ د نماينده په توګه ، د حيثيت ساتل د هغو ګڼ شمېر ميرمنو لپاره لومړيتوب دی چې په ځانګړي توګه له کوره بهر کار کوي او د معلوماتو په ټولګه (dataset) کې د عمومي يا سياسي تصميم نيونې اړوند د ميرمنو ګډون په وړاندې لومړنی خنډ دی. دوه فاکتورونه (لاملونه) سره يو ځای کيږي نو څکه د دغې خنډ ليرې کيدل په ځانګړي ډول ستونزمنوي: لومړی ، هغه اهميت چې په ټول افغانستان کې د ښځو "عزت" (جنسي عفت) ته ځانګړی شوی او د خپلو کورنيو عزت او حيثيت ساتلو لپاره د دوی مسؤليت ، او دوهم ، فزيکي ځورونې لپاره مساعد کارځايونه چيرې چې د ښځينه کارکوونکو لپاره ډيری وختونه لږې اسانتياوې شتون لري (د بيلګې په توګه جلا دفترونه يا ښځينه تشنابونه). لاندې نقل قول شوې خبرې دا څرګندوي چې دغه دوه فاکتورونو کې (الف- د کور څخه بهر کار کولو لپاره او (ب-د تصميم نيونې په بهيرونو کې خپل نظرونو د بيان لپاره د ميرمنو ميلان (علاقه) کموي :

> ترټولو مهمه خبره دا ده چې ميرمنې نه غواړي د فزيکی ځورونې سره مخ شي کوم چې د افغاني نارينه وو ترمنځ دود دی. کله چې ميرمنې له نارينه وو سره په يو دفتر کې کار کوي، نو نارينه فکر کوي چې کولای شي له دوی [ښځينه همکارانو] څخه د فزيکی اړيکو غوښتنه وکړي. له همدې امله ميرمنې نه غواړي د نارينه وو تر نظارت لاندې کار وکړي.[۲۴]

> زه خوشحاله يم چې ما [ټاکنې] ونه ګټلې ، سره له دې چې زه پوهيږم د ټاکنو خپلواک کميسيون پايلې بدلې کړې. ډيری نوماندانو د برياليتوب لپاره ډيرې پيسې ورکړې ، يو شمير يې ځواکمن ول خو ځينو نور يې د ټاکنو خپلواک کميسيون له کارکوونکو سره [جنسي] اړيکې درلودې ... نن ورځ ، د ټاکنو د پايلو له اعلان وروسته، ډيری خلک فکر کوي هغه ميرمنې چې په ټاکنو کې بريالۍ شوي يا په حکومت کې په لوړو پوستونو کې کار کوي بدلمنې او بې عفته ښځې دي. پوهيږم چې دا خبرې رېښتيا نه دي ، مګر دا د خلکو ذهنيت او باور دی او دا هغه څه دي چې دوی له رسنيو څخه اوريدلي.[۲۵]

> ميرمنې په دې دولتي اداره کې ځورول شوي ، مګر دوی د دې ځورونې پر خلاف خپل شکايتونه نه دي ثبت کړي ځکه چې دوی فکر کاوه شايد د شکايتونو سيستم موثر واقع نشي او په دې توګه د دوی حرمت او حيثيت به زيانمن شي.[۲۶]

> د دې بداخلاقو نارينه وو پخاطر ، ډيری لايقه ميرمنې له کوره بهر کار نه کوي ، دا نارينه زمونږ ټولنه محدودوي او پرې تيارې خپروي که نه ټولنه د ښځو لپاره خوندي ده ... په ډيری موسساتو کې ، نارينه له ښځو ناوړه ګټه پورته کوي. مګر ښځې نشي کولای د دوی افشا کولو لپاره خپلې خولې خلاصې کړي - که چيرې ميرمنې د نارينه وو د ناوړه چلند په اړه وغږيږي، نو په يقين سره، خلک به ادعا وکړي چې دوی ښې (پاک لمنې) ښځې نه دي ... که دوی ښې ښځې وای نو هيڅکله به د يو نارينه په موقف کې کار کړې نه وای.[۲۷]

۲۴ مرکه ، ننګرهار-UNW-WPPD-۲۴۰۲۲۰۱۹

۲۵ مرکه،ننګرهار - UNW-WPPD-۱۲۰۲۲۰۱۹

۲۶ مرکه ، باميان-UNW-WPPD-۲۸۰۷۲۰۱۹

۲۷ مرکه ، باميان UNW-WPPD-۰۱۰۸۲۰۱۹

له کلتوري پلوه، میرمنې اجازه نلري چې له کوره بهر کار وکړي، نو هغه میرمنې چې بهر کار کوي نه غواړي په خپلو سازمانونو کې د مشرتابه مسوولیت په غاړه ولري. دلیل یې دا دی چې که دوی په کاري چاپېریال کې له ستونزو سره مخ شي، دا ستونزې ښایي د دوی پر کورنۍ ناوړه اغیزه وکړي او ښایي د کورنۍ په کچه د میرمنو لپاره ستونزې رامنځته کړي. پدې توګه ، میرمنې د مشرتابه مسوولیت په غاړه اخیستو څخه ډډه کوي.[۲۸]

مونږ په اوونۍ کې یو ځل ناسته لرو ، په دې ناسته کې باید له ټولو ځانګو څخه استازي ګډون ولري. د جنډر او بشري حقونو مدیر یو نارینه دی. ده نه خوښول چې مونږ په اونیزو غونډو کې برخه واخلو. ما خپل قوماندان ته شکایت وکړ او پوښتنه مې وکړه چې ولې زه په غونډو کې ګډون نشم کولای. زه تاسو او خپلو ښځینه همکارانو ته په یوه سترګه ګورم ، نو تاسو ولې یوازې ما ته د یوې میرمنې په سترګه ګورئ نه د یو پولیس افسرې او همکارې په توګه؟ کله چې ده ونشو کولای چې په غونډو کې زما د ګډون مخه ونیسي ، نو زما په اړه یې اوازې خپرې کړې، ځکه چې دی پوهېږي چې د یوې ښځې کمزورتیا د هغې عزت دی.[۲۹]

د میرمنو حیثیت سره جنسي عفت خورا نږدې تړاو لري، دوی نه یوازې د فزیکي جنسي ځورونې په وړاندې زیان منونکي دي بلکه د جنسي اړیکې په اړه د اوازو د خپریدو له ګواښ څخه هم زیان وینې. د بېلګې په توګه په دې کې عمومي انګیرنه شامله ده هغه دا چې په لوړ موقف کې یوه ښځه د ځان پرمختګ لپاره ښایي جنسي اړیکه ټینګه کړې وي ، نو له همدې امله، ځان د نورو نارینه وو د جنسي ګټه اخیستنې هڅو ته لا ډیر زیان منونکی کوي.

په بامیانو کې یوې میرمنې په خپله اداره کې د ورته جنسي ځورونې په اړه څرګندونه کړې، نه یوازې دا چې دوی او نورې میرمنې ونه شو کولای چې د خپلې ادارې رییس پر خلاف شکایتونه محکمو کې ثبت کړي ، بلکې په ټولنه کې نورو ته د داسې نارینه وو افشا کول به په سیاست کې د میرمنو د ګډون وړتیا ته زیان ورسوي، که چیرې خلک زمونږ په اداره کې د داسې ځورونې په اړه پوهیدلای وای ، نو دوی به ښځو ته اجازه نه وه ورکړې چې نور هلته کار وکړي ، په پای کې دا افشا کول د هغه سړي په پرتله چې په ځورونې تورن شوی،ښځو ته ډیر زیان رسوي.[۳۰]

په دې توګه ، د شکایت کولو او نارینه وو ته د دوی د ناوړه اعمالو پخاطر سزا ورکولو پرخلاف د مخنیوي عوامل درې چنده دي: دوی د وګړو په توګه د میرمنو حیثیت، د هغوی د کورنیو حیثیت او د هغوی د دفترونو اعتبار په اړه چې د ښځو د کار لپاره مناسب ځایونه بلل کیږي، اندیښنې لري. د ځورونې په اړه شکایت کول نورو میرمنو همکارانو ته د دوی د دندو په قیمت تمامیدلای شي که چیرې د دوی کورنۍ د نوموړو میرمنو کاري چاپیریال د دوی لپاره غیر مناسب وګڼي. لکه څنګه چې د وروستیو دوه ځواب ویونکو نقل قول شوې خبرې هم په دې معنی دي چې د حیثیت په اړه د ناوړو اوازو خپریدو ګواښ کولای شي حتی میرمنې په غونډو کې له ګډونه منع کړي، د ګډونوالو پر وړاندې په جرأت وینا کول او خپل نظرونو مطرح کول خو په خپل ځای پریږده. په دې توګه ځان ته پام راړول، د میرمنو حیثیت ته جدي خطر پېښوي.

داسې بریښي چې دا ستونزه د وخت په تیریدو سره لا پراخه شوې ده ځکه چې په ۲۰۰۱ میلادي کال کې د طالبانو د رژیم له راپرزیدو وروسته د ښځو لپاره کارځایونه ډیر شول. په عمومي توګه، ښایي دا ستونزه په دفترونو کې د ګڼ شمېر ښځینه کارکوونکو د شتون په شمول د ډیرو نورو فاکتورونو، پایله وي، خو خورا پراخه انټرنټ او ټولنیزو رسنیو ته لاسرسی یې بل لامل کیدای شي. هغه څه چې دا حقیقت یې څرګندوي تر دې حده د ښځو په وړاندې خطرونه او په عمومي ژوند کې د دوی فرصتونو ته ګواښونه مخ په ډیریدو دي، حتی اوس هم د اشرف غني تر مشرۍ لاندې ظاهراً په پرمختګ کونکي اداري کې – داسې خطرونه او ګواښونه شته چې طالبانو او نورو محافظه کاره ډلو ته لا ډیره بهانه په لاس ورکوي ترڅو په ټولنه کې د ښځو سیاسي ګډون محدود کړي.

۲۸ مرکه ، ننګرهار-UNW-WPPD-۰۲۰۷۲۰۱۹.

۲۹ مرکه ، ننګرهار-UNW-WPPD-۲۴۰۲۲۰۱۹

۳۰ مرکه ، بامیان-UNW-WPPD-۲۹۰۷۲۰۱۹.

## د ځواک د بريا او ماتې ذهنيت

د جرارو (زړه ورې) ميرمنو (او ښايي د دې لامل وي) پر وړاندې د نارينه وو ترمنځ داسې ميلان (ليوالتيا ) شته ترڅو د ګواښلو او شرمولو په واسطه دوی چوپتيا ته مجبورې کړي ځکه چې نارينه د ښځو پرمختګ د خپل ځان لپاره يو ګواښ ګڼي. لکه څنګه چې په کابل کې يوې ښځينه وکيلې وويلې: "حتی که نارينه نوماند د ځان لپاره د رايو په راټولولو کې پاتې راشي، نو بيا هم کولای شي چې د ښځينه نوماندې د رايو بانک له مينځه يوسي[31]،" دا ستونزه هم د افغانستان د انتقال نه وړ رايو واحد سيستم په ماهيت او هم د ښځينه نوماندې په پرتله د لړو رايو په ترلاسه کولو کې د شرم احساس پورې اړه لري. په ټولو څلورو ولايتونو کې ځواب ويونکو يادونه کړې چې څنګه نارينه نه غواړي په دفترونو کې د ميرمنو واک ته تسليم شي يا په لوړو پوستونو کې يې ومني:

> زمونږ د ټولنې [پلارواکی] نظام او دودونه هم د ميرمنو لپاره ستونزې زيږوي. ډيری وختونه، نارينه د ښځو د پريکړو خلاف وي او دا وضعيت پر ميرمنو باندې اضافي فشار راوړي ، چې له امله يې دوی دا غوره ګڼي چې په غونډو کې ګډون ونکړي.[32]
>
> که چيرې په يو دفتر کې يوه ښځه په يو لوړ موقف کې کار وکړي، د هغې تر نظارت لاندې نارينه کارکوونکي فکر کوي چې دوی د هغې په پرتله غوره او ډير بريالي دي ځکه چې دوی نارينه دي. دوی ځان ته د خبرو کولو او پريکړو کولو حق ورکوي ځکه چې دوی نارينه دي. کله چې يو نارينه او يوه ښځه يو ډول موقف ولري، نارينه به هڅه وکړي چې د ځان لپاره د دندې لايحې خورا په زړه پورې برخې وساتي او خپله سياله ورنه بې برخې کړي. کله چې د پوښتنو او ځوابونو غونډه وي، نارينه به حتی هغه پوښتنه ځواب کړي چې له ميرمنې څخه شوې وي. دوی په هرڅه کې لاسوهنه کوي او وايي چې دوی د ميرمنو په پرتله ښه پوهيږي...[33]
>
> نارينه، ځواک غوښتونکي (قدرت طلبه ) دي؛ دوی ميرمنو ته اجازه نه ورکوي چې له دوی څخه لا ځواکمنې اوسي. دوی يوازې دا معلوموي چې په ټولنه کې د ښځو کمزورتياوې څه دي او بيا له دغو کمزورتياوو څخه کار اخلي ترڅو د دوی لپاره کاري چاپيريال ستونزمن کړي. په داسې يوه وضعيت کې، زمونږ په ټولنه کې ، ميرمنې بيا خپلې دندې پريږدي او يا هم منزوي (ګوښي ) کيږي او د بل چا په چارو کې نور لاسوهنه نه کوي[34].
>
> نارينه د شرم او ذلت احساس کوي که چيرې دوی له خپلو ميرمنو څخه د پريکړو په اړه وپوښتي او يا هم ترينه د مشورې غوښتنه وکړي.[35]

لکه څنګه چې ډيری ميرمنو په خپلو خبرو کې ورته اشاره کړې ، ځينې وختونه نارينه د ښځو خبرو ته غوږ نه نيسي ، حتی که دوی چارواکي (د واک په مقام کې) هم وي. لکه څنګه چې په يوې سروې شوې ولسوالۍ کې د والي دفتر د دارالانشا لخوا په ګوته شوې ده.[36] داسې انګيرل کيږي چې نارينه له ميرمنو څخه ډير پوهيږي ، حتی کله چې دا خبره په څرګند ډول حقيقت هم ونلري. دا په مستقيم ډول په پراخه کچه له هغې نظريې سره تړاو لري چې د تصميم نيونې کوم ځواک چې ميرمنې يې لري په کور کې يا په دنده کې د نارينه وو د کمزورتيا او يا هم د مشرتابه لپاره د دوی د نه وړتيا نښه ده. د ميرمنو او نارينه وو ترمينځ د ځواک عوامل پر وړاندې دغه د بريا او ماتې ذهنيت کړندود په غيرارادي ډول(او ښايي ځينې وختونه ، په ارادي ډول) د نړيوالو مرستندويه برنامو لخوا تشديد شوی دی چې په ځانګړي ډول پر ښځو تمرکز لري او اصلي انديښنه يې دوی ته د دوامدارې پاملرنې او تمويل برابرول دي.

---

۳۱ مرکه-کابل-UNW-WPPD-۲۸۰۵۲۰۱۹

۳۲ مرکه -بلخ-۱۰۰۷۲۲۰۱۹ UNW-WPPD

۳۳ مرکه -ننگرهار-۱۵۰۶۲۲۰۱۹ UNW-WPPD

۳۴ مرکه -ننگرهار-۲۳۰۶۲۲۰۱۹ UNW-WPPD

۳۵ مرکه ، باميان-UNW-WPPD-۲۵۰۷۲۰۱۹.

۳۶ مرکه ، باميان-UNW-WPPD-۰۴۰۸۲۰۱۹.

**د میرمنو ځان پیژندنه/د نورو میرمنو پیژندنه**

د نارینه وو د هغې عمومي انګیرنې سربیره چې ګواکې د میرمنو تصمیم نیونه د نارینه وو واک زیانمنوي، د ځان او نورو میرمنو په اړه د ښځو باور او ذهنیت هم د دوی معنی لرونکي ګډون لپاره یو مهم خنډ دی. لکه څنګه چې د کابل یوې ځواب ویونکې وویلې: میرمنې "د ښاریانو په توګه برخه نه اخلي" [37]؛ په بله وینا، میرمنې خپل ګډون ته د نارینه وو سیاسي ګډون په کچه ارزښت نه ورکوي. ځواب ویونکو د دې لپاره بېلابېل دلیلونه وړاندې کړل. په بلخ ولایت کې یوې ښځینه فعالې په دې اړه وویلې:په هر صورت، دا د واقعیت پالنې د احساس پایله ده چې له امله یې میرمنې نارینه وو ته واک ورکوي ترڅو پریکړې وکړي: "میرمنې باور لري چې هرڅه د نارینه وو لخوا فیصله کیږي که دوی برخه واخلي یا که نه [38]. " ګڼ شمېر نور بیا دا باور درلود چې دا د میرمنو د ګډون ورڼتیا په اړه پر ځان د دوی د باور نشتوالی له امله دی، چې دا باور نشتوالی په کور کې د دوی په وړاندې له چلند څخه سرچینه اخلي:

> دا زمونږ په ټولنه کې د میرمنو لپاره یوه عمده ستونزه ده - میرمنې محروم قشر دی او د پریکړې کولو له بهیر څخه لیرې ساتل کیږي. حتی کله چې په کور کې یو کوچنی هلک وي، د هغه مشره خور نشي کولای د خپل کوچني ورونو په وړاندې یوه خبره هم وکړي...[39]

> میرمنې باید د کوچنیو مسلو په اړه په کورنیو کې د پریکړې کولو تمرین پیل کړي ترڅو پر ځان باندې باور او اعتماد رامینځته کړي.[40] میرمنې پر خپل ځان ډیر باور او اعتماد ته اړتیا لري، دوی د نارینه وو په پرتله ډیر کار کوي، دوی باید پر خپل ځان باور وکړي چې ښې پریکړې کولای شي. میرمنې تل هڅه کوي چې ښې میرمنې او میندې اوسي او د ټولنې لپاره ښه ماشومان وروزي.[41]

میرمنې تر یو حده په کور کې په تصمیم نیونه کې ښکېلې دي، خو دا بیا له یو کور نه تر بل کور پورې خورا توپیر لري. لکه څنګه چې پورته یې یادونه وشوه، میرمنې کولای شي پر کورنیو چارو باندې د پام وړ غیررسمي اغیزه ولري. په هر حال، دا اغیزه په کورنۍ کې ځوان هلکانو ته ډیر کم ښودل کیږي چې میرمنې په آزاده توګه په پریکړو کې برخه اخیستلای شي. نه هم دا غیر رسمي نغوذ د نورو په وړاندې په تصمیم نیونه کې د باور پیاوړتیا لپاره مرسته کوي. د باور او اعتماد نشتوالی په عمومي ډول د داسې فاکتور په توګه لیدل کیده چې د میرمنو تصمیم نیونې پر وړاندې خنډ واقع کیږي، وروستي ځواب ویونکي دلته د هغې په اړه وویل چې څنګه دا موضوع په پریکړې کولو کې له ډیر احتیاط سره هم تړاو لري، لکه څنګه چې په پورتنۍ برخه کې وویل شول ښځې لږ خطر منونکي دي، نو په حقیقت کې دوی ډاډ ترلاسه کوي چې کومې پریکړې چې دوی کړي منطقي وي:

> یو له هغو موضوعاتو څخه چې پر تصمیم نیونې باندې د میرمنو اغیز ستونزمنوي هغه دا دی چې دوی خطر پر ځان نه شي منلی. په طبیعي توګه، میرمنې د سترو پریکړو کولو لپاره خطر پرځان نه مني، خو استثناوې شتون لري، مګر [عموماً] ... یوه میرمن یوازې هغه مهال پریکړه کوي چې ډاډه وي چې هغه د دې پریکړې کولو او د دې پریکړې د عملي کولو توان لري. میرمنې د نارینه وو په څیر نه دي چې کله کوم کار پیل کوي وایي: "هیڅ ستونزه نشته، دا کار کیدی شي". میرمنې پریکړې کوي او د حقایقو پر بنسټ له څرګندې محاسبې سره پرمخ ځي ... نارینه یوازې د کاذب غرور پر اساس پریکړې کوي او کله چې یو څه وران شي نو بیا دوی مسؤلیت یې په غاړه نه اخلي.[42]

که چیرې دلته ځواب ویونکی د نارینه او ښځینه وو ترمینځ د انفرادي توپیرونو په اړه لازمي استدلال کوي یا که یې نه کوي، خو دا بیان د دې باور ښکارندوی دی چې په دولتي دندو کې پر میرمنو باندې د غوره اجراآتو د ترسره کولو فشار غیر متناسب دی. که دوی غوره اجراآت ونکړي نو د دوی خپل حیثیت او اعتبار، د دوی د کورنۍ او ښځینه همکارانو حیثیت او ډیر نور څه په خطر کې لویږي.

۳۷ مرکه-کابل-UNW-WPPD-۲۸۰۵۲۰۱۹

۳۸ مرکه -بلخ- UNW-WPPD۰۳۰۷ ۲۰۱۹

۳۹ مرکه -بلخ-UNW-WPPD ۱۰۰۷۲۰۱۹

۴۰ مرکه -بلخ- UNW-WPPD۰۴۰۷ ۲۰۱۹

۴۱ مرکه ، بامیان-UNW-WPPD-۲۸۰۷۲۰۱۹

۴۲ مرکه -بلخ- UNW-WPPD۰۴۰۷ ۲۰۱۹

د ښځو د کړنو یا اجراآتو ځینې خورا مهم قضاوت کوونکي، نارینه نه بلکې نورې میرمنې دي ،کوم چې کولای شي د دوی پر ځان باور ډېر متاثره کړي. د معلوماتو په سراسر ټولګه کې، ځواب ویونکو پر دې اړتیا خبرې کړې چې میرمنې باید په ګډه کار او یو د بل ملاتړ وکړي ترڅو د دوی تر مینځ د شک او سیالۍ دود (کلتور) شنډ او له منځه لاړ شي:

> هغه څه چې زه پر ټینګار کول غواړم هغه اړتیا ده چې میرمنې د یو بل ملاتړ وکړي. ترهغې چې مو د یو بل ملاتړ نه وي کړی، موږ به هېڅکله هم د تصمیم نیونې په کچه بریالي نه شو. له بده مرغه ، ځینې کله ناکله ګورو چې نارینه له ښځو ملاتړ کوي ، مګر میرمنې یې نه کوي ... ښایي دا د میرمنو تر مینځ د منفي سیالۍ له امله وي.[43]
>
> میرمنې باید له یو بل سره سیاسي مفاهمه (ارتباط) ولري او باید خپل حقونه وکاروي. د دوی حقونه د دوی ځواک دی. د ښځو یووالی کولای شي دوی پیاوړې کړي. د بېلګې په توګه ، په پارلمان کې ، [د یو ځانګړي نارینه سیاستوال] د رییس په توګه ردولو لپاره ، ټولې میرمنې په ګډه راغلې او یو دریځ یې درلود ... ما هلته د ښځو یووالی احساس کړ. کله چې میرمنې د نارینه وو په څېر له یو بل سره اړیکې او مفاهمه ولري، نو دوی کولای شي د تصمیم نیونې په بهیر کې فعاله برخه واخلي[44].

د ښځو ترمنځ ډله ییز اقدام یوه مهمه خو پیچلې مسئله ده. د **۲۰۰۵** میلادي کال په پارلماني ټاکنو کې د میرمنو لپاره د خوندي شویو څوکیو اغیزو په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري لخوا یوې څېړنې په ګوته کړه چې داسې باید ونه انګېرل شي چې میرمنې یوازې د ښځینه جنسیت پخاطر له یو بل سره د کار کولو لپاره میلان لري، حال دا چې د نورو دلیلونو سربېره، څېړنې دا هم وښودله چې د پارلمان ځینې ښځینه وکیلانې خپله لاره یې له نورو ښځینه وکیلانو څخه د توکم ، سیاسي یا مذهبي اختلافاتو او له جرراو میرمنو څخه په بیلتون کې د خپل حیثیت ساتلو د اړتیا او شخصي دښمنیو له امله، جلا کړې وه.[45]

په ورته ډول، دا روښانه شوه چې میرمنې په پارلمان کې د خپلو نارینه همکارانو په څېر سیاسي لید لوری لري ،نو ځکه ستراتیژیک ائتلافونه رامینځته کوي (او اکثراً له غیراحتمالي سیاسي متحدینو سره). په هر حال، دا باید ونه ویل شي چې ښځینه وکیلانې د ښځو په توګه د ډله ییز اقدام په ارزښت نه پوهیږي، او نه هم دا چې په پارلمان کې سیاسي چاپیریال غیرفعال (راکد) دی. په حقیقت کې ، د **۲۰۱۹** کال پارلمان – عیناً د **۲۰۱۹** کال افغانستان په څېر- له **۲۰۰۲** کال پارلمان سره ډېر توپیر لري ، او له طالبانو سره د راتلونکو خبرو اترو امکان په پام کې نیولو سره، د ښځو لپاره خطرونه ډېر لوړ دي. میرمنې ښایي اوس په پارلمان کې د پخوانیو ناستو په پرتله ډېر کار وکړي ، دا وضعیت هغه حقیقت منعکس کوي چې ښځینه وکیلانې ډله ییز اقدام په هغه صورت کې غوره ګڼي چې د سیاستوالو او میرمنو په توګه د دوی له ګټو سره سمون ولري.

**اړیکې/ملاتړ (روابط)**

د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري په څیړنه کې چې پورته یې یادونه وشوه، په پارلمان کې د میرمنو د ډله ییز اقدام په وړاندې یو له مهمو خنډونو څخه د مقننه قوې بهر د نفوذ لرونکو څېرو او ډلو سره په انفرادي ډول د ښځینه وکیلانو د اړیکو ماهیت وو. دا اړیکې یا رابطې، چې په دري کې ورته روابط ویل کیږي، په دې معنا وو چې د قانون جوړونکو په توګه د ښځینه وکیلانو پریکړې د نورو تر اغیزې لاندې کیدلې. د اړیکو مسلې د ځواب ویونکو له خوا په تفصیل سره تر بحث لاندې ونیول شوې، چې یو شمېر یې (په ځانګړي ډول په بلخ کې) اړیکې (روابط) په ځینو مواردو کې لومړی د مقام ترلاسه کولو لپاره د یوازنۍ لارې په توګه لیدلې ، خو دا کار ډیرې ښې پایلې هم د هغو پریکړو لپاره له ځان سره لرلې چې مقام ته له رسیدو وروسته، میرمنې یې توان درلود.

> میرمنې، رښتینې او استعداد لرونکې دي ، مګر دوی به یوازې هغه مهال ښې پریکړې وکړي کله چې خپلواکه وي او په کوم ګوند پورې تړلې نه وي. هغه میرمنې چې په افغانستان کې د یوه ګوند له لارې مقام ترلاسه کوي باید د هماغه ځانګړي ګوند پلان تعقیب کړي ، نو دا میرمنې به ونشي کړای په هره کچه په تصمیم نیونه کې برخه واخلي. دوی به د واک له نشتون سربیره ډېر مسؤلیت ولري ... ګڼ شمېر استعداد لرونکې میرمنې شته چې په کوم ګوند پورې تړلې نه دي، له همدې امله دوی د حکومت په مهمو پوستونو کې دنده نه ترسره کوي.[46]
>
> هرکله چې [یوه ښځه] د یو ځانګړي کس په مرسته یو مقام (موقف) ترلاسه کړي، هغه سمبولیک رول لري او د خپلې د دندې لایحې سره سم هیڅ هم نشي کولای.[47]

۴۳ مرکه -بلخ- ۲۰۱۹ UNW-WPPD۱۰۰۸

۴۴ مرکه -ننګرهار- ۲۰۱۹ UNW-WPPD۱۲۰۲

۴۵ انا ورډزورت ، د ګټو مسئله: د افغانستان په ولسي جرګه کې جنسیت او د حضور سیاست (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد ، ۲۰۰۷ کال)

۴۶ مرکه -ننګرهار- ۲۰۱۹ UNW-WPPD۱۵۰۲

۴۷ مرکه -بامیان- ۲۰۱۹ UNW-WPPD۲۵۰۷

زه غواړم تاسو ته په واضح ډول ووایم چې دلته اړیکې د وړتیاوو (استعدادونو) څخه ډیرې قوي دي. دا اړیکې او فساد هغه لاملونه دي چې میرمنې یې له امله په لوړو موقفونو کې نه دي، ځکه چې دوی له زورواکو سره اړیکې نه لري او نه هم پیسې لري چې د لوړ موقف ترلاسه کولو لپاره بډې (رشوت) ورکړي.[۴۸]

د ولایتي شورا هغه غړي چې د ټاکنو د ګټلو لپاره د زورواکو لخوا ترینه ملاتړ شوی وو، اکثراً د دوی لخوا ګواښل کیږي. کله چې د ولایتي شورا غړي و نه توانیږي چې د دغو زورواکو ل ګټې خوندي کړي، دوی یې بیا سپکاوی کوي او ورته یادونه کوي چې د ولایتي شورا د غړي ټاکنیز کمپاین لپاره یې څومره پیسې لګولي دي[۴۹].

میرمنې د بلخ په ولایت کې [د ننګرهار په پرتله] ، په عامه او خصوصي سکټور کې روښانه او فعاله ونډه لري. دوی د سوداګرو، ټکسي چلوونکو ، هتیې والو او ښوونکو په توګه فعالیت کوي. له بلې خوا ، دلته حکومت د سیاسي ګوندونو ترمنځ ویشل شوی دی. والي د جمعیت استازی دی او د هغه دوه مرستیالان د وحدت ملی او جنبش غړي دي. دا هغه چارواکي دي چې پریکړې (فیصلې) کوي.[۵۰]

په تیرو **۱۵** کلونو کې، څیړونکو له یو شمیر هغو میرمنو سره خبرې کړي دي چې هڅه یې کړې (کله ناکله په بریالیتوب سره) ترڅو له دې ډول اړیکو ګټه پورته کړي. د بېلګې په توګه، د ټاکنیزو کمپاینونو لپاره له سیاسي ګوندونو څخه پیسې منل مګر بیا وروسته په رسمي ډول د ګوند له غړیتوب څخه ډډه کول.[۵۱] په هر حال، حتی له سیاسي ګوندونو سره د اړیکو درلودلو اوازې په داسې یو هیواد کې منفي پایلې لرلای شي چیرې چې نوموړي ګوندونه اکثراً د کورنۍ جګړې له تاوتریخوالي سره تړاو لري، خو په ټاکنو کې د نوماندانو اکثریت حتی له یو ګوند سره د اوږد مهالو اړیکو لرلو سربیره ادعا کوي چې دوی خپلواک دي. کله چې د تصمیم نیونې خبره مطرح کیږي، نو اړیکې (روابط) د ګټور سیاسي ګډون په وړاندې عمده خنډ ثابتیږي.

## مالي وابستګي

مالي وابستګي له اړیکو سره تړاو لري، پر نفوذ لرونکو اشخاصو، ګوندونو، یا په ساده وینا ، د یوې کورنۍ پر نارینه وو باندې مالي وابستګي د میرمنو د ګټور ګډون پر وړتیا باندې د پام وړ اغیزه لري، ځکه چې د بېلګې په توګه حتی د سفر لپاره کوچنې لګښتونه باید له نورو وغوښتل شي خو بیا هم دا لګښت هرومرو نه ورکول کیږي:

ډیری میرمنې معاش لري مګر نشي کولای پیسې د خپل میړه له اجازې پرته مصرف کړي، او همداراز هغه میرمن چې د خپل خاوند (میړه) عاید باندې تکیه لري د مصرفولو دمخه اجازه ته اړتیا لري. دا ځکه چې زمونږ په ټولنه کې نارینه د نفقې مسوولیت په غاړه لري او میرمنې د هیڅ شي لپاره د پیسو ګټلو ته اړتیا نلري.[۵۲]

د ښار په کچه ، نالوستې میرمنې چې مالي آزادي نلري لاهم د هغو تر تاثیر لاندې دي چې دوی ته خواړه برابروي. له همدې امله ، دوی نشي کولای خپلې پریکړې پخپله وکړي. په هر حال، په ښارونو کې لوستې میرمنې اوس خپلواکه کیږي ... د بېلګې په توګه ، کله چې یوه تعلیم یافته ښځه په یوه اداره کې شامله شي او کار پیل کړي، نو معاش ترلاسه کوي ... او دا معاش د هغې شخصي بانکي حساب ته لیږدول کیږي. دا په دې مانا ده چې یوازې هغه خپل بانکي حساب او پیسو ته لاسرسی لري.[۵۳]

---

۴۸ مرکه -بلخ- ۲۰۱۹ UNW-WPPD۰۳۰۷

۴۹ مرکه -بلخ- ۲۰۱۹ UNW-WPPD۰۸۰۷

۵۰ مرکه -بلخ- ۲۰۱۹ UNW-WPPD۱۵۰۲

۵۱ ورډزورت، د ګټو مسئله، ۲۱

۵۲ مرکه ، ننګرهار ، UNW-WPPD-ننګرهار-۲۴۰۲۲۰۱۹

۵۳ مرکه ، بلخ ، UNW-WPPD-بلخ-۰۸۰۷۲۰۱۹

> په ریښتیا سره، ډیری میرمنې د خپل خاوند له اجازې پرته د پیسو مصرفولو واک نه لري ... زه یوه ښځه پېژنم چې معاش لري خو نشي کولای مصرف یې کړي، ځکه چې د هغې د کورنۍ مشرانو د هغې پیسې ورځخه اخیستې او ورته اجازه نه ورکوي چې مصرف یې کړي . د هغې میړه وایي دا چې هغې ته یې له کوره بهر د کار کولو اجازه ورکوي، دا کفایت کوي، خو معاش یې باید د کورنۍ د لګښتونو د پوره کولو لپاره مصرف شي.[۵۴]

> له مالي پلوه ، میرمنې خپلواکه نه دي. دوی هیڅ شتمنۍ نلري. یوه ښځه د پیسو د مصرفولو آزادي نلري ، باید د خسر یا خپلې کورنۍ ځخه د پیسو مصرف لپاره اجازه ترلاسه کړي.[۵۵]

که څه هم په ځانګړي توګه په ښارونو کې میرمنې کولای شي خپل بانکي حسابونه ولري او لري یې هم، خو دا د دوی لپاره خورا نادره پېښه ده چې دوی دې په بشپړه توګه له مالي پلوه خپلواکه اوسي. سربیره پر دې، په داسې حال کې چې د ښځو لپاره د شتمنۍ لرل او په میراث وړل قانوني عمل دی ، خو بیا هم په ټولنه کې دا عمل معمول نه دی. لکه څنګه چې د افغانستان د ښځینې او ارزونې اداري بلې وروستۍ څېړنې موندلې، د غیر رسمي قرضې له لارې نغدو پیسو ته لاسرسی یعنې له هڅیوالو ، کورنۍ یا نورو کلیوالو ځخه په سیمه ییزه کچه د پور اخیستلو په بڼه هم خورا جنسیتي عمل دی، نوځکه میرمنې ورته خورا محدود لاسرسی لري. حتی کله چې د خاوند لخوا میرمنې ته د پور اخیستلو اجازه ورکړل شوې، د پور د بیرته خلاصولو مسولیت، خاوند په غاړه لري نه میرمن یې. [۵۲]

له دې ماسیوا ، په کورنیو کې د میرمنو د مالي خپلواکۍ کچې تر منځ تفاوتونه د کورنۍ د غړو سلوک او د کور موقعیت له پلوه خورا توپیر لري. که چیرې د میرمنو کورونه ځایي هټۍ یا بازار ته نږدې موقعیت ولري، نو د کورنۍ لپاره دا خورا اسانه ده چې خپلو لوڼو او میرمنو ته د خواړو او کورنیو توکو د پیرودلو رول (دنده ) ورکړي ، حال دا چې که دا هټۍ د دوی له کورونو نه نور هم لیرې وي (او د ښځګې په توګه، اوږد پلي مزل ته اړتیا ولري او د نارینه وو لخوا دوی ته د نامطلوب پام اړولو خطر په کې شتون ولري ) بیا ورته دا مسوولیت نه ورکول کیږي.

په ننګرهار کې د پوهنتون یو نارینه استاد څرګنده کړه چې دا د هغه دنده وه چې د خپلې کورنۍ لپاره مصرفي توکي له بازاره واخلي ځکه چې ده د بازار تر څنګ په ښارګوټي کې کار کاوه.[۵۷] د خواړو او نورو توکو پیرودلو سره د مصرفولو او تصمیم نیونې مسؤلیت رامنځته کیږي، په داسې حال کې چې ښاري کورنۍ ښایي هټیو ته نږدې ژوند وکړي، خو دا مسئله یوازې د ښاري / کلیوالي ژوند پورې اړه نلري بلکې په څرګند ډول په کورنیو کې د میرمنو او انجونو د مسوولیتونو په وړاندې د چلند کړنلارو پورې تړاو لري.

### په کور / کورنۍ کې جنیستي ټولنیزه کول

د څیړنې په لړ کې اکثریت ځواب ویونکو په کار ځای کې د میرمنو تصمیم نیونې د ځواک نشتون یې له ځوانۍ عمر ځخه په کور کې د دوی په وړاندې له چلند سره تړاو ورکاوه. له واده وروسته د خاوند له کورنۍ سره د ژوند کولو لپاره د انجونو لیږلو پراخه دوديزه عمل اکثراً د دې لامل کیږي چې زامن د لوڼو په پرتله غوره وګڼل شي او داسې ذهنیت رامنځته کوي چې پر لوڼو باندې د پیسو مصرف لپاره دومره اړتیا نشته. دا چلند په خپل وار سره په دې معنا دی چې د هلکانو تعلیم "د انجونو تعلیم په پرتله لومړیتوب لري" ، او بله دا چې هلکان هڅول کیږي چې په کورنۍ پریکړو کې برخه واخلي، حال دا چې انجونو ته داسې تعلیم ورکول کیږي چې دوی باید مُطیع (فرمانبرداره) اوسي. لکه څنګه چې د ننګرهار یوې ځواب ویونکې داسې وویل:

> د چلند له پلوه ، دا وضعیت له کورنیو پیلیږي. ځکه چې کورنۍ غوره ګڼي چې خپلو لوڼو ته نه بلکې خپلو زامنو ته ټول فرصتونه او امکانات برابر کړي. دوی فکر کوي چې زامن یې خپل دي، خو لوڼې یې پردې دي، ځکه چې له واده وروسته نورو کورنیو ته ځي(ځکه چې دوی واده کوي). دا ډول خنډونه د میرمنو د پرمختګ مخه ډب کوي.[۵۸]

په ورته ډول ، ډیری ځواب ویونکو د نارینه وو ظاهراً پر ځان د باور ذاتي احساس په کور کې له ځوان هلکانو سره د چلند څرنګوالي ته نسبت ورکړ:"نارینه جرأت لري ځکه چې دوی دا ځواک د ماشومتوب له پیل راهیسې ترلاسه کوي. په کورنۍ کې مو دا دود دی چې مونږ هلکانو ته اهمیت ورکوو او د هغوی د ظرفیت د لوړتیا لپاره هڅه کوو ، خو بیا د کورنۍ انجونې له پامه غورځوو. "[۵۹]

---

**۵۴** مرکه ، بامیان ، UNW-WPPD-بامیان -۰۱۰۸۲۰۱۹

**۵۵** مرکه ، کابل ، UNW-WPPD- کابل-۲۸۰۵۲۰۱۹

**۵۲** ټام شاو او احسان الله غفوري، په پور اخیستل شوی وخت: د افغانستان په هرات ولایت کې د معیشتي خوندیتوب لپاره د غیر رسمي پورونو محدودیتونه (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۹ کال): وې.

**۵۷** UNW-WPPD-ننګرهار-۲۳۰۲۲۰۱۹

**۵۸** UNW-WPPD - ننګرهار- ۱۵۰۲۲۰۱۹

**۵۹** UNW-WPPD - ننګرهار-۱۸۰۲۲۰۱۹

"له ماشومتوب هاخوا، ځواب ویونکو په تصمیم نیونه کې د ښځو د ورتیا پر وړاندې په کور او کارځای کې د کورنۍ اړوند د ګڼ شمېر خنډونو په اړه خبرې وکړې، یو له دغو خنډونو څخه دا ستونزه وه چې له واده وروسته کیدای شي میرمنې د خسرانې کورنۍ د رضایت نشتون له وجې خپلې دندې پریږدي؛ باید خپلې دندې له خپلو لیرې کورنیو څخه پټې وساتي؛ ښځې په دوامداره توګه یوازې خپلو کورنیو پورې اړوند پیژندل کیږي، نه د خپلواک وګړو په توګه؛ میرمنې نشي کولای چې په کورسونو کې د ګډون په خاطر تر ناوخته له کوره بهر پاتې شي او بله دا چې لیرې کورنۍ نارینه ضعیف ګڼي که چیرې خپلې میرمنې له کوره بهر کار ته پریږدي. یوځل بیا، په کور کې دا خنډونه له یوې کورنۍ څخه تر بلې کورنۍ پورې خورا زیات توپیر لري او ډیری هغو ځواب ویونکو چې موږ ورسره خبرې کړي دا یې خپلې تجربې ګڼلې. میرمنې په پراخه کچه (مګر تل نه) له خپلو ملاتړکوونکو خاوندانو، خسرګنۍ او لیرې کورنۍ څخه د استثناتو په توګه یادونه کړې او د دوی په وړاندې د خنډونو د رامنځته کولو پر ځای یې ورته د پرمختګ زمینه برابره کړې. په ۴.۳ برخه کې په دې اړه بحث شوی.

### د مرکز – محور سیاست نشتوالی

د پورته یاد شویو خنډونو زیربنا، د مرکز-محور سیاست نشتوالی په څېر پراخه سیاسي تمایلات دي، او هغه کړنلاره ده چې په کې دموکراسۍ د سیاسي نظام او کلتور په توګه لاهم نوې ګڼل کیږي او په بشپړه توګه نه ده منل شوې.[۲۰] له بلخ ولایت څخه یوه ځواب ویونکي د افراطي سیاسي دریځ لرلو په هکله د اوسني چلند په اړه خبرې وکړې چیرې چې په تصمیم نیونه کې د میرمنو ګډون په څېر د احتمالي جنجالي موضوعاتو په اړوند په منطقي او معتدل ډول بحث کول غیرمعمول او ناپیژندل شوی دود دی: "د افغانستان په شان ټولنه کې چې ډیری چارې د افراطیت په لور روانې دي، اعتدال (منځ لاریتوب) د اکثریت خلکو لپاره یوه ناتعریف شوې ښکارنده ده. په داسې یو وضعیت کې د میرمنو د ګډون په اړه په ټولنه کې بحث کول ستونزمن کار دی."[۲۱] دلته نوموړی ځواب ویونکی په عمومي ډول په افغانستان کې د مرکز-محور سیاست نشتون ته اشاره کوي، او د ښځو حقونه یا په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ مو کلونو کې د کمونیست رژیم یا هم د لویدیځ لیبرال ارزښتونو پورې اړوند ګڼي چې له ۲۰۰۱ میلادي کال راهیسې پر افغانستان تحمیل شوي، خو په دواړو بڼو، د افغانستان د اسلامي کلتور سره مخالفت لري. له بلخ څخه یو بل ځواب ویونکي د مدنی ټولنې او سیاست تر منځ د واټن په اړه خبرې وکړې دا یې د مرکز-محور سیاست د نشتون لامل شوی.[۲۲] سربیره پر دې، د ټولنیزو رسنیو وروستی پرمختګ او د یادو شبکو کارونکو افراطي دریځونه چې کولای شي په دغو شبکو کې خپل هویت پټ وساتي او دیته اړ نه دي چې خپلو دلیلونو د تایید لپاره ثبوت وړاندې کړي، دا وضعیت کیدای شي د بحث لپاره د معتدل (منځلاري) چاپیریال د نشتون سبب شوی وي.

### د ښځو پر وړاندې جنسیتي تاوتریخوالی: د نا امنۍ، سفر محدودیتونو او فزیکي ګواښونو په اړه روایتونه

یو ډیر خپور شوی روایت چې د معلوماتو د ټولګې کابو په هرې مرکې کې څرګند شوی هغه ناامني وه چې له کوره بهر د میرمنو تګ راتګ پر وړاندې خنډ واقع کیږي:

> داسې خلک شته چې میرمنې د دندې لپاره له عریضې کولو وړاندې منع کوي، ډیری یې د ناامنۍ په ګواښولو سره - دوی ته ویل کیږي که چیرې دنده ترلاسه کړي نو دوی مجبوره دي چې ناامنه ځایونو ته سفر وکړي. مګر دا خبره حقیقت نلري- که چیرې یو ځای ناامنه وي، نو یو نارینه باید هلته هم لاړ نشي.[۲۳]

> د پوهنې ریاست مرستیالانې باید ښځینه وي، خو یو شمیر کسانو د صمیمت په بهانه، هغه میرمنو ته چې د دغو پوستونو لپاره یې غوښتنلیک ورکړې وو ویلي چې د یاد ریاست مرستیالي به د میرمنو لپاره ستونزمن کار وي، ځکه چې دوی باید د ولایت ټولو خوندي او نا امنه ولسوالیو ته سفر وکړي. په یو ډول، دې کسانو، میرمنې ډارولي او د غوښتنلیکونه له ورکولو څخه منع کړي دي. اوس مونږ وینو چې د یاد ریاست مرستیال یو نارینه دی او تراوسه یوې ولسوالۍ ته هم نه دی تللی.[۲۴]

> د نا امنۍ او ځانمرګو بریدونو مسئله د ښځو لپاره وضعیت ستونزمنوي، او له بلې خوا، دولت له میرمنو په ښه ډول ملاتړ نه کوي. هغو ښځینه نوماندانو ته وګوره چې په کابل کې یې لاریون وکړ، خو حکومت دوی د یوه ځانمرګي بریدګر په بهانه له سیمې ویستل. دوی شاوخوا ۹ میاشتې هلته وو، مګر هېڅ یو لوړ پوړي چارواکي د دوی قضیو ته رسیدګي ونه کړه.[۲۵]

---

۲۰ مرکه، UNW-WPPD - ننګرهار - ۲۰۰۶۲۰۱۹

۲۱ مرکه، UNW-WPPD-بلخ-۰۴۰۷۲۰۱۹

۲۲ مرکه، UNW-WPPD-بلخ-۰۷۰۷۲۰۱۹

۲۳ مرکه، UNW-WPPD-ننګرهار - ۲۰۱۹۱۵۰۶

۲۴ مرکه، UNW-WPPD-ننګرهار -۱۸۰۶۲۰۱۹

۲۵ مرکه، بلخ، UNW-WPPD-بلخ-۰۷۰۷۲۰۱۹

دا روښانه خبره ده چې په افغانستان کې ناامني پر نارینه او ښځینه وو باندې په متفاوت ډول اغیز کوي، مګر د رښتیني فزیکي خطر په پرتله چې له ځان مرګو او نورو بلواګرو بریدونو څخه سرچینه اخلي او نارینه او ښځینه په یو ډول ( له توپیر پرته) تر هدف لاندې نیسي، دا ستونزه بیا د قانون حاکمیت له نشتوالي ، د جنسي تیري د معافیت له کلتور او د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي له نورو ډولونو او د میرمنو پر جنسي عفت له پراخ ټولنیز ټینګار سره تر ډیره حده تړاو لري. هغه څه چې له دغو مرکو څخه هم روښانه دی هغه دا دی لکه څنګه چې ناامني له ستراتیژیک پلوه د زورواکانو لخوا ټاکنیز نظارت مخنیوي لپاره کارول کیږي ، په عین ډول، نا امني د کورنیو ، ناظرانو او حتی د حکومت لخوا په ستراتیژیک ډول د تصمیم نیونکو او رهبرانو په توګه د میرمنو پرمختګ د مخنیوي لپاره کارول کیږي. په دې ډول، دا کار د ښځو په وړاندې جنسیتي تاوتریخوالی رامنځته کوي.

دا له هغه کړندود سره تړاو لري چې له امله یې د ښځو پر وړاندې فزیکي تاوتریخوالی لا هم په ټول افغانستان کې په عمومي او خصوصي ځایونو کې عام دی او اکثراً، په وړاندې یې په معافیت سره چلند کیږي، په دې توګه په عامه ژوند کې د میرمنو ګډون لپاره یو مهم خنډ رامنځته کوي.

> په ټولنه کې تاوتریخوالی لا اوس هم پېښیږي. فرخنده وسوځول شوه او ووژل شوه، پر میرمنو جنسي تیری وشو - دا چا کړي؟آیا طالبانو کړي؟ نه ، دا کارونه د دې ټولنې خلکو کړي. تر هغې چې دا ستونزې حل نه کړو ، هېڅکله به هم سوله ونلرو.[۲۶]

په بامیانو کې ځواب ویونکو د ټاکنو لپاره په عام محضر کې د ښځینه نوماندانو د وهلو ټکولو او په کار ځای کې د پراخې جنسي ځورونې او ډارونې په اړه خبرې کړې چې چندان چاره یې نلرله[۲۷]، او حتی د کورنیو ناوړه چلند قضیو کې چې محدوده چاره لري او د راپور ورکولو خطرونه یې (د بېلګې په توګه، ټولنیز افشا کول ، او د کور / یا د ماشومانو سرپرستي له لاسه ورکول) ډیری وختونه په تاوتریخجن کور کې د میرمنو لخوا د تجربه شوي فزیکي رنځ او کړاو څخه خورا لوی ګڼل کیږي.[۲۸]

دا له ویلو پرته څرګنده خبره ده چې دا ډول تجربې که په هر ډول تصمیم نیونه کې د میرمنو د ګډون وړتیا او لیوالتیا له منځه نه وړي خو کولای شي په وړاندې یې په کلکه خنډ واقع شي. په هر حال، دا خبره د یادونې وړ ده چې حتی د افراطي تاوتریخوالي تجربه کولو وروسته ، او حتی د دې تاوتریخوالي د ګواښ د دوام سره سره ، په تاریخ کې د بلې هرې دورې په پرتله، اوس مهال میرمنې په افغانستان کې په عامه ژوند کې ډیرې ښکېلې دي او د هغو کسانو په وړاندې مبارزه کوي چې په ګواښولو سره دوی چوپتیا ته اړ باسي. په حقیقت کې، که داسې وانګیرل شي چې افغان میرمنې په مجموع کې د ټولو افغان نارینه وو له لاسه کړیږي دا به د دغو ښځو او نارینه وو په وړاندې یوه لویه بې انصافي وي او د دې خبرې هېرول به وي چې د مجاهدینو او طالبانو تر واکمنۍ لاندې له لسیزو ناوړه چلند وروسته، افغان میرمنې علاقه درلوده او په دې وتوانیده چې په ۲۰۰۱ میلادي کال کې د بن په کنفرانس کې ګډون وکړي او په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ میلادي کلونو کې د نوماندانو په توګه په ولسمشریزو او پارلماني ټاکنو کې ودریږي.

## ۲.۴ د میرمنو په تصمیم نیونې باندې د رسمي میکانیزمونو اغیز

د ۴،۱ برخې د میرمنو په وړاندې پخپله د ځواب ویونکو لخوا د تثبیت او څرګند شویو خنډونو له لنډیز وروسته، دغه څېړنیز سند اوس هغو رسمي او غیر رسمي میکانیزمونو ته پام اړوي چې له میرمنو سره یې د دغو خنډونو په لیرې کولو کې مرسته کړې ده. دا برخه په عمومي حریم کې د میرمنو د رسمي ګډون هغه درې مهم اړخونه رانغاړي چې په تیرو ۱۵ کلونو کې یې د افغانستان حکومت او نړیوالو پاملرنه او مالي سرچینې ترلاسه کړي دي: ټاکنې ، د عامه سکتور دندې او پوهنه (زده کړې).

### ټاکنې

دا برخه د میرمنو لپاره د ټاکنیز ګډون رسمي میکانیزم (یا حتی یوازې د دې امکان) د هر راز کړنې څرنګوالی چې په ټاکنو او د ژوند په نورو برخو کې د دوی د تصمیم نیونې پر نفوذ باندې اغیز کوي څېړي او همداراز معلوموي چې آیا دغه پایلې د ټاکنو ترمنځ په وقفو کې دوام مومي.

په تیرو ۱۵ کلونو کې ، ټاکنې یوځل بیا په افغانستان کې د سیاسي لید په یو منظمه او پیژندل شوي بهیر بدل شوی دی چې نارینه او ښځینه په کلیوالي او ښاري سیمو کې رایو ورکولو ته هڅوي، که څه هم زیاتیدونکې ناامنۍ، ناهیلیتوب او درغلې په ټاکنو کې د خلکو د ګډون مخه نیولې ده. په دې ټاکنو کې د ښځو ګډون د ځینو دلایلو له مخې د بیلابیلو لوبغاړو لپاره د علاقې وړ موضوع وه؛ د ځینو ناظرانو لپاره، د میرمنو دا ګډون ته د نړیوال دیموکراتیک غوره عمل په لور د افغانستان پرمختګ لپاره د یوې غیرمسقیمې وسیلې په سترګه کتل کیږي، حال دا چې دا ګډون د نورو لپاره د احتمالي ټاکنیزو درغلیو نښه په داسې سیمو کې ده چې ظاهراً د لوړ شمېر ښځینه رایو ورکوونکو ګډون د هغو سیمو له محافظه کاره معیارونو سره سمون نه خوري چې له امله یې عموماً میرمنې له ټاکنو څخه لیرې ساتل کیږي. په هر حال، دا روښانه خبره ده چې په ټاکنو کې د میرمنو پر ګډون باندې ټینګار د افغان وګړو په حیث د دوی پر وضعیت څه نا څه اغیزه کړې ده.

۲۶ مرکه ، بلخ ، UNW-WPPD-بلخ-۱۰۰۸۲۰۱۹

۲۷ مرکه ، بامیان ، UNW-WPPD-بامیان - ۲۵۰۷۲۰۱۹؛ مرکه ، UNW-WPPD-بامیان - ۴۰۸۲۰۱۹؛ UNW-WPPD-بامیان -۲۷۰۷۲۰۱۹

۲۸ یوناما ، ظلم او معافیت: د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د جنایي جرمونو منځګړیتوب (کابل: یوناما ، ۲۰۱۸ کال)

د دې څېړنې ټولو ځواب ویونکو په څلورو ولایتونو کې د میرمنو د رایې ورکولو حق د سمبولیکو ګټو په اړه خبرې وکړې او ډیری یې د افغانستان اساسی قانون سره سم، رایې کارونې ته د یوې افغان میرمنې د حق په توګه هم اشاره وکړه. په هر حال، اکثریت ځواب ویونکو په احتیاط سره دا ابتدایي څرګندونې په روښانه ډول ومنلې او د بېلګې په توګه، په دې اړه یې بحث وکړ چې څنګه ښځینه رایې ورکوونکې په ټاکنو کې د هغه نوماند د انتخاب په برخه کې لږ واقعي اختیار لري چې په ټاکنو کې یې ورته خپله رایه کارولې ده. په داسې حال کې چې رایې په اصل کې سري (پټې) دي، خو میرمنې ډارول کیږي چې خلک به ومومي چې آیا دوی د هغه کاندید پر ځای چې د دوی د نارینه خپلوانو لخوا غوره شوی، کوم بل چاته رایه ورکوي.

> په ټاکنو کې ، دا د ښځو پریکړه نده چې چا ته رایه ورکړي ، دا پریکړې د دوی د نارینو پورې اړه لري. میرمنې ډېر پوهاوي ته اړتیا لري ترڅو په دې پوه شي چې دا د دوی خپل حق دی چې چاته رایه ورکوي ، او بله دا چې د رایې ورکونې په مرکز کې ، هېڅ څوک دوی نشي لیدلای. دوی د ویرې احساس کوي او فکر کوي چې نارینه به له دې خبر شي که چیرې دوی بل چاته رایه ورکړي. ما په دې اړه له میرمنو سره ډیرې خبرې وکړې او په دې پوه شوم چې دوی له دې خبرې څومره ویره درلوده.[۶۹]

> دا د یوې ښځې اساسي حق دی چې په ټاکنو کې برخه واخلي او خپله رایه وکاروي. په هر حال، زمونږ په ټولنه کې دا وضعیت توپیر لري. مونږ په ټاکنو کې پر ښځو ډېر محدودیتونه لرو. د بېلګې په توګه ، کله چې یوه ښځه غواړي خپله رایه وکاروي ، نو هغه اړتیا لري چې له خپل خاوند ، ورور او یا پلار څخه اجازه واخلي. هغه یوازې دا پریکړه نشي کولای. یو شمیر کورنۍ شته چې په کې میرمنې د اجازې اخیستلو اړتیا نلري، خو په عمومي ډول، میرمنې په کلیوالي او ښاري سیمو کې خورا محدودیتونه لري ... ډیر کله، زما همکاران هم له داسې حالت سره مخ وي، دوی غوښتل د خپل خوښې نوماند په ګټه رایه وکاروي، مګر کورنۍ یې غواړي چې دوی بل چاته رایه ورکړي. په دې برخه کې د لوستو او نالوستو میرمنو وضعیت یو شان دی. میرمنې نه یوازې په ټاکنو کې، بلکې په نورو ټولنیزو مسلو کې هم له مشابه وضعیت سره مخ دي.[۷۰]

> میرمنې نشي کولای خپلې پریکړې پخپله وکړي. لکه څنګه چې مو په تیرو ټاکنو کې ولیدل ، ګڼ شمېر میرمنو په ټاکنو کې ګډون وکړ، په هر حال، دوی د رایې ورکولو پرمهال خپلواکه نه وې.[۷۱]

> د رایې ورکوونکو په توګه په ټاکنو کې د میرمنو ګډون خورا څرګند لیدل کیده، خو پلار واکي لاهم خپلې اغیزې لري ... د بېلګې په توګه، شاوخوا **۵۲** سلنه میرمنو د رایې ورکوونکو په توګه په ټاکنو کې ګډون وکړ، مګر دوی د نارینه وو **[د خوښې وړ ، معمولاً نارینه]** نوماندانو ته رایې ورکړې ... ځکه چې نارینه ډېر ځواک او واک لري او دا حکم کوي چې میرمنې باید د دوی نوماندانو ته رایه ورکړي او میرمنې د خپلو نارینه وو خبرې مني.

> زه فکر کوم چې میرمنې د ښځینه نوماندان په اړه لا ډېر پوهاوي ته اړتیا لري .... آیا تاسو د داسې یوې ښځینه رایې ورکوونکې په اړه اوریدلي چې یوې ښځینه نوماندې ته یې رایه ورکړې وي؟ ... د ټاکنو ورځې دمخه، د هغې خاوند ورته وویلې چې هغه نوماند ته رایه ورکړي چې ده غوره کړی او هغې ومنله اما کله چې د رایې صندوق ځای ته ورسیده، پریکړه یې وکړه چې ښځې ته رایه ورکړي. کله چې د رایې ورکولو مرکز څخه جوړه راووتله، سړي له خپلې میرمنې څخه وپوښتل چې چا ته دې رایه ورکړه. هغې ورته وویل چې یوې ښځې ته مې رایه ورکړه، هغه یې په عام محضر کې ووهله او بیا یې کور پرېښېیدو ته اړ کړه. هغه مجبوره شوه چې د ښځو چارو ریاست ته لاړه شي او د بشري حقونو د کمیسیون په مرسته په امن کور کې د اوسیدو لپاره ځای ومومي[۷۲].

د معلوماتو په ټولګه او په دې متن کې څو ټکي څرګند شول. لومړی، په داسې حال کې چې په عامه او سیاسي ډګر کې د میرمنو ګډون مهمه سمبولیکه ادعا ده، خو په خپلواکه توګه د نوماند په غوراوي کې د میرمنو تصمیم نیونې د ځواک زیاتوالي شاخص نه دی - او په حقیقت کې د رایې کارونې اجازه ښایي په دې پورې تړلې وي چې میرمنې د خپل خاوند یا پلار د خوښې وړ نوماند ته رایه ورکړي که نه د نافرمانۍ په صورت کې به د تاوتریخوالي او حتی د کور او معیشت له لاسه ورکولو ګواښ به ورته انتظار باسي. په هرصورت ، په افغانستان کې د نوماند غوره کول په ندرت سره ، که چیرې واقعاً خپلواک وي، انفرادي فعالیت دی. نارینه هم د خپل خوښې وړ نوماند د کورنۍ او پراخې ټولنې له غړو سره، کوم چې تر ډیره مګر تل نارینه نه وي[۷۳]، له ډیرو خبرو اترو وروسته غوره کوي. میرمنې په ډله ییزې تصمیم نیونې ډګرونو کې لکه - کورنۍ ناستې ، ځایي شوراګانې او داسې نورو غونډې – د پریکړې لپاره پراخه فضا په اختیار کې لري همداراز میرمنې ،په همدې کچه او له دینه نه زیات نه کم، د رایې اچونې په غرفه کې ډېر باور او رښتینې وړتیا ته اړتیا لري ترڅو په خپلواک ډول خپل د خوښې وړ نوماند غوره کړي.

۶۹ UNW-WPPD-بلخ-۰۴۰۷۲۰۱۹.

۷۰ UNW-WPPD- بلخ- ۱۰۰۷۲۰۱۹

۷۱ UNW-WPPD - ننګرهار- ۱۵۰۲۲۰۱۹

۷۲ UNW-WPPD- بامیان - ۲۵۰۷۲۰۱۹

۷۳ آیا دا چې نارینه هم د ورته ګواښونو یا د رایې ورکولو د انتخاب پر سر له تاوتریخوالي سره مواجه دي، د دې څېړنې د معلوماتو له ټولګې څخه سمدلاسه څرګنده نه وه خو د نورو څېړنو لپاره یوه مهمه ملاحظه ده.

د ښځينه نوماندانو او ښځينه رای ورکوونکو ترمينځ د اړيکو په اړه په انګيرنو کې هم ستونزې شتون لري. ښځينه نوماندانې هغو پراخو ټولنيزو شبکو ته لاسرسی نلري چې نارينه يې لري، د بېلګې په توګه ، د ټولنې په شوراګانو کې د ګډون له لارې يا د کار، د شپې ښوونځي يا ځايي جومات له لارې. ميرمنې عموماً د خپلو نارينه سيالانو په پرتله مالي سرچينو ته ډېر محدود لاسرسی لري، لکه څنګه چې د پارلمان يو غړي په دې اړه وويل: «کله چې يو نارينه غواړي په ټاکنو کې برخه واخلي نو هغه هر راز مالي سرچينې په اختيار کې لري او کولای شي خپله ځمکه د ډېرو پيسو په بدل کې وپلوري. خو زمونږ په ټولنه کې ميرمنې نه شي کولای ځمکه اويا نورې مالي شتمنۍ ولري. «[۷۴]دا په دې معنا ده چې ښځينه نوماندانې دا اختيار لري ترڅو انتخاب وکړي چې څوک او کوم ځای په خپلو کمپاينونو کې په ښه کړي، او دوی اکثراً نارينه په ښه کوي ځکه چې په هر حال، نارينه په خپل وار سره دا پريکړه کوي چې ميرمنې چا ته رايې ورکړي. له دې امله، د ښځينه نوماندانو کمپاينونه

هرومرو د تصميم نيونې په بهيرونو کې د ښکېلتيا لپاره د ډيرو ميرمنو په جلبولو کې مرسته نه کوي. لکه څنګه چې په باميانو کې يو ځواب ويونکي وويل: «د ميرمنو تر مينځ هېڅ راز اړيکې او پيژندګلوۍ نشته»؛[۷۵] د شرايطو له مخې ، د ميرمنو ټاکنيزکمپاينونو په هيواد کې د ميرمنو تصميم نيونې ځواک لپاره بدلون رامنځته کړی نه دی. سربيره پر دې ، که چيرې دوی وټاکل شي، دا ښځينه نوماندانې د دوی رايې ورکوونکو ټولنو کې د ښځينه رايې کارونکو سره خورا محدوده اړيکه لري.

بالاخره، حتی که چيرې ميرمنې د رايو ورکولو په غرفه کې د نوماند غوراوي په برخه کې پر کورنۍ پريکړو باندې ډېر نفوذ ولري يا دا چې له لوړ باور سره د کورنۍ پريکړو په وړاندې ودريږي، بايد داسې ونه انګېرل شي چې دوی به هرومرو د يوې ميرمنې لپاره خپله رايه وکاروي. لکه څنګه چې لاندې ځواب ويونکي په دې اړه وويل:

> [د نارينه وو په څېر] ... ښځينه نوماندانې هم تل د هغه څه ژمنې کوي چې ترسره کولای نشي. دوی خلک راټولوي ... او ورسره د ډېرو شيانو ژمنې کوي ، او حتی يو شمير يې ميرمنو ته پوړنې ويشلي، خو کله چې دوی په ټاکنو کې بريالي کيږي، په بشپړ ډول له خلکو سره رابطه پای ته رسوي.[۷۶]

> رايې ورکوونکي هغه ميرمنې دي چې د ټاکنو په ترڅ کې او د ټاکنو په ورځ تر عمومي پاملرنې لاندې وي. له هغې وروسته، هيڅ څوک په ځانګړي ډول نوماندان نه پوهيږي چې دوی په څه وضعيت کې دي او د دوی ژوند څنګه دی، - هغه نوماندان چې په ټاکنو کې بريالي کيږي، هيڅکله هم بيرته شا ته نه ګوري چې ميرمنې په څه وضعيت کې دي.[۷۷]

> په حقيقت کې، ميرمنو په تيرو ټاکنو کې په بشپړ ليوالتيا سره برخه اخيستې وه ،خو ستونزه دا وه چې ښځينه نوماندانو د کمپاين لپاره محدودې مالي سرچينې لرلې. ما مخکې هيڅکله هم نه و اوريدلي چې يوه ښاغلې ښځه دې د بلې ښځينه نوماندې ملاتړ وکړي ... ځکه چې ښځينه نوماندانې هيڅ ډول [بډايه] ملاتړ کونکي نلري ترڅو د دوی د کمپاينونو ملاتړ وکړي او خلکو لپاره د غرمې ډوډۍ او نوشابې چمتو کړي. دا ميرمنې ښه ټاکنيز کمپاينونه او ډېر ملاتړي نلري.

> ښځينه نوماندانې معمولاً لږې پيسې، کم نفوذ او محدود امنيتي تدابير لري ، په دې معنا چې له ټاکل کيدو وروسته، د دوی وړتيا او ليوالتيا د سيمو د ليدو لپاره د نارينه نوماندانو په پرتله خورا ټيټه وي. مګر دا چې ميرمنې له يوه نوماند سره قوي کورنۍ اړيکې ولري، نو بيا د ښځينه رای ورکوونکو لپاره ښځينه نوماندانو ته د رايو ورکولو پخاطر لږې انګېزې شتون لري.[۷۸]

په لنډ ډول، په ټاکنو کې د ميرمنو د رايو ورکولو حق او د نوماندانو په توګه د دوی ګډون د افغانستان په رسمي عامه ادارو کې د سطحي پلارواکۍ د ننګولو په برخه کې پياوړی او سمبوليک رول لري، هغه رول چې په عامه ډګر کې د ميرمنو لپاره د اړتيا وړ فضا په رامنځته کولو کې بې نباید وړتيا (توان) کمزورې وګڼل شي . لکه څنګه چې نور ټولنيز جوړښتونه (د بيلګې په توګه د توافق په اساس پريکړې کول ، او د کمپاين وسيلې په توګه د تاوتريخوالي ګواښ ، ) په افغانستان کې د ټاکنو د ترسره کيدو پر څرنګوالي باندې اغيز کوي، که څه هم، په دغو جوړښتونو کې نهادينه شوي پلارواکي نورمونه نه پرېږدي چې ټاکنې د ميرمنو لپاره د اساسي بدلون په بنسټونو بدلې شي.

---

۷۴ مرکه ، کابل ، UNW-WPPD- کابل-۲۸۰۵۲۰۱۹. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له مخې، ښځې د نارينه وو په څير د مالکيت او ميراث يو شان حقونه لري، مګر دا چې د ځمکو ۹۰ سلنه د مالکيت حقونه په افغانستان کې د عرفي يا قومي شوراګانو له لارې فيصله کيږي ، نو ډير لږ شمېر ميرمنې ځمکو ته لاسرسی لري او اړتيا لري چې کوم ملکيت چې دوی ته د ميراث په توګه رسيږي د وفادارۍ سند په توګه يې د کورنۍ نارينه غړو د محافظت په بدل کې وسپاري. ګيل تيزماچ ليمون او بيکي الن ، په افغانستان کې د ميرمنو د ملکيت حقونو سمون، د بهرنيو اړيکو شورا ، د سپټمبر ۵ مه، ۲۰۱۷ کال. دا ليکنه په دې ويب پاڼه کې د لاسرسۍ وړ ده : https://www.cfr.org/blog/reforming-womens-property-rights-afghanistan

۷۵ مرکه ، باميان ، UNW-WPPD-باميان -۰۱۰۸۲۰۱۹

۷۶ مرکه ، ننګرهار ، UNW-WPPD-ننګرهار-۰۲۱۷۲۰۱۹

۷۷ مرکه ، ننګرهار ، UNW-WPPD - ننګرهار--۲۰۰۲۲۰۱۲۰۱.

۷۸ مرکه ، باميان ، UNW-WPPD-باميان - ۲۵۰۷۲۰۱۹

**په عامه سکتور کې ګڼ شمېر میرمنې**

د معلوماتو په ټولګه کې، ځواب ویونکو د ۲۰۱۴ زېږدیز کال له ټاکنو وروسته او د ملي یووالي حکومت د کار له پیل سره سم په عامه سکتور کې د ښځو لپاره د پام وړ بدلونونو یادونه کړې، لکه په دولتي ادارو کې د ډېرو ښځو د شتون لپاره اړتیاوې او هدفونه. خو په دې تړاو چې دغو اړتیاوو د ښځو پر تصمیم نیونې څومره اغېز کړی، نظرونه مختلف وو ، ځکه ډېری ځواب ویونکو د دغه اقداماتو لپاره خپل ملاتړ له دې اندېښنې سره تړلو چې د ښځو مسئولیتونه پرته له دې چې د تصمیم نیونې ځواک یا صلاحیت یې لوړ شي، ډېر شوي دي. لکه یوې ځواب ویونکې چې په ننګرهار کې وویل: «دلته، لکه زه یې چې وینم، ښځې ډېر زیات مسئولیتونه او کارونه لري چې باید ترسره یې کړي، خو په هره کچه یې د تصمیم نیولو صلاحیت خورا لږ دی.» [۷۹]نورو بیا د کابل او ولایتونو ترمنځ د اړیکو د نشتون په اړه خبرې کولې او ویل یې چې په کابل کې د وزارتونو له لوري د ښځینه کارکوونکو په تړاو ورکړل شوي اوامر د ولایتي دفترونو له لوري نه منل کېږي.[۸۰] د دې خبرې په ویلو سره په معلوماتو کې دوه ښکاره بهیرونه څرګند ېږي: لومړی، د دولتي ادارو په ټولو پوړونو کې د ښځو له لوري د موقفونو د اشغال لپاره یوازې د هغوی د حضور په موخه د ځواب ویونکو د لوېې کچې ملاتړ، پر تګلارو له پوښتنې پاروونکي اغېز سره سره؛ دویم، د ملاتړ کوونکو آمرینو او همکاران اهمیت چې د میرمنو لپاره د تصمیم نیونې او صلاحیتونو د فرصت د زیاتوالي لامل کېږي.

د معلوماتو په ټولګه کې، ښځو په تکرار په عامه ادارو کې د زیاتو میرمنو پر حضور ټینګار کړی دی. یوې ښځې چې د ننګرهار د پوهنې ریاست کې کار کوي له خپلې تجربې یو داسې مثال وواېه:

> کله چې زه له دې ریاست سره یو ځای شوم، زه دلته یوازینۍ ښځه وم. نارینه کارکوونکو له ما سره ښه چلند نه کاوه. هغوی ماته ستونزې جوړولې، د بېلګې په توګه، که زه لږ هم کار ته ناوخته راغلې وای، زه به یې د حاضرۍ په کتاب کې غیر حاضرولم. سره له دې چې ما له یوې بېلې ځانګې ( د څار او ارزونې) له ځانګې سره کار کولو، خو ځانګړی دفتر مې نه درلود. زه مجبوره وم چې له نارینه کارکوونکو سره په یوه دفتر کې کار وکړم، خو هغوی نه غوښتل چې دفتر یې له ما سره شریک وي، له ما به یې غوښتنه کوله چې چېرې بل ځای کېنم. دغه چلند د ډېر وخت لپاره دوام وکړ. وروسته چې کله یو نوی رییس راغی، موږ ته یې دغه بېله خونه راکړه، او اوس موږ په ټول ریاست کې اته ښځې او اته نارینه یو. ما له نوي رییس څخه غوښتنه وکړه چې په ریاست کې ډېرې میرمنې وګوماري، هغه زما ملاتړ وکړ او زما د پرېکړې پر بنسټ یې ماته اجازه راکړه چې نوې ښځینه کارکوونکې وګومارم. په دې ریاست کې ټولې ښځینه کارکوونکې ما ګومارلې دي.[۸۱]

په داسې حال کې چې د اهمیت وړ خبره ده چې د شمېر د تمرکز پر محدودیتونو پوه شو ، په دفتر کې د ښځو د شمېر زیاتوالي داسې چاپیریال رامنځته کاوه چې د یوې ښځې لپاره یې د کار ترسره کول آسانه کول او د نورو ښځو د ګومارلو د صلاحیت په ګډون یې په مسلک کې د پام وړ وده کولی شوه. پر دې سربېره، د بېلې خونې لرل- چې د لوی شمېر هغو کارکوونکو له لوري توجیه شوې وه چې کار په کې کوي – د ځورونې د فرصت د کموالي سبب کېږي. په ننګرهار کې یوې بلې ځواب ورکوونکې پر همدې ټکي ټینګار وکړ، او د ښځینه کارکوونکو لپاره یې د ګټورو ملاحظاتو پر اهمیت رڼا واچوله:

> د بېلګې په توګه، کله چې ښځې له نارینه وو سره کار کوي او دواړه په یوه دفتر کې وي، نارینه اسلامي اخلاق نه مراعاتوي، د ښځو په مخ کې خپل پرتګونه پورته کوي یا له یو او بل سره په خبرو کې ناوړې کلیمې کاروي... که په داسې حالت کې د ښځینه کارکوونکو د کورنۍ کوم غړی خونې ته دننه شي، بیا به هغې ښځې ته په دغه دفتر کې د کار د دوام اجازه ور نه کړي... دغه راز، په ځینو دفترونو کې د ښځو لپاره ځانګړې تشنابونه هم نشته... دولتي ادارې باید دې موضوع ته پام وکړي او د ښځو لپاره غوره کاري چاپیریال رامنځته کړي.[۸۲]

دغه مثالونه په فزیکي ډول په دفترونو کې د ښځو د شمېر د زیاتوالي، د دوستانه کاري چاپیریال پر متې هلته د هغوی د ساتلو او په دفترونو کې پر پرېکړو د هغوی د اغېز د وړتیا ترمنځ د تړلي ماهیت ښکارندوی دي. په بل عبارت، هغوی په دفترونو کې د ډېرو ښځو د فزیکي حضور، مولد کار او کمې شوې جنسي ځورونې ترمنځ اړیکه ښیي.

۷۹ مرکه، ننګرهار، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.ډي-ننګرهار-۲۰۰۲۲۰۱۹

۸۰ مرکه، ننګرهار، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.ډي-ننګرهار- ۱۷۰۲۲۰۱۹

۸۱ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.ډي-ننګرهار-۱۸۰۲۲۰۱۹

۸۲ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.ډي-ننګرهار-۲۳۰۲۲۰۱۹

افغان دولت له یوه لوري( په ملکي خدمتونو کې د ښځو د ونډې د زیاتوالي د ۲۰۱۸ کال د تګلارې له لارې)[۸۳] د هغو ښځو شمېر زیات کړی چې په ملکي خدمتونو کې کار کوي، او له بل لوري یې ( د ښځو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره د مبارزې د ۲۰۱۲ کال د قانون له لارې) له جنسي ځورونې سره مبارزه کړې ده. دغه قوانین په ګډه هڅه کوي چې د ښځینه کارکوونکو لپاره د ګټور کار په موخه لا مساعد او خوندي چاپیریال رامنځته کړي. که څه هم، په دې څېړنه کې چې په ۲۰۱۹ کال کې ترسره شوې په څلورو ولایتونو کې هېڅ ځواب ورکوونکې هم د دغو قوانینو یادونه نه ده کړې. دا ښیي چې په دې تړاو د عامه پوهاوي د لوړولې لپاره د ډېر کار اړتیا ده. پر دې سربېره، د ښځو د ګډون د پراختیا په تګلاره کې هېڅ داسې میکانیزمونه نه شته د کومو پر مټ چې دولتي ادارې ارزول کېدای شي او هغه ادارې چې تګلاره نه عملي کوي مجازات کېدای شي. له جنسي ځورونې سره د مبارزې قانون هم د ترسره کوونکو لپاره یوازې د ټیټې کچې د مجازاتو وړاندوینه کړې، خو داسې بحثونه شته چې جدي خنډونه نه رامنځته کوي.

په پورته یاد شوي لومړني مثال کې د نوي رییس چلند ، چې د بدلون لپاره د ځواب ویونکې غوښتنې ته یې غوږ نیولی، هغې ته یې بېله خونه ورکړې او د نویو ښځینه کارکوونکو د ګومارنې صلاحیت یې ورکړی، مهم بلل شوی. بیا هم، په معلوماتو کې، ځواب ویونکو د ملاتړو آمرینو پر اهمیت ټینګار کړی، یعنې هغه کسان چې د ښځو د تصمیم نیونې د صلاحیت زمینه برابروي او له هغې نه دفاع کوي:

> زه د خپلو پرېکړو پر مهال له هېڅ تنګونې سره مخ نه شوم، ځکه آمرینو او ښاروال زما ملاتړ کاوه. د آمرینو له لوري ملاتړ خورا مهم دی.[۸۴]

> آمرین باید ښځو ته فرصت ورکړي چې ښې تصمیم نیونکې شي. ښځې د پرېکړې کولو ظرفیت لري، خو له دې کبله چې ښځې دي، آمرین یې فرصت نه ورکوي. که یوه ښځه د پرېکړې کولو فرصت ولري، په تصمیم نیونه کې به عالي و اوسي.[۸۵]

> د نوي والي تر راتګ وړاندې په دولتي ادارو کې د ښځینه کارکوونکو شمېر لږ و. کله چې هغه راغی، موږ هغه ته ورغلو او ورته ومو ویل چې ښځې باید په دولتي ادارو کې وګومارل شي. موږ هغه ته وویل چې د( افغانستان د عمل د ملي پلان) له مخې د دولتي ادارو له **۲۵-۳۵** سلنه کارکوونکې باید ښځې وي. زموږ تر ناستې وروسته، هغه ټولو ولایتي ریاستونو ته امر وکړ چې په خالي پوستونو باندې ښځې وګوماري. اوس موږ په ټولو دغو ریاستونو کې ښځینه کارکوونکې لرو.[۸۶]

> (زما په کار ځای کې د ښځو د تصمیم نیونې وړتیا ) تر ډېره په مسقتیم آمر او د ادارې په رهبرۍ پورې تړلې ده. د لوړې کچې مدیران باید خپل کارکوونکي وهڅوي او اجازه ورکړي چې د دندې د پېژندنې او مسئولیتونو له مخې صلاحیت ولري. مدیران باید خپل هېڅ کارکوونکی هم محدود نه کړي، که هغه نارینه وي او که ښځینه. که مدیران د تصمیم نیونې په بهیر کې ښځې ونه هڅوي او نظریات یې بې ارزښته وګڼي، ښځې به غلې شي.[۸۷]

وروستۍ ځواب ورکوونکې د افغانستان په دولتي او نورو دفترونو کې هغه عام تمایل ته اشاره کوي چې صلاحیتونه مرکزي کوي، یعنې تر ټولو ډېرې پرېکړې په لوړو پوړیو کې کېږي، چېرې چې ښځې په ندرت ګومارل کېږي، له همدې کبله هغوی د تصمیم نیونې له بهیر څخه بهر پاتې کېږي. دا څه دوه ډوله کار کوي، او دا معنا هم لري چې د یوه لوړ پوړي صلاحیت لرونکي کس په ملاتړ سره ښځې پر دغه بهیر د پام وړ اغېز فرصت لري. په ځانګړې ډول د بامیانو ځواب ویونکو د ښځو له لوري د باصلاحیته دندو پر اشغال ټینګار کاوه او معمولا یې د بامیانو حبیبې سرابي ته اشاره کوله چې د افغانستان لومړنۍ ښځینه والي وه.

> دا چې لومړنۍ ښځینه والي حبیبه سرابي د بامیانو والي وه، دغه کار نورو ښځو ته لاره پرانیسته چې په ټولنیزو، اقتصادي، کلتوري او سیاسي فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلي. دې تجربې خلک وهڅول چې خپلې لونې ښوونځیو ته ولېږي، او اوس په بامیانو کې ډېری ښځې غواړي چې په دولت یا موسساتو کې لوړ موقفونه ولري.[۸۸]

۸۳ Policy-on-Increasing-Women-Participation-in-Civil-Service-_-/۱۱/۲۰۱۷/۴/https://iarcsc.gov.af/en/wp-content/uploads/sites English.pdf

۸۴ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.پي.ډي- بلخ-۰۷.۰۷.۲۰۱۹

۸۵ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.پي.ډي- بلخ-۱۴.۰۷.۲۰۱۹

۸۶ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.پي.ډي-بامیان- ۲۷.۰۷.۲۰۱۹

۸۷ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.پي.ډي- ننګرهار- ۱۵.۰۲.۲۰۱۹

۸۸ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.پي.ډي-بامیان-۲۵.۰۷.۲۰۱۹

سره له دې چې ټولې هغه ښځې چې په لوړو موقفونو کې کار کوي، په عمومي ډول د ښځو د ګټو او اړتیاوو اتلانې نه ګڼل کېږي، یوازې دا وینا چې سرابي د هېواد په تاریخ کې لومړنۍ ښځینه والي وه، د ولایتي ویاړ سرچینه ده او د الګو برداری اغېز یې هڅولی.

هغه میزان چې په عامه سکټور کې یې د ښځو پر کار ټینګار کاوه، د عامه سکټور د کارکوونکو او موسساتو د کارکوونکو د مرکو پر مهال د هغوی ترمنځ یو ډول و. دا له بېلابېلو لارو واقع کېده، په بامیانو کې له یوې ځواب ورکوونکې نیولې چې په دې اړه یې خبرې کولې چې څنګه دولتي پروګرامونه ټولنیز نورمونه بدلوي( په دې مورد کې ښځو ته د موټر چلول ورښوول)، [89]په بلخ کې تر بلې ځواب ورکوونکې چې په وضاحت یې د نورو ټولو میکانیزمونو په پرتله دولتي تګلاره په ټولنیز بدلون کې مهمه بلل:« د مدني ټولنې بنسټونه په ټولنه کې د ښځو رول بدلولی شي، خو که دولت خپله تګلاره بدله نه کړي، دغه کار بې ګټې دی.» [90]

د دولت په مشرۍ پر بدلون دغه ټینګار دولتي ادارو ته د درناوي ښکارندوی دی چې لا هم شتون لري، د شوروي تر یرغل ډېر وروسته، او کوم چې دولتي دندې له نورو دندو څخه بېلوي، د بېلګې په ډول، له یوې موسسې سره له کار کول. سره له دې چې ځواب ورکوونکو په دولتي ادارو کې پر ګڼو ستونزو ډېر تمرکز ونه کړ، په ځانګړي ډول پر فساد، دا څرګنده وه چې دغو ادارو ته د هغو بنسټونو په سترګه کتل کېدل چې د ښځو لپاره د ستر بدلون لوی ظرفیت لري.

**پوهنه**

په ۲۰۰۱ کال کې د امریکا د مداخلې له پیل راهیسې ښوونځیو ته د نجونو تګ د افغان دولت او مرستندویانو لپاره یو مهم لومړیتوب دی. په افغانستان کې زده کړو ته د نجونو د لاسرسي اندازه کول ډېر ستونزمن دي، په ځانګړي ډول له دې کبله چې احصایې کره نه دي. د بشري حقونو د څار بنسټ د معلوماتو له مخې:

> د افغان دولت د **۲۰۱۵** زېږدیز کال راپور ښیي چې تر ۸ میلیونه ډېر ماشومان په ښوونځیو کې دي، چې **۳۹** سلنه یې نجونې دي. د **۲۰۱۲** زېږدیز کال په ډیسمبر کې، د پوهنې وزیر اعلان وکړ چې په ښوونځیو کې د ماشومانو اصلي شمېر **۲** میلیونه دی. د **۲۰۱۷** کال په اپرېل کې، د پوهنې وزارت یوه چارواکي د بشري حقونو د څار بنسټ ته په یوه مرکه کې وویل چې **۹،۳** میلیونه ماشومان په ښوونځیو کې دي چې له دې ډلې **۳۹** سلنه یې نجونې دي. دغه ارقام ټول د دولت د هغه چلند له کبله متورم دي چې له مخې یې یو ماشوم تر هغه وخته په ښوونځي کې حسابیږي تر څو یې چې درې کاله غیر حاضري نه وي کړې.[91]

پر دې سربېره، د بشري حقونو د څار بنسټ وایي چې مرستندویان هم د ارقامو د زیات ښوولو لپاره خپل لاملونه لري او دا په وروستیو کلونو کې په زیاتېدونکي ډول په ناامنه سیمو کې ښوونځیو ته په تګ کې راغلی کموالی پټوي.

سره له دې چې د دې اندازه کول ستونزمن دي، خو د نجونو زده کړې د ښځو د رسمي عامه ګډون په برخه کې مشخص کوونکی عامل دی چې ځواب ویونکو اساسي ګڼلی دی. سره له دې چې دا جادویي ګولۍ نه ده ګڼل شوې، خو یو بنسټیز لومړنی ګام بلل شوی چې په کور او کار کې د ښځو د اغېز د زیاتوالي لپاره پورته کېدای شي، لکه دریو ښځو چې په ننګرهار کې د تمرکز د ګروپ په یوه بحث کې وویل:

> اوسمهال د ولسوالیو په کچه د زده کړو سیستم خراب دی. دولت په ولسوالیو کې د زده کړو سیستم ته لومړیتوب نه ورکوي، له همدې کبله د ولسوالیو په کچه خلک پوهېږي چې د زده کړو کوم غوره سیستم نه شته. نو ځکه هغوی خپلې نجونې ښوونځیو ته نه لېږي. که مو په ولسوالیو کې یو کارنده ښوونیز سیستم لرلی، په دې ډول به نجونو ته ښوونځیو ته د تګ دروازې پرانیستل شوې وې. [92]

۸۹ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.ډي-بامیان-۲۷۰۷۲۰۱۹

۹۰ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.ډي- بلخ- ۰۸۰۷۲۰۱۹

۹۱ د بشري حقونو د څار بنسټ، زه به ډاکټره نه وم، او ته به یوه ورځ ناروغ شې: په افغانستان کې زده کړو ته د نجونو لاسرسی( نیویارک: د بشري حقونو د څار بنسټ، ۲۰۱۷ ):۷ په دې لینک کې د لاسرسي وړ دی: web.pdf_https://www.hrw.org/sites/default/files/report_pdf/afghanistan۱۰۱۷

۹۲ مرکه، ننګرهار، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبلیو.پي.ډي-ننګرهار-۱۵۰۲۲۰۱۹

> د ښځو او نجونو د زده کړو کچه ډېر لوړه شي.... او دا په مستقيم ډول په تصميم نيونه کې د هغوی له ونډې اخيستو سره اړيکه لري.[۹۳]

> په هغو کورنيو کې چې ښځې لوستې دي، ښه ژوند لري، د پرمختګ لپاره غوره فرصتونه لري، او په دغه ډول کورنيو کې د ښځو موقف د پام وړ دی.[۹۴]

په کاري چاپيريال کې، د نارينه وو او ښځينه مخالفينو لپاره دا ډېره ساده ده چې پر ښځو نيوکه وکړي او پر هغوی د نالوستو ټاپه ووهي. په داسې ټولنه کې چې د بې سوادۍ کچه لوړه ده او زده کړو ته ډېر ارزښت ورکول کېږي، دا په کارځای کې د يوه کس شهرت ته جدي زيان رسولی شي. په رېښتيني معنا، له پوهنتون څخه د فراغت اسناد د ګڼو وسايلو ترمنځ د يوې داسې وسيلې په توګه عمل کولی شي چې ښځې د دغه ډول تورونو پر وړاندې له ځانه دفاع ورباندې کولی شي. البته، د پوهنتون له اسنادو ( لږ تر لږه د نيمه لوړو زده کړو له ډيپلوم) پرته په دولت او موسساتو کې د دندې اخيستل په زياتېدونکي ډول د سختېدو په حال کې دي. د دغو دندو لپاره د زده کړو د کچې تمې د هغه څه په پرتله چې يوه لسيزه وړاندې وې، ډېرې لوړې دي. په باميانو کې، د يوې ځواب ورکوونکې د معلوماتو له مخې، [۹۵] د غوره دندې لپاره د ماسترۍ سند ته اړتيا ده؛ خو په دغه ولايت کې هېڅ پوهنتون هم د ماسترۍ پروګرامونه نه لري، شاګردان اړ دي چې کابل ته د تګ جوګه وي او هلته د ماسترۍ تر بشپړولو پورې پاتې شي. دا هم د نارينه وو لپاره تر ښځو ډېره آسانه ده.

بل هغه امتياز چې ځواب ويونکو د لوستو ميرمنو له وړتيا سره اړوند وګاڼه، د ښځو د قراني آياتونو لوست او زده کړه ده چې پدې توګه د مذهبي اصولو د تعليم له لارې د خپلو کړنو دفاع وکولای شي. په زړه پورې دا وه چې د مرکو پر مهال خلکو په دوامدار ډول زده کړې له شريعت سره تړلې:

> لومړی، ښځې بايد خپل ظرفيت جوړ کړي او زده کړې وکړي. هغوی بايد کتابونه ولولي او د نورو هېوادونو په اړه معلومات ترلاسه کړي، چې پوه شي نورو ښځو څنګه مبارزه کړې ده. ښځې بايد د قانون او شريعت په اړه پوه وي. لکه څنګه چې نارينه حق لري چې په سياست او ټولنه کې فعال وي، د قانون او شريعت له مخې، ښځې هم ورته حقونه لري. هغوی بايد پر دې پوه وي او خپله دا پوهه وکاروي. هغوی بايد نارينه وو ته اجازه ور نه کړي چې د دوی په استازيتوب پرېکړې وکړي.[۹۶]

دا هم يوه مهمه وسيله ګڼل کېده د کومې پر مټ چې هغه نارينه چې په کار ځای کې پر جنسي ځورونې لاس پورې کوي سرزنش، خجالت او له مخې لرې شي، چې دا هم د ښځو د دفاع ځواکمنه وسيله ده. ځينو ادارو لکه د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر له ډېر وخت راهيسې د داسې وسيلې په توګه د روزنې او مذهبي زده کړو اهميت درک کړی چې د ښځو د اغېز وړتيا پراخوي او دا څېړنه هم ښيي چې کولی شي د پام وړ اغېز ولري.

## ۳.۴ د ښځو پر تصميم نيونې باندې د غيري رسمي ميکانيزمونو اغېز

پر هغو رسمي ميکانيزمونو سربېره چې ځواب ويونکو د ښځو د تصميم نيونې په برخه کې ټينګار ورباندې کړی، ځينې نا رسمي ميکانيزمونه تر دې هم مهم وو، ځکه ښځو ته يې فرصت برابرولو چې د دوی لپاره له شته رسمي فرصتونو څخه پوره ګټه پورته کړي. دغه ميکانيزمونه په لاندې ډول دي: د مسلکي اړيکو او ملاتړ د شبکو جوړول، په کور او کار کې ملاتړ کوونکي نارينه (او ښځې)، او مذاکرات.

په هره مرکه کې ځواب ويونکو په دې اړه خبرې کولې چې ښځې څنګه په هر ډول حالت يا کار کې د ثبوت بار ته اوږه ورکوي، يعنې پر هغوی شک کېږي چې بې وړتيا/نالوستې/ بې شرمه دي، په ځانګړي ډول له پلارواکۍ د خلاصون د وسيلې په توګه، مګر دا چې هغوی ځان د دې خلاف ثابت کړي.

د مسلکي اړيکو او ملاتړ د شبکو جوړول

نارينه وو بيا د دې خلاف فکر کولو: وړاندې له دې چې کوم کس هغوی د يوه کار د ترسره کولو لپاره د وړتيا نه لرلو له کبله احضار کړي، د هر څه له عواقبو ځانونه ژغورلی شي. د يوې ولسوالۍ ښځينې ولسوالې دغه حالت داسې را لنډ کړ« يوه ښځه يوازې هغه وخت پرېکړه کوي کله چې ډاډه وي خپله پرېکړه عملي کولی شي.... نارينه بيا يوازې د خپل وياړ پر بنسټ پرېکړې کوي او کله چې کومه ستونزه رامنځته شي بيا مسئوليت نه اخلي.»[۹۷] د مطيعو لږکيو(اقليتونو ) په برخه کې هم کيسه همداسې ده. خو ددې معنا دا ده هغه ښځې چې په خپل کار کې ځان استثنايي ثابتوي، په ځانګړي ډول په عامه ډګر کې، کولی شي په عمومي ډول د ښځو د وړتياوو او باالقوه ځواک په اړه د نارينه وو او نورو ښځو پر باور د پام وړ اغېز ولري او کولي شي چې په رېښتيني معنا بېلګه و اوسي.

---

۹۳ مرکه، ننګرهار، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبليو.پي.پي.ډي-ننګرهار- ۱۵۰۶۲۰۱۹

۹۴ مرکه، ننګرهار، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبليو.پي.پي.ډي-ننګرهار- ۱۵۰۶۲۰۱۹

۹۵ مرکه، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبليو.پي.پي.ډي- باميان-۲۷۰۷۲۰۱۹

۹۶ مرکه، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر-ډبليو. پي. پي. ډي- ۱۵۰۶۲۰۱۹

۹۷ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر، ډبليو.پي.پي.ډي-بلخ-۰۴۰۷۲۰۱۹

د دې سروې ډېرى ګډونوال ځانونو ته له همدې زاويې ګوري او د هغو لارو چارو په اړه خبرې کوي چې دوی يې پر مټ د باور پر بنسټ مسلکي اړيکې جوړې کړې دي( د خپلوۍ پاللو/کورنيو اړيکو يا بډو خلاف) او، تر دې هم مهمه، د خدماتو وړاندې کول دي(چې په تخنيکي لحاظ د هغوی د دندې برخه نه دي)، تر ټو اغېز او درناوی ترلاسه کړي. په ځانګړې ډول په بلخ کې يوه ښځينه ولسواله، په کابل کې د ولسي جرګې يوه غړې، او په مزار شريف کې د يوې ناحيې آمره په دې ډله کې شاملې دي. د ناحيې دغه آمره د ښار د ۱۲ ناحيو د آمرينو تر منځ يوه ده چې هر يو يې د دولسو اړوندو ښاري ناحيو مسئوليت لري او تر منځ يې يوازې دا ښځه ده:

> کله چې ما دا دنده ترلاسه کوله، د ښاروالۍ يوه مرستيال راته وويل چې د دې پر ځای د بشري سرچينو آمره شم، ځکه دا به زما لپاره غوره وي. ما پوښتنه ترې وکړه چې ولې؟ هغه راته وويل چې د يوې ښاري ناحيې د آمرې په توګه به زما لپاره سخته وي ځکه چې په نيمه شپه کې د سېلاب راوتلو يا بلې پېښې پر مهال به زه څه کوم؟ ما ورته وويل چې له ما سره مې کورنۍ شته چې په هر وخت کې زما ملتيا وکړي او زه تر تاسې کمه نه يم. هغه وخندل او ويې ويل چې زه به دلته کار ونشم کړلی. خو تاسې پوهېږئ چې تر يوه کال د ډېر وخت تر تېرېدو وروسته زما ټول همکاران زما له کاره خوښ دي. خبره دا ده چې که زه په احتياط له مهارت او مسلکيتوب سره مخکې ځم، موږ به بريالۍ کېږو او په دې ډول به نورو مېرمنو ته په مهمو پوستونو کې د کار لاره پرانيزو.[۹۸]

دې ځواب ويونکې په خپلو خبرو کې وړاندې وويل چې هغې په خپله سيمه کې اړتياوې په ګوته کړې او مرستندوی بنسټونه يې قانع کړي چې له نوموړې سره د کوڅو په هوارولو، د هلکانو لپاره د مسلکي کورسونو، د نجونو لپاره د کمپيوټر د صنفونو او د ماشومانو لپاره د فوټبال د ميدان په رغولو کې مرسته وکړي. د نورو ولايتونو د ځواب ويونکو په څېر، دا هم په دې اړه خبرې کوي چې اغېزناکه تصميم نيونه، درناوی، او د پروژو واقعي پلي کول تر ډېره بريده له هغو کسانو سره د ښځو په چلند پورې تړلي چې کار ورسره کوي. په کابل کې يوه ځواب ويونکې چې د يوې نړيوالې موسسې لپاره کار کوي د نجونو لپاره د هغه ښوونځي د ځار مسئوله وه چې ځايي نارينه يې مخالف وو:

> موږ هلته ورغلو او له دوی سره مو بحث وکړ، او د دوی لپاره د يوې افغانې( د بهرنۍ خلاف) منلاآسانه وو. د خوښۍ ځای دا دی چې زما شخصيت ډېر د افغانانو په څېر دی او زه چې هر کله کوم ولايت ته تللې يم، د سيمه ييزو خلکو په څېر جامې مې اغوستې دي. په پيل کې، زما نارينه همکاران له ما سره وو او زما حضور د دوی لپاره هم ځواک و. لومړيو کې به د سيمې خلکو او مشرانو نه غوښتل موږ ته وګوري، خو موږ له هغوی سره کېناستو او بحث مو ورسره وکړ چې ښوونځي ته د هغوی د نجونو تګ څومره مهم دی او ښوونځی کېدلی شي چې د هغوی لپاره خوندي ځای وي. په پای کې، د ماشومانو د خونديتوب ادارې (Save the Children) د هغوی لپاره ځلور ښوونځي جوړ کړل او د هغوی د ماشومانو ملاتړ يې وکړ. دغه راز، هغوی ماته خور ويل او غوښتل يې چې يو ښوونځی زما په نوم ونوموي! د دې معنا دا وه چې هغوی خپل نظر ډېر بدل کړی و.[۹۹]

په دغه بېلګه کې، د خلکو د جامو خپلول او له هغوی سره د وخت تېرول، له ځان لوړګڼلو پرته، د نجونو د ښوونځيو د رغولو لپاره مشرانو ته د قناعت ورکولو کلی وه. همدې ته ورته په بلخ ولايت کې يوې ولسوالې دومره شهرت ترلاسه کړی او دومره خپلو موکلينو ته ژمنه ده چې له دغه ولايت څخه آن يوه نارينه ځواب ويونکي د خپلې مرکې پر مهال نوموړې د بېلګې په توګه ياده کړه:

> د (X ولسوالۍ) ولسواله ښځه ده. په لومړيو کې چې کله د ولسوالې په توګه وټاکل شوه، خلکو به ورپورې خندل. خلکو به ويل چې آن يو نارينه نه شوی کولی چې په دې ولسوالۍ کې په خپلواکۍ کار وکړي، نو ښځه به يې څنګه وکولی شي؟ کله يې چې کار پيل کړ د خلکو لپاره يې په جديت خدمت وکړ. هغې په عالي ډول او ښه خلکو ته کار وکړ او د هغوی ستونزې يې حل کړې. اوس هغه خلک چې په هغې پورې به يې خندل د هغې ستاينه او ملاتړ کوي. نوموړې اوس له هغو خلکو سره ولاړه ده چې پر وړاندې يې ولاړه وه. ولسواله اوس د خلکو ترمنځ توپير نه کوي او ټولو ته په يوه سترګه ګوري. هغه اوس په هېواد کې يوه له تر ټولو برياليو ولسوالانو څخه ده.[۱۰۰]

دغه بېلګه په يوه بله څېړنه کې چې د ژمنو او ور خدمت وړاندې کوونکو په توګه د ښځو د مسلکي شبکې جوړولو[۱۰۱] په اړه شوې وه هم راپورته شوې وه. سره له دې چې دا په ښکاره په عامه دفاترو کې د ښځو لپاره لومړيتوب نه دی، خو بيا هم پر ښځو د نيوکو د مخنيوي او په کاري چاپېريال کې د هغوی د ملاتړ د پياوړ شبکو د رامنځته کولو په برخه کې اغېزناکه وسيله ده.

۹۸ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر، ډبليو.پي.ډي-بلخ-۰۷۰۷۲۰۱۹.

۹۹ مرکه، کابل، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر، ډبليو.پي.ډي- ۱۰۰۷۲۰۱۰

۱۰۰ مرکه، بلخ، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر، ۰۲۰۷۲۰۱۹.

۱۰۱ کوبورن او لارسون، د ديموکراسۍ بې لارې کول ۱۷۲.

دغه شبکې که هغه په ولسوالۍ کې موکلين وي، که همکاران وي او که مدني ټولنه، مهمې دي، ځکه په دولتي دفترونو کې د ښځو د انزوا مخه نيسي او د باصلاحيته پوستونو( لکه د بېلګې په توګه چې د بلخ په دوو مرکو کې تشريح شول) د ترلاسه کولو لپاره د ښځو د هڅو د سيستماتيک ملاتړ کوي.[۱۰۲] لکه په ننګرهار کې چې يوې ځواب ورکوونکي ويلي چې له يوې شبکې سره کار کول د فردي کار په پرتله لاسته راوړنې چټکې او ځو چنده کولی شي:

> هغه ښځې چې کار کوي او په دولتي يا نا دولتي ادارو کې لوړ موقفونه لري، په يو ډول له يو بل سره اړيکو ته اړتيا لري. هغوی اړې دي چې د يو او بل نظريات او معلومات وکاروي؛ ځکه دغه کار يې ورتياوې لوړوي. دوی بايد له هغو ښځو سره چې کار نه کوي اړيکې ولري او خپل نظريات له هغوی سره شريک کړي څو له خپلو حقوقو او ارزښت څخه خبرې شي.[۱۰۳]

لکه څنګه چې پورته د ننګونو په برخه کې څرګنده شوه، د ښځو ترمنځ سيالي، د يووالي نشتون او بې باوري د ښځو له لوري د عامه دفترونو د ترلاسه کولو او اغېزناکې تصميم نيونې په برخه کې اساسي خنډ تشکيلوي. له دغه حالت سره د باور د پياوړو شبکو پر مټ چې ملاتړ، پر ځان باور، او د مالي تمويل سرچينې وړاندې کوي، لکه نړيوال موسسې، چې ښځې د خدماتو د وړاندې کولو او په ټولنه کې د خپل ځای ځايکې د لوړولو جوګه کوي، مبارزه د پراخ نفوس لپاره حياتي ده.

**په کور او کارځای کې ملاتړي نارينه (او ښځې)**

په افغانستان کې، د نورې نړۍ په څېر، له ښځو تمه کېږي چې له کوره بهر پر دندو/زده کړو سربېره په لويو کورنيو کې د فزيکي، ټولنيز او عاطفي مسئوليتونو د سمبالولو ذهني فشار هم وزغمي. داسې موارد چې خاوند، پلار، لېور يا خوابنې، او يا دوی ټول خپله مېرمن، خور، مور يا ښينه هڅوي يا زمينه ورته برابروي چې کوم مسلک تعقيب کړي، د بېلګې په توګه، پر ځان باندې د لا ډېرو کورنيو مسئوليتونو په اخيستلو سره، ډېر ارزښتمن ( او نادر دي.) د مرکو په بهير کې، ځواب ويونکو دا څرګنده کړې چې د هغو ناورينه وو چې دوی ژوند يا کار ورسره کړی چلند د هغوی په لاسته راوړنو کې مهمه ونډه درلوده. په بلخ کې يوې مېرمنې د هغه رول صادقانه يادونه وکړه چې د خاوند ملاتړ يې لوبولی و:

> ما تر ۱۰ام ټولګې زده کړې وکړې او وروسته مې واده وکړ. وروسته له دې چې واده مې وکړ زده کړو ته مې دوام نه شوی ورکولی، ځکه تمرکز مې د ماشومانو پر لويولو او د هغوی پر زده کړو و. کله مې چې وليدل ماشومان مې په ورځينو درسونو کې ښه پر مخ ځي، د زده کړو د بيا پيل پرېکړه مې وکړه او له ماشومانو سره مې يو ځای ښوونځي ته تللم. خاوند مې دا نظريه راکړه. هغه يوازې نظريه را نه کړه، بلکې د زده کړو په بهير کې يې زما ملاتړ وکړ. په ښوونځي کې کافي کتابونه نه وو، نو هغه به له بازاره راته راوړل. هغه په درسونو کې هم مرسته راسره کوله. (کله چې په آزموينو کې بريالۍ شوم) له غرمې وروسته به پوهنتون ته تللم.... زه فکر کوم زه تر ټولو غوره خاوند لرم. زه داسې احساس نه کوم لکه خاوند چې لرم، زه باور لرم چې د «خاوند» په نوم خورا نږدې ملګری لرم.[۱۰۴]

په بلخ کې يوه بله مېرمن چې پر يوه دولتي واکمن موقف باندې کار کوي، هم له دې کبله ځان نيمکرغه بولي چې له ملاتړو نارينه وو سره مخ شوې ده:

> زه نيمکرغه يم چې له داسې نارينه وو سره مې کار کړی چې ښه او د پرانيستي ذهن لرونکي خاوندان وو. د يو څه مودې لپاره مې په بلخ کې په يوه ولايتي دفتر کې کار وکړ او زما آمر ښه نارينه وو چې له ما سره يې هلته مرسته وکړه. د هغوی د سخت کار له برکته ده چې زه اوس ولسواله يم. که نيکمرغه وی چې د يوه ښه نارينه ترلاس لاندې کار وکړی، بريالي به شی، خو که داسې نه وي له تاسې نا سمه ګټه اخيستل کېدای شي...که يوه ښځه له لوړ باور او مهارتونو سره راوړاندې کېږي او ښه نارينه يې ملاتړ وکړي فرصت لري او هېڅوک يې مخه نه شي نيولی.[۱۰۵]

---

۱۰۲ مرکه، بلخ، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر، ډبليو. پي. پي. ډي-بلخ ۰۷۰۷۲۰۱۹ او مرکه، بلخ، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبليو. پي. پي. ډي-بلخ-۱۴۰۷۲۰۱۹.

۱۰۳ مرکه، بلخ- د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبليو.پي.پي.ډي-بلخ-۱۸۰۶۲۰۱۹

۱۰۴ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبليو.پي.پي.ډي -بلخ-۱۱۰۷۲۰۱۹

۱۰۵ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبليو.پي.پي.ډي-بلخ-۰۴۰۷۲۰۱۹

د هغه تواضع تر شا چې دلته ځرګنده شوه، ځواب ورکوونکې د نارینه وو ملاتړ په لویه کچه په دغه پلار واکې ټولنه کې د اغېزناکو موقفونو د ترلاسه کولو لپاره یوه اړتیا ګڼي. په ننګرهار کې د شپږو

ښلاښیلو مرکو پر مهال ښځو دقیقا همدا خبره تشریح کړه: نارینه همکاران چې د دوی د ملاتړ لپاره فعال ګامونه اخلي یا د دې خلاف یعنې هغوی چې د خپلو ښځینه کارکوونکو لپاره د کاري چاپیریال د سختولو لپاره هر کار ته لاس اچوي.[106] په بامیانو کې د ځواب ورکوونکو له لوري وړاندې شوی انځور ګډوډ و: ځینو په عامه ډګر کې د ښځو د منلو ځایي کتلور تر ډېره لیبرال ګڼلو، لږ تر لږه په ظاهر کې (لکه یوې ښځې چې وویل« دلته په دغه ولایت کې یوه مثبته خبره د کورنۍ او نارینه وو هڅونه ده. د بامیانو نارینه د ښځو خلاف نه دي،»)[107] خو له دې سره سره په بامیانو کې په کار ځای کې د ښځو د جنسي ځورونې کیسې همدومره عامې دي لکه په نورو ولایتونو کې.

دا ځرګنده ده چې په کورنیو او لوی خاندان کې د کار او تصمیم نیونې وېش له کوره بهر د ښځو پر لاسته راوړنو جدي اغېز لري. کورنۍ نورمونه له یوې کورنۍ تر بلې ډېر توپیر لري، له همدې کبله پر ولایتونو او سیمو نه شي تعمیمبدلی. که څه هم په معلوماتو کې د پام وړ بهیرونه عمومي وو.

ځینې له لسیزو راهیسې روان دي، چېرې چې د سیاسي او لوستو کورنیو نارینه چې غړو یې آن په ۱۹۲۰مو، ۷۰ یمو، ۸۰ یمو کلونو کې دولتي دندې درلودې او د نجونو د زده کړو لپاره یې کمپاین کاوه. د واقعي نخبه ګانو په توګه، دغه کورنۍ له خپلو دندو سره لېږدېدې او له خپلو ټولنو سره یې د خپلو ګاونډیو بزګرو او هټیوالو په پرتله کمزورې اړیکې درلودې، له همدې کبله ټولنیزو نورمونو ته یې ژمنتیا لږه وه. په ننګرهار کې یوه ځواب ورکوونکې په مستقیم ډول له کوره بهر خپل کار او زده کړې د والدینو له چلند سره تړي، چا چې د ډاکټر نجیب د واکمنۍ ملاتړ کاوه: «زما مور او پلار له دې کبله د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ ستاینه کوي چې ښځو په کې کار او زده کړې کولی شوې. دغه راز زما مور تل د مجاهدینو او طالبانو د واکمنۍ پر مهال د بدو وختونو یادونه کوي.»[108] نورو بیا له اوسني نسل څخه پیلول چا چې نوې کورنۍ او نورمونه جوړ کړي او خپلو ماشومانو ته یې لېږدولي، لکه په بلخ کې چې یوې ځواب ورکوونکې وویل:

> زه یو زوی او یوه لور لرم، او دواړه یې له پوهنتون څخه فارغ شوي دي. لور مې اوس واده ده، خو کله چې له ما سره وه، ما به مشوره ورکوله او ډېر ځله یې په کور کې پرېکړې کولې. هغه اوس ښوونکې ده، او په خپله کورنۍ کې ټولې پرېکړې په خپله کوي.[109]

نوي نسل ته د داسې بېلګو لېږدول چې زوی ته پر لور د ارزښت له ورکولو ډډه وکړي او لونې لوستې کړي او وېې هڅوي چې په تصمیم نیونه کې ونډه واخلي، په ځرګنده نا رسمي ځواکمن مکانیزمونه دي چې له کوره د باندې د ښځو د نفوذ د پراختیا ملاتړ کوي.

**خبرې اترې(مذاکرات)**

البته په معلوماتو کې تر ټولو پراخه موضوع د ښځو هغه اړتیا وه چې پر پلار واکۍ د بریالیتوب لپاره یې د مذاکراتو مهارتونو ته لري. په دې کې دا وړتیا هم شامله ده چې څنګه « اغېزناک بحث» وکړي، د خپلې خوښې وړ پایلې وړاندې کړي چې کورنیو او ټولنې دواړو ته ګټورې دي. لکه په بلخ کې چې یوې ځواب ویونکې وویل:

> ښځې باید حوصله ولري. موږ په یوه سنتي پلارواکې ټولنه کې ژوند کوو؛ موږ باید د هر هغه ګام په اړه محتاطې و اوسو چې پورته کوو یې. د بېلګې په توګه، که زه دغه موقف ته په رسېدو سره د ګڼو نارینه وو پر ځای مېړمنې وګومارم، فکر وکړئ چې څه به پېښ شي، دغه کار به پر نارینه وو بد اغېز وکړي او هغوی ته به په لوړو پوستونو کې د ښځو بد انځور وړاندې کړي. موږ اړتیا لرو چې ورو مخکې ولاړ شو او نارینه وو ته دا فکر وکړو چې ښځې د اساسي دندو د سمبالولو وړتیا لري او غوره پرېکړې کولی شي.[110]

---

۱۰۶ مرکه: د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي- ننګرهار-۱۲۰۶۲۰۱۹، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي- ننګرهار-۱۷۰۶۲۰۱۹، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي- ننګرهار-۱۸۰۶۲۰۱۹، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي- ننګرهار-۲۳۰۶۲۰۱۹، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي- ننګرهار-۲۴۰۶۲۰۱۹، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي- ننګرهار-۲۴۰۶۲۰۱۹،

۱۰۷ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي-بامیان-۲۷۰۷۲۰۱۹

۱۰۸ د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي-ننګرهار-۲۰۰۶۲۰۱۹

۱۰۹ مرکه، بلخ، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي-بلخ-۱۱۰۷۲۰۱۹

۱۱۰ رکه، بلخ، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.پي.ډي-بلخ-۰۷۰۷۲۰۱۹

دا نظریه د اوبیوما نیمیکا له لوري په افریقا کې د فیمینزم له ارزونې سره نږدې اړیکه لري:

> دا د مذاکراتو او مصالحې له لارې ننګول کېږي. هغه پوهېږي چې څنګه، چېرې او کله د نرسالارۍ ماین ته چاودنه ورکړي؛ هغه دغه راز پوهېږي چې کله، چېرې او څنګه د نرسالارۍ د ماینونو شاوخوا وګرځي. په بل عبارت، هغه پوهېږي چې کله، چېرې او څنګه په بېلابېلو حالاتو کې له نرواکۍ سره یا د هغه په شاوخوا کې مذاکره وکړي.[۱۱۱]

د دغه ډول تګلارې مثالونه د یو شمېر نورو ځواب ویونکو له لوري هم ورکړل شوي: ځینو د هغو بریالیو ښځینه همکارانو په اړه خبرې کولې چې په کار کې په تصمیم نیونه کې ښکېلې وې، خو مېړونو یې اجازه نه ورکوله چې د کار لپاره بهر ته سفر وکړي.[۱۱۲] په داسې حال کې چې نورو د هغو لارو په اړه خبرې کولې چې په کورنیو کې یې د کار شته ویش ورباندې ننګولی شي، د بېلګې په توګه، د کورنۍ لپاره د ټولې سودا اخیستل چې د پیسو د مدیریت [۱۱۳]په برخه کې خپله وړتیا وښیي، یا په تدریج د خپلې کورنۍ غړي قانع کړي چې دوی د باور وړ دي، [۱۱۴]نورو د هغو ښځو په اړه خبرې کولې چې دوی پېژندلې چې خپل معاش به یې خپلو وزګارو مېړونو ته ورکولو چې د پیسو پر سر له تاوتریخجن جنګ څخه مخنیوی وکړي تر څو هغوی د دغه کار لپاره وساتي: « کله چې ښځې په کور کې حوصله نه شي کولی یا د کورنۍ په کچه پرېکړې نه شي کولی، څنګه کېدای شي چې کار وکړي یا په سیاسي کچه پرېکړې وکړي.؟»[۱۱۵] د دې څېړنې په معلوماتو کې، د تصمیم نیونې په موقف کې ښځو خپل بریالیتوب په ځانګړي ډول د مذاکراتو له وړتیا او مصالحې سره تړلی دی.

دا باورنه ښایي له لوېدیځ لیبرال فیمینیزم یا افریقایي فیمینیزم سره چې نیمیکا تشریح کړی اړخ ونه لګوي، خو د ګټو د هغې ټینګې شبکې چې ټولنه، کورنۍ او فرد دی، اندېښنه منعکسوي. لکه د افریقایي فیمینیزم په څېر، دا د ټولنیزو اړیکو یوه تګلاره ده:

> ....داسې ګڼل کېدای شي لکه په داسې شرایطو کې یې چې پراختیا موندلې وي چېرې چې انساني ژوند ته د دوه اړخیز او جامع نظر پر ځای له یوې بشپړې زاویې کتل کېږي. د ښځو لپاره، نارینه «نور» نه دي، بلکې د همدې بشر برخه ده. هر جنس د ټول بشر نیمایي برخه جوړوي. هېڅ جنس هم په خپله په بشپړ ډول پوره نه دی.[۱۱۶]

د فیمینیزم دغه بڼه له نرواکۍ سره د رغنده او آزادنه بحث په لټه کې ده، چېرې چې ښځې او نارینه له انعطاف څخه کار اخلي او د ټولنې او کورنۍ په کچه په تصمیم نیونه کې یو بل ته ونډه ورکوي، او فردي ګټو ته په لویه کچه د ټولنې او کورنۍ د اړتیاوو د یوې برخې او بشپړوونکې په سترګه ګوري. دا دقیقا هغه لارې دي چې پر مټ یې ښځو، لکه په بلخ کې ولسوالۍ، د ماشومانو د ملاتړ اداري کارکوونکې، د مزار شریف د ښاري ناحیې آمرې، چې پورته یې یادونه وشوه، خپل بریالیتوب مهندسي کړی او نه یوازې یې ځانونو ته ځای پیدا کړی چې تصمیم نیوونکې و اوسي، بلکې د تصمیم نیونې ځواک یې ترلاسه کړی چې ټولنه یې ملاتړ او درناوی کوي.

---

۱۱۱ ننمایمیکا، نیګو-فیمینزم،۳۷۸

۱۱۲ مرکه، کابل، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.ډي-کابل-۱۰۰۷۲۰۱۹

۱۱۳ مرکه، بلخ، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.ډي-بلخ-۱۰۰۷۲۰۱۹

۱۱۴ مرکه، ننګرهار، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.ډي-ننګرهار-۲۴۰۲۲۰۱۹

۱۱۵ مرکه، ننګرهار، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر- ډبلیو.پي.ډي-ننګرهار-۰۳۰۷۲۰۱۹

۱۱۶ فلومینا ستیډي، ۱۹۸۷، د ننمایمیکا په نیګو- فیمینزم کې نقل قول شوې، ۳۷۹-۳۸۰.

# ۵. پایله او سپارښتنې: د لویې کچې اغېز لپاره د رسمي او غیري رسمي میکانیزمونه یو ځای کول

د افغان ښځو داسې معرفي کول چې ټولې افغان مېرمنې د ټولو افغان نارینه وو له لاسه کړېږي، دغو ښځو او نارینه وو ته لوی زیان رسولی او هغه لاره یې له پامه غورځولې د کومې پر مټ چې د مجاهدینو او طالبانو د واکمنیو پر مهال له لسیزو ځورونو وروسته، ښځو غوښتل او کولی یې شول چې په ۲۰۰۱ کال کې په لویو سیاسي بهیرونو کې ونډه واخلي.

په دې مقاله کې هڅه شوې وپوهېږو چې افغان مېرمنې څنګه له خنډونو سره مبارزه کوي او پر هغوی برلاسې کېږي. پر دې سربېره، دا څېړنه هغه اغېزناک وسایل او ستراتیژۍ په ګوته کوي چې پیاوړتیا او پراختیا یې ګډون او اغېز دواړه دودولی شي، هم په اوسني حالت کې او هم په راتلونکې کې که د طالبانو استازي په دولت کې ونډه اخلي. موندنې او اغېزې یې په لاندې ډول دي:

ټاکنې: د بېلګې په توګه ښکاري چې په ټاکنو کې د رایه ورکوونکو په توګه ګډون په کور کې د ښځو پر تصمیم نیونې لږ اغېز کړی او په رایه ورکولو کې د آزادنه انتخاب صلاحیت نه دی. خو نارینه بیا دا پرېکړه هم په ډله ییز ډول کوي چې چاته باید رایه ورکړل شي: که ښځو ته د رایه ورکولو د حق رسمي خوندیتوب په ریښتیا بدلون راوستونکی وي، اړتیا ده چې په کور او ټولنه کې د تصمیم نیونې له برخو سره چېرې چې د کاندیدانو په اړه پرېکړې کېږي، مذاکراتو ته د لویې کچې له لاسرسي سره مل وي. پر دې سربېره، د ښځینه رایه ورکوونکو د ګډون لپاره له دوامداره او همغږو هڅو پرته، ښځینه کاندیدانې موجود حالت پیاوړی کوي چې ښځې د تصمیم نیونې له کړیو د باندې ساتي. په همدې ترتیب، سره له دې چې د ښځو د رایې ورکولو حق او په ټاکنو کې د کاندیدانو په توګه د هغوی ګډون د افغانستان په دولتي بنسټونو کې د ښکاره نرواکۍ پر وړاندې پیاوړی او سمبولیک ننګونکی رول لري، خو نور ټولنیز جوړښتونه (د بېلګې په توګه هغه پرېکړې چې د اجماع پر بنسټ کېږي، د کمپاین د وسیلې په توګه د تاوتریخوالي ګواښ) په افغانستان کې د ټاکنو ښه اغېزمنوي او په دغه جوړښت کې د نرواکۍ ځای پر ځای شوي نرمونه، د دې مخنیوی کوي چې ټاکنې د ښځو لپاره یو بنیادي بدلون شي.

د عامه سکټور ګډون: دې څېړنې وموندله چې کاري چاپېریال ته د ډېرو ښځو راوستل په سمه ښه د دندې د ترسره کولو د وړتیا په برخه کې ډېر ګټور وو. همدغه راز، دا مهمه ده، چې په فزیکي ډول دفتر ته د ډېرو ښځو د راتګ، د دوستانه کاري چاپېریال د وړاندې کولو پر مټ هلته د هغوی ساتلو، او د دوی وړتیا چې د هغوی ترمنځ پر پرېکړو اغېز ولري، سره تړلې ماهیت باید درک شي. په دولتي ادارو کې د تصمیم نیونې د لوړې کچې ښځینه اتلانې هم د هغه اغېز په اړه د ستر بدلون لامل کېږي چې ښځې یې لرلی شي، په ځانګړي ډول له دې کبله چې دغه ادارې په سنتي ډول په لویه کچه مرکزي دي او ځواک لرونکي اشخاص په کې د پام وړ قدرت لري. دولتي ادارې، سره له دې چې په فساد او خپلوۍ پاللو مشهورې دي، لا هم د افغانانو ترمنځ له ځانګړي درناوي برخمنې دي، په همدې دلیل، هغوی کېدلی شي چې د اوږدمهالي بدلون یو پام وړ عامل و اوسي، په ځانګړي ډول د تمویلوونکو له دوامداره ملاتړ سره.

د نجونو زده کړې: دا په تېرو **۱۵** کلونو کې د پراختیایي ادارو او افغان دولت له لوري په تکراري ډول ویل شوې اندېښنه ده، سره له دې چې هغه شاخصونه چې د هغې د اندازه کولو لپاره کارېږي، لکه په هر کال کې په ښوونځیو کې د نجونو د شاملېدو شمېر، ناسم او تېر ایستونکي ثابت شوي دي. له دې سره سره، زده کړې په تکرار د ځواب ویونکي له لوري یادې شوې، که څه هم هغوی درک کوله چې دا د ټولو ناخوالو د حل جادویي ګولۍ نه ده، زده کړې یې د داسې وسیلې په توګه یادولې چې په کارځای او کور کې د هغوی شهرت زیاتوي او د بې کفایتۍ د تورونو پر وړاندې یې دفاع کوي. څومره چې یوه ښځه ډېرې زده کړې ولري، هماغومره په مهارت کولی شي د هغو نارینه همکارانو پر وړاندې ودرېږي چې غواړي دا له دفتر څخه په دې پلمه چې ښځه ده وشړي. پر دې سربېره، د ښځو مذهبي زده کړې او سواد د دې لپاره هم کارېدلی شي چې له نارینه وو سره اعتبار جوړ کړي او له مذهبي بحث څخه په ګټې اخیستلو د جنسي تاوتریخوالي ( لکه په کارځای کې جنسي ځورونې ) څخه د ځان دفاع وکړي.

نا رسمي ستراتیژۍ: دا هغه وسایل دي چې ښځې یې په خپله کاروي، یا په قصدي ډول یا په غیرې قصدي ډول، یا د داسې وسیلې په سترګه ورته ګوري چې د زیات اغېز د ترلاسه کولو لپاره کارېدلی شي. په دې کې د مسلکي اړیکو او د باور د شبکو جوړول، په کار او کور کې له ځانه د ملاتړو نارینه وو او ښځینه وو راټولول او د مذاکراتو د مهارتونو د لهجې سمول شامل دي. دا دری واړه غیرې رسمي مکانیزمونه د اړیکو د ردولو پر ځای د هغوی پر پیاوړتیا ولاړ دي. دا ټول هغه لارې وړاندې کوي چې پر مټ یې د رسمي رایې ورکولو حق، مثبتې کړنې او زده کړې پراختیا مومي، چې له دوی پرته دا رسمي میکانیزمونه تر ډېره بې اغېزې پاتې کېږي. سره له دې چې دغه میکانیزمونه په تصمیم نیونه کې د ښځو د اغېز زمینه برابروي او یوه مهمه سمبولیکه ننبه وړاندې کوي چې څه شي امکان لري، رسمي میکانیزمونه د غیرې رسمي پروسو او مذاکراتو یوه نرۍ پرده او یوه سره تړلې شبکه تشکیلوي. که طالبان په دولت کې د لویې کچې اغېز ترلاسه کوي، د ښځو د ملاتړ لپاره رسمي میکانیزمونه له منځه تللی شي. د ښځو د تصمیم نیونې پیاوړتیا او په افغانستان کې د تصمیم نیونې ځواک له همدې کبله د باور د مسلکي اړیکو د جوړولو، د کورنې ملاتړ د انسجام، او له نرواکۍ سره په داسې ښه د مذاکراتو چې د ټولنې پر پیاوړتیا ټینګار ورباندې شوی وي په برخه کې، حیاتي دي.

**د تګلارې اغېزې او سپارښتنې**

**د افغان دولت لپاره:**

۱. په عامه سکتور کې د کار لپاره د ښځو د لا ډېرې هڅونې په اړه: په فزیکي ډول په دفتر کې د ښځو د زیات حضور، د دوستانه کاري چاپېریال د وړاندې کولو پر مټ د هغوی هلته ساتلو، او د دوی د وړتیا چې د هغوی ترمنځ پر پرېکړو اغېز ولري، ترمنځ پیاوړې اړیکه موجوده ده. افغان دولت له وړاندې په دولتي سکتور کې د ښځو د شمېر د زیاتوالي په اړه د ستاینې وړ اهداف لري، چې د ۲۰۱۸ کال په عامه خدماتو کې د ښځو د ونډې د زیاتوالي په تګلاره کې یاد شوي دي.[۱۱۷]

توصیه شوی اقدام: په دغه څېړنه کې شواهد ښیي چې یوه څو اړخیزه ستراتیژي په دولتي سکتور کې د ښځو د سیاسي تصمیم نیونې په برخه کې ډېره ګټوره ثابتېدلی شي: ګډ مثبت عمل او عملي اقدامات لکه تشنابونه، له نارینه وو څخه بېل کارځای، او د ماشومانو پالنه. دغه ډول ستراتیژي له وړاندې د ۲۰۱۸ کال په تګلاره کې بیان شوې، خو دغه سند تر ډېره د سودا د لېست په شان دی چې د خپلې خوښې امکان په کې لیکل شوی، د دې پر ځای چې د احکام یوه ټولګه وي چې وزارتونه باید ورته ژمن پاتې شي. دا هم څرګنده نه ده چې وزارتونه څنګه د دې ستراتیژۍ د وړاندیزونو پلي کولو ته ژمن پاتې کېدای شي. له همدې کبله اړتیا ده داسې میکانیزمونه رامنځته شي چې د دې تګلارې د پلي کېدو ملاتړ کوي او ادارې هغې ته د ژمنتیا پر بنسټ ارزوي.

۲. په کارځای کې د جنسي ځورونو په اړه: په عامه ژوند کې د ښځو د ونډې اخیستو پر وړاندې ګواښونه د زیاتېدو په حال کې دي. دا ګواښونه طالبانو او نورو محافظه کارو ډلو ته د لا زیات نفوذ زمینه برابروي د کوم پر مټ چې هغوی د ښځو د سیاسي فعالیت مخه نیسي، له همدې کبله د افغان دولت د بېړني اقدام اړتیا ده.

توصیه شوی اقدام: د افغانستان حکومت باید د ښځو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره د مبارزې د ۲۰۱۲ زېږدیز کال قانون ترویج او تمدید کړي. دغه قانون باید د ولایتونو او ولسوالیو په کچه په لا ډېر جدیت پلي شي. په دې کې باید د قربانیانو د خوندیتابه لپاره پیاوړي اقدامات، د جنسي ځورونې د تورونو د ارزونې د کمېټو لپاره احکام او د جنسي ځورونې د ترسره کوونکو لپاره داسې جزایي موارد شامل وي چې یوازې تر جریمې پورې محدود نه وي.

د بېلګې په توګه، د هغه نارینه وو لپاره چې په کارځای کې په جنسي ځورونه لاس پورې کوي د لومړنیو اقدماتو په توګه د مذهبي زده کړو د کورس جبري کول چې یو ستراتیژیک جزایي اقدام کېدای شي او د مخنیوونکي هدف په توګه کارېدلی شي: هغه شرم چې د اسلامي اصولو د زده کړو لپاره له مجبورولو سره تړلی(د دې خلاف چې له وړاندې ورباندې پوه وي او عمل یې کړی وي) که په وزارتونو کې پلی شي د احتمالي ځورونکو په مخنیوي کې بریالی ثابتېدلی شي.

۳. د ناامنۍ د روایتونو په اړه: دا په سیاست کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي یوه ښه تشکیلوي چې په دولتي دفترونو، ټاکنو، او په ساده ډول په ورځني ژوند او کار کې د نارینه وو لخوا په ستراتیژیکه بڼه کارول کېږي، تر څو د ښځو د ودې مخه ونیسي.

توصیه شوی اقدام: د افغانستان حکومت باید د ( ناامني موږ ټول اغېزمنوي) تر عنوان لاندې یو نوی کمپاین پیل کړي چې په جنسیتي لحاظ خنثی امنیتي اندېښنې برجسته کوي او ښځو ته داسې وسایل او پروسیجرونه په لاس ورکوي چې د ناامنۍ پر روایتونو د ولاړ تعصب په اړه د تورونو راپور ورکړي.

۴. د ښځینه وکیلانو او موکلینو ترمنځ د اړیکو په اړه یې: د ښځینه وو ټاکنیز کمپاینونه په ندرت بدلون راوستونکي دي، ځکه دوی نه غواړي چې ښځینه رایه ورکونکې ښکېل کړي یا له هغوی سره اړیکې ولري.

توصیه شوی اقدام: دا ستونزه کېدای شي د ښځو ترمنځ د اړیکو د پروګرامونو، لکه د موکلینو د «کلینکونو» له لارې چېرې چې وکیلانې له خپلو موکلینو سره د مشورو لپاره منظمې ناستې جوړوي- که دغه ناستې د کورنیو په بڼه وي او که د ښځو او نارینه لپاره په بېلابېلو ټایمونو کې وي- بنسټ جوړ کړي.

۱۱۷ https://iarcsc.gov.af/en/wp-content/uploads/sites/۴/۲۰۱۷/۱۱/-_-Policy-on-Increasing-Women-Participation-in-Civil-Service-English.pdf

**۵. په کارځای کې د ښځو لپاره د اتلانو په اړه:** ځواب ویونکو په دولتي ادارو کې پر ګڼو ستونزو ډېر تمرکز ونه کړ، خو دا په هر صورت څرګنده وه چې دا هغه بنسټونه ګڼل کېدل چې د ښځو لپاره د پام وړ بدلون لپاره یې ستر پوتنشیل درلود. د دولتي ادارو د ملاتړ لپاره اوږدمهال پروګرامونه د پام وړ درناوي او ملاتړ لامل کېږي او د نړیوالو تمویلوونکو لپاره باید کلیدي لومړیتوبونه وي.

توصیه شوی اقدام: باید ډاډ رامنځته شي چې د ښځو د ګډون د ملاتړ لپاره ټول پروګرامونه د دولت له نوښتونو سره تړلي او د پروګرام د تمویل له کړۍ د باندې دوام ته هم لومړیتوب ورکوي.

**د هغو افغان مؤسسو لپاره چې د ښځو ګډون ترویجوي**

۱. **په ټاکنو کې د ښځو د تصمیم نیونې په اړه:** ښځې د رایې ورکولو له صندوق سره په خپله پرېکړه نه کوي، بلکې افغان نارینه دا پرېکړه کوي چې چاته باید رایه ورکړل شي. هغوی په کور او ټولنه کې د ډله ییزې تصمیم نیونې د یوې پروسې په توګه پرېکړه کوي. له همدې کبله د ښځو د انتخاب موضوع چې چاته به رایه ورکوي د ډله ییزې تصمیم نیونې په برخه کې د هغوی پر اړتیا وړ فضا بدلېږي، یعنې کورنۍ، ټولنې، سیمه ییزې شوراګانې، یوازې همدومره که تر دې ډېر نه وي، لوی باور او بلفعل ورتیا ته اړتیا لري چې په خپلواکۍ د رایې ورکولو په غرفه کې د خپلې خوښې کاندید انتخاب کړي.

توصیه شوی اقدام: هغه افغان مؤسسې چې د ښځو ګډون ترویجوي له دې کبله چې ټولنو ته د باور پر بنسټ ولاړ لاسرسی لري، په ځانګړې موقف کې دي. هغوی دغه باور د ټولنو د هڅونې لپاره کارولی شي چې په سیمه ییزه کچه د تصمیم نیونې په برخه کې ښځو ته فضا پرانیزي، په ځانګړې ډول د مخکښو مثالونو پر مټ او د ښځینه کارکوونکو د ګډون له لارې چېرې یې چې امکان وي.

۲. **د مسلکي اړیکو او شبکو د جوړولو لپاره د ښځو د ملاتړ په اړه:** که دغه شبکې د ولسوالیو په کچه موکلین وي، که همکاران یا مدني ټولنه وي، د ښځو لپاره په ځانګړې ډول مهمې دي، ځکه دوی له هغې انزوا سره مبارزه کوي چې ښځې یې په عامه دفترونو کې تجربه کوي او د باصلاحیته موقفونو د ترلاسه کولو لپاره د ښځو د هڅو یو څه بنسټیز ملاتړ کولی شي. دوی دغه راز پر ځان باور او د ښځو د مذاکراتو د مهارتونو پراختیا ترویجوي، د بېلګې توګه، د تمویل له منابعو سره اړیکې، لکه نړیوالې مرستندویې مؤسسې، چې ښځې د خدماتو د وړاندې کولو او د خپلو ټولنو د نظر د بدلون جوګه کولی شي، چې دغه کار په خپل ذات کې د اغېز د پراختیا لپاره حیاتي دی.

توصیه شوی اقدام: د ښځو افغان موسسې کولی شي او غواړي چې په فعالانه ډول د هغو ښځو ملاتړ او له هغوی سره حساب وکړي چې په انتخابي موقفونو یا د رهبرۍ په نورو موقفونو کې دي. د موکلینو د کلینک لپاره غوښتنې چې پورته یې یادونه وشوه یوه داسې لاره کېدای شي چې موسسې کولی شي د ښځینه رهبرانو او د هغوی د موکلینو ترمنځ د پله رول ولوبوي او پر یوه وخت د دغو رهبرانو اغیزمن ملاتړ وکړي.

# ۲. منابع

Ballington, Julie, and Azza Karam. “Women in Parliament: Beyond Numbers.” Stockholm: International IDEA, 2005.

Bijelica, Jelena, and Rohullah Sorush. “Elections Conundrum (20): Women Candidates Going Against the Grain.” *Afghanistan Analysts Network*, 19 October 2018.

https://www.afghanistan-analysts.org/afghanistan-elections-conundrum-19-women-candidates-going-against-the-grain/

Chambers, Robert. *Rural Development: Putting the Last First*. New York: Longman, 1983.

Coburn, Noah. *Violence against Women in Afghan Elections*. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, forthcoming.

Coburn, Noah. *Bazaar Politics: Power and Pottery in an Afghan Market Town*. Palo Alto, CA: Stanford University Press, 2009.

Coburn, Noah, and Anna Larson. *Derailing Democracy in Afghanistan: Elections in an Unstable Political Landscape*. New York: Columbia University Press, 2014.

Cooke, Bill, and Uma Kothari. *Participation: The New Tyranny?*. London and New York: Zed Books, 2001.

Cornwall, Andrea, and Karen Brock. “What Do Buzzwords Do for Development Policy? A Critical Look at ‘Participation’, ‘Empowerment’ and ‘Poverty Reduction’.” *Third World Quarterly* 26, no. 7 (2005): 1043-1060.

Cornwall, Andrea, and Vera Schattan Coelho. *Spaces for Change? The Politics of Citizen Participation in New Democratic Arenas*. New York: Zed Books, 2006.

Dahlerup, Drude. *Women, Quotas and Politics*. New York: Routledge, 2006.

Dupree, Louis. “Afghanistan Continues Its Experiment in Democracy: The Thirteenth Parliament Is Elected.” *American Universities Fieldstaff Reports* 15, no. 3 (1971): 6.

Edwards, David B. *Caravan of Martyrs: Sacrifice and Suicide Bombing in Afghanistan*. Oakland, CA: University of California Press, 2017: 40.

Francheschet, Susan, Mona Lena Krook and Jennifer M. Piscopo (eds.). *The Impact of Gender Quotas*. Oxford and New York: Oxford University Press, 2012.

Kandiyoti, Deniz. *The Politics of Gender and Reconstruction in Afghanistan*. Geneva: UNRISD, 2005.

Larson, Anna. “More Legitimate, Less Fragile, Less Liberal? The Adoption and Adaptation of Elections in Afghanistan,” in Governance and Political Adaptation in Fragile States, edited by J. Lahai, K. Von Strokirch, H. Brasted, and H. Ware (eds.). London: Palgrave Macmillan, 2019.

Larson, Anna. *Women and Power: Mobilising around Afghanistan’s Elimination of Violence Against Women Law*. London: Overseas Development Institute, 2016.

Leal, Pablo Alejandro. “Participation: The Ascendency of a Buzzword in the Neo-Liberal Era.” *Development in Practice* 17, No. 4/5 (2007): 539-548.

Lemmon, Gayle Tzemach and Becky Allen. “Reforming Women’s Property Rights in Afghanistan.” Council on Foreign Relations, 5 September 2017. Available at: https://www.cfr.org/blog/reforming-womens-property-rights-afghanistan

Nnaemeka, Obioma. "Nego-Feminism: Theorizing, Practicing and Pruning Africa's Way." *Signs* 29, No. 2 (2004): 357-385.

Phillips, Anne. *The Politics of Presence*. Oxford: Oxford University Press, 1995.

Ruttig, Thomas and Martine Van Bijlert. "US-Taleban Talks: An Imminent Agreement Without Peace?" *Afghanistan Analysts Network*, 30 August 2019.

Shaw, Tom and Ihsanullah Ghafoori. "On Borrowed Time: The limits of informal credit for livelihood security in Herat, Afghanistan." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2019.

Siddique, Abubakar and Qadir Habib. "Protection for Women under Threat in Afghanistan," *Radio Free Europe Radio Liberty*, 24 June 2013. available at: https://www.rferl.org/a/afghanistan-women-gender-legislature-quota/25026221.html

Tapper, Nancy. *Bartered Brides: Politics, Gender and Marriage in an Afghan Tribal Society*. Cambridge: Cambridge University Press, 1991.

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA). *Injustice and Impunity: Mediation of Criminal Offences of Violence against Women*. Kabul: UNAMA, 2018.

Wordsworth, Anna. 2007. "A Matter of Interests: Gender and the Politics of Presence in Afghanistan's Wolesi Jirga." Kabul: AREU, 2007.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو يو دوامداره لوستونکي ياست، د AREU ليکچر يا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون يې کاروئ، يا يوازې په دې وروستيو کې له دغه ادارې سره بلد شوي ياست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پايلو د شريکولو طريقې و ارزوو. د نظرونو شريکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ايميل کول دي: areu@areu.org.af

يا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته يې ويلی شئ، خو په ممکنه ډول يو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړيکه نيسئ (يعنې د خپرونو، غونډو يا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو برېښنايي که چاپ شوې بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهيرونو يا پايلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې يا موضوع ګانې چې تاسو يې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې يا فعاليتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې يا لېوالتيا ډګر، دنده يا څېړنه، او دغه راز موقعيت؟

# د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری نوی خپرونی

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډیرې ئې د هارد کاپي(چاپی بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی ( مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څیړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سپتامبر ۲۰۲۰ | په افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون: موضوعي څېړنه | شکریه آزادمنش، احسان الله غفوری | √ | √ | جندر (جنسیت) | موضوعي څېړنه |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه: د پولو دواړو غاړو ته تولید او سوداګري او د نیمرزو پولې ته څېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې بې رول | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څېړنه |
| جولای ۲۰۲۰ | افغانستان کی له کاوید ۱۹ نه دجندر په هکله خبرداری | | | | XII: د کاوید ۱۹اغیزه پرهغو ښځو چی د کوکنارو له کرهنی سره تړاو لری | جندر |
| جولای ۲۰۲۰ | د قاطرانو او نقلیه وسایطو تګ راتګ: د پولی هاخوا تولید او سوداګری او دننګرها د سیاسی اقتصاد جوړښت | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څېړنه |
| جون ۲۰۲۰ | کله چې اوبه وچیږي: کله چې د افغانستان په سویل لویدیځه دښته کې اوبه وچیږی او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کیږي، څه باید وشی؟ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | توضیحی پاڼه |
| می ۲۰۲۰ | د هلمند خوړو زون: یوه خیالي بریا | شهلا متین | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| می ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکې لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| اپریل ۲۰۲۰ | کله چې اوبه ختمیږی: د سویل لویدیځ افغانستان د دښتو ظهور (او حتمی زوال) او پرکډوالی ، کوکنارو او ثبات بې اغیز | دیوید منسفیلد | | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تلفیقی څېړنه |
| اپریل ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکې لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۲۰ | په افغانستان کې ټکنالوژي او بشري مرسته: په ناامنه شرایطو کېد معلوماتو راټولولو لپاره له ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیسته | داکتر رودریګو مینه | | | ټولنیز ملاتړ | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۲۰ | آیا د افغانستان دولت د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمینځ په شخړه کې په بریالي ډول مداخله کولای شي؟ | داکتر انتونیو جیستوزی | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جنوری ۲۰۲۰ | مالیه: د دولت جوړولو لپاره اړین شرط، په افغانستان کې د مالیې سیستم ته یوه کتنه | داکتر سراج الدین ایثار | | | حکومتولي | د پالیسی نوټ |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کی د کوچیانو د میشتیدنی بهیرونه او پر شخړی در هغوی اغیزی | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۸ غبرګولې | لمر په دوو ګوتو نه پټیږي | ډویډ منسفلید | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه ادارې سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه ادارې سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمی د اوسیدونکو ترمنځ ښخړی | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کندیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتوکوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |

Afghanistan Country Office
UNOCA Compound, Jalalabad Road
Postbox n° 949
Kabul, AFGHANISTAN
0093 79 963 3235, 0093 70 773 7690
info.afghanistan@unwomen.org
afghanistan.unwomen.org
@unwomenafghan
@unwomenafghanistan

0093 79 960 8548
areu@areu.org.af
www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-49-5